407
11072

# ډرامه

## تاریخ، تنقید او فن

محمد افضل رضا

پبلشرز
عظیم پبلشنگ هاؤس، خیبر بازار پېښور

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ترون

زما د ګران اُستاد

ښاغلی مولانا عبدالقادر صاحب

( ډائرکټر پښتو اکیډیمي

صدر د پښتو شعبې د پېښور یونیورسټۍ)

په نوم

چه ما ته ئې د لیک چل وښودلو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# ډرامه

## تاریخ، تنقید او فن

محمد افضل رضا

پبلشرز
عظیم پبلشنگ هاؤس، خیبر بازار پشاور

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# فهرست

## اوله برخه



| شماره | عنوان | مخ |
| --- | --- | --- |
| ۱ | درامه څه ته وائي ؟ | ۷ |
| ۲ | د ډرامې تاریخ | ۱۹ |
| ۳ | دلامه په ناولیشلي هند کښې | ۳۲ |
| ۴ | ډرامه په سرحد کښې | ۳۸ |
| ۵ | پښتو ډرامه | ۴۰ |



## دوئمه برخه



| | | |
| --- | --- | --- |
| ۶ | د ډرامې فن | ۶۲ |
| ۷ | درې وحدتونه | ۸۳ |
| ۸ | اولجه ( تصادم ) | ۹۲ |
| ۹ | المیه او طربیه | ۹۵ |
| ۱۰ | د ډرامې جوړښت | ۹۸ |
| ۱۱ | پلاټ او ډرامه | ۱۰۹ |



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

| مخ | عنوان | شمارہ |
| --- | --- | --- |
| ۱۲۱ | د ډرامې په حقله يو څو نورې خبرې | ۱۲ |
| ۱۲۴ | رېډيائي ډرامه | ۱۳ |
| ۱۲۸ | نبه رېډيائي ډرامه | ۱۴ |
| ۱۲۹ | فيچر | ۱۵ |



Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

**ډرامه څۀ ته وائي** :- د ادب د دې ښکلې صنف دا نوم "ډراما" د یوناني ژبې تکي "ډراؤ" نه وتې دے۔ ډراؤ په یوناني ژبه کښې "عمل" ته وائي۔ ډراما او عمل د یو بل سره تړلې ځیزونه دي۔ کیدے شي چه په د غه وجه ډرامے ته ډراما ویلې شوي دي۔ ځکه چه د ډرامے بله معنیٰ د "پکولیبل" چه د پرومبئ معنے سره سمون خوري۔ غوره دا ده چه د ډرامے د تاریخ را سپړ دو نه اګهو د دې صنف دیځو پوهانو دیناګانے درج کړو۔

(۱) "د ژوند نقل ، د دود دستور آئینه او د رلینبتیتوالی یعنې د حقیقت عکاسئ ته ډرامه وئیلے شي"
یوناني لیکوال سیسرو (CICERO)[۱]

---

[۱] دي تھیوري آف ډراما تکول ص ۳۴ DRAMA IS A COPY

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۲) "ډراما يوه آئينه ده. چه فطرت پکښې منعکس کيږي."
هيوګو (HUGO) ۲ع

(۳) "موږ د ډراماڼي فن تعريف داسې کوو. چه دا د ټولو عناصرو مجموعه ده. چه د هغوی په مدد موږ ژوند په سټيج کښې پيش کوو. او د تماشګيرو د ولس سوو کتونکو ته د حقيقت يو نتت غوندې تصور ورکوو."
سارسي (SARCEY) ۳ع

---

of life, a mirror of custom, a reflection of truth.

۲ع دی تهيوری آف ډراما نکول ص 27

"Drama is a mirror in which nature is reflected."

۳ع دی تهيوری آف ډراما نکول ص 27

"We have defined dramatic art as the sum total by the aid of which, in the theatre we represent life and give to the twelve hundred people assembled the illusion of truth."

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۴) "په سټيج د واقعاتو ښودنه داسې کيږي لکه څنګه چه د دوئ پېښيدل پکار دي داسې نه لکه څنګه چه پېښ شوي دي."

هيډلن (HEDELIN) [ع۱]

(۵) "ډراما د حقيقت نقل نه دے. د فطرت پېښے دي"

کالرج (COLERIDGE) [ع۲]

(۶) (أ) "ټريجيډي (الميه) د يو داسے عمل (کردار) نقل او پېښے دي. چه هغه اهم او مکمل وي. او يو مناسب عظمت لورتيا (طوالت) لري. او په داسے ښکلي ژبه کښے ليکلے شوے وي. چه خوند کوي. ولے د دے په مختلفو حصو کښے په مختلفو ذريعو چه کوم د درمنے ويرے او د دهشت په ذريعه اثر اوکړي او (بيا) د هغے د دجے نه د پيدا شوؤ جذباتو او هيجاناتو صحت او اصلاح (هم) اوکړي"

ارسطو (ARISTOTLE) [ع۳]

---

ع۱ دی تھیوری آف ډراما. نکول ص 27

"The stage does not represent things as they have been but as they ought to be."

ع۲ دی تھیوری آف ډراما. نکول ص 26

"Drama is not a copy but an imitation of nature."

ع۳ {ع۴} کتاب الشعر. (Poetics) ترجمه د مولانا اسرائيل صاحب. ص 4، 15

(ب) "د طربیئ غرض دا دے چه بنیادم په کوم حالت کښے چه مونږ وبنو. د هغه نه ډیر ېریوتی (حالت کښے) اوښایو او د کمیڈئ غرض دا دے چه غوره اوښودے شی".

ارسطو (ARISTOTLE)[1]

---

(پاتے لرمخ ۹)

Tragedy is a representation of action which is serious complete in itself and of a certain limited length; it is expressed in speech made beautiful in different ways in different parts of the play; it is acted not merely recited; and by exciting pity and fear it gives a healthy outlet to such emotions."

"Tragedy means simply a drama which renders human life seriously, as contrasted with comedy, which renders it grotesquely."

(۷) "ډرامه د ژوند یو داسے په ترتیب جوړ کړی شوی نقشه ده چه د تماشګیر جذبات را ولړزوی"

(پرسیوال وائلډ PARCIVAL WILDE)

(۸) "دنیا ټوله یو مثال د یو سټیج ده. ټول سړی او ښځے لوبغاړی دی۔ دوئ په دے سټیج ځی راځی۔ او یو کس په خپل وخت کښې کار ورنه کوی۔"

ع[۱] (شکسپیر SHAKESPEARE)

---

"All the world's a stage, and all the men and women merely players; They have their exits and their entrances; and one man, in his time plays many parts." ع[۱]

ع[۲] داناتومی آف ډراما۔ بولټن ص 3

"There is an enormous difference between a play and any other form of literature. A play is not really a piece of literature for reading ............. It is literature

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(۹) "د ادب په بل یو صنف او په ډرامه کښې ډیر فرق دے.
اصل کښې د ادب یوه ټوټه لوبه (ډرامه) د لوستلو د
پاره نه دی.......... دا هغه ادب دے چه زموږ
په وړاندې ګرځي او خبرے کوی." [۲]
بولټن ( BOULTON )

(۱۰) "د ډرامے یا تمثیل اصلی منصب دا دے چه نظر ولګی.
او د دریو څلورو ګهنټو د پاره لوستونکی په دے مجبور
کړی. چه ګنی د ژوند یوه ټوټه د دوئ مخکښې ګډیږی."
سید عابد علی عابد [۳]

---

that walks and talks before our eyes."
"The anatomy of Drama"
By Boulton

[۳] اصول انتقاد ادبیات . سید عابد علی عابد .

" ڈرامے کا یا تمثیل کا اصل منصب یہ ہے. کہ فریب نظر پیدا
کرے. اور تین چار گھنٹوں کے لئے قارئین کو یہ سمجھنے پر مجبور کر
دے. گویا زندگی کا ایک ٹکڑا ان کے سامنے رقصاں
ہو گیا ہے."

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د پښتو ډراموستر لیکوال وائی چه :-

(۱۱) موږ د یو تام د تمدن تهذیب او ذهنی ارتقاء اندازه د هغه ملک د ډرامونه کولے شو"

حمزه شنواری[۱]

(۱۲) "د انسان ژوند یوه ډرامه ده۔ دا ډرامه د بابا آدم علیه السّلام او د حوا ابیٔ نه راشروع شوے ده۔ خدائے خبر دے چه کله پورے به پکښې بابونه پردے او ننداره بدلیږی۔ او کله به ختمیږی۔ خو دا خبره یقینی ده۔ چه دا ډرامه یوه درځ ختمیدونکی ده۔ انسان چه څنګه د خپل ځان په حقله سوچ او فکر کوی۔ ورسره ورسره د ډرامه هم څه په وړاندې روانه ده۔"

سمندر[۲]

(۱۳) "د یو مقصد د اظهار د پاره ډرامه ډیره مؤثره طریقه ده۔"

خلیق[۳]

---

۱۔ "قند مردان" ډرامه نمبر

۲۔ "قند مردان" ډرامه نمبر

۳۔ "قند" مردان ډرامه نمبر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ډراما چا څو د فطرت پېښې ګڼلي ـ چا تر نه د حقیقت
د عکاسۍ مراد واخستو. ولې د دې نه انکار نشي کیدې.
چه ډراما واقعي د ژوندون سره ډیر پوخ تړون لري.
دلیهتا خبره دا ده چه یو لیکوال چه د ادب په دائره
کښې خپل کوم تخلیق وړاندې کوي. نو هغه مجبور وي.
چه حقیقت به داسې خوندناکه طریقه اولس ته وړاندې
کړي. چه هغه انساني فطرت ډیر په خوښه قبول کړي.
د ناصح د سپور رسنخ نصیحت په مقابله کښې د یو شاعر
د خولې د تې سوي شعر د نه دَ یو حساس زړه پیام
خپله ځان ته راګرزوي. نو دا نه شو ویلې، چه کټې
د مقرر چه حقیقي (FACTUAL) دنیا کوي، په مقابله
کښې لیکوال د ژوند په نورو لارو ګډ رو سرشي. نه
هغه هغه څه وائي، لیکي او اولس ته ئې وړاندې کوي چه
که چرې یې حقیقت نه وي نو د حقیقت مطابق
(REALISTIC) خو ضرور وي. دا هغه مقام دې چه
یو لیکوال د حقیقت پېښې راواخلي. اصل کښې نقل یا پېښې
کول د ماشوم والي او ځنیوالي نه د بنیادم فطرت او
طبیعت دې. او (هم) په دغه هغه د نورو جاندارو
نه غوره دې. چه هغه د ټولو نه زیات پېښې مار او
نقال دې. او هم د دې عادت په ذریعه هغه
د ټولو نه اولنۍ زده کړه کوي. دغه شان ټول بنیادم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تل رتًا به نقل او پېښو خوشحالیږي۔ د مصورۍ د فن د نمونو په لیدو چه مونږ څه محسوسوو۔ د هغې نه دا خبره صفا څرګندہ دہ۔ ځکه چه د غه څیزونو ته مونږ ډیر د زړهٔ نه ګورو۔ نو چه نقل یا تصویر څومره صحیح او پوره وي۔ هغومره خوند زیات راکوي۔ ؏

د لته بنیادي سوال دا راپورته کیږي۔ چه ډراما په ادب کښې ولې راګډه شوہ۔ حقیقت کښې دا ادب دا ستر عمارت د تخلیقي ذوق په دریو ځنو ستنو ولاړ دے۔
(۱) د قِصه وئیلو ذوق۔ (۲) د ځان ښئیلو ذوق۔
(۳) د محفل ښائستہ کولو ذوق۔ په ادبي تخلیقاتو کښې د ټولونه زاړهٔ هغہ منظومے رومانوي قیصے او داستانونہ دي۔ چه په اصطلاح کښې ورته حماسه ملّي (EPICS) وئیلے شي۔ د دے وجه ښکارہ دہ۔ هغہ دا چه انسان ته خدائے پاک د قیصے آوریدو شوق ورکړے دے۔ ظاهرہ دہ چه جرته یو څیز پکار وي۔ هغلته به د هغہ څیز د بیاموندلو اسباب هم پیدا کړے شي۔ انسان د داستانونو اوریدلو شوق لرو۔ د غه شوق داستان ګو راپیدا کړل۔ کیدے شي چه اول اول دا سے شوي وي چه بوډا کانو د ځوانانو ویښه کرَمولو په غرض د خپل نسل یا نعل یا د خپل قوم مشهورے د مرانے نه ډکے قیصے اوَرَولي

؏ کتاب الشعر: ترجمه د مولانا اسرائیل صاحبؒ ص۵۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وی. ورسره ورسره به دوئ د خان نه هم څه وئیلی وی. چه خوند ئے سیوا کړی. لازمًا چه خلق به وُزګار وو. یو ځائ به کښیناستو او دغه قِصے به وئیلے کیدے. او اَوُریدے شوے. رو رو دغه کار شیرین زبانو او خوږ ژبانو، خوش آوازو خلقو تر لاسو کړو. په دغو داستانونو او قیصو کښے به ئے د مرلنے او تورزنئ سره سره د مینے محبت بیان هم کړے وی. دغه شان داستانونو او قِصو ترقی وُکړه. په مختلفو زمانو کښے د قیصو وئیلو او اوریدو ذوق و ده کوله. مونږ ته ئے ډیر مثالونه پاتے دی. د فردوسی هغه داستانونه چه د ایران عظمت په کښے ځلیږی. د هندوانو هغه مذهبی داستانونه چه د هغوی د زړه د واقعاتو پوره تاریخ دے. نن هم موجود دی. د انګریزئ شاعر ملټن (MILTON) هم د دے قسم حماسه ملّی (EPIC) غوره نمونه (PARADISE LOST) پریښے دی دغه -

د انګریزی ژبے دیوبل ساعر آرنلډ لیکلے نظم رستم او سهراب هم په دے لړ کښے د ذکر وړ دے. که په ژور نظر وُکورو. نو د مغرب په نسبت مشرق کښے دے فن ډیره ترقی کړی ده. د سنسکرت ژبے مشهور افسانے کتها سرت ساګر لوئے لوئے داستانونه او رومانوی قِصے نن هم د قِصے د تیرشوی وخت په لوریښا کواه دی.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په زړه فارسۍ ژبه کښې هزار داستان د رومانونو او داستانونو نه ډک دے." ځنې نقادان خولا دا هم وائي چه د الف ليله زاړه داستانونه د فارسۍ نه عربۍ کښې ترجمه شو. او د عربو مصنفينو د خپل ثقافت رنګ روغن ورکړو او خپل ئې کړو." ع۱

په ادبي تخليقاتو کښې دويم لوئې محرک ځينو د ځان ښيلو ذوق دے. چه په اصطلاح کښې ذوق خودنمائي بللے شي. اصل کښې انسان غواړي چه دے د خپلے غم ښادۍ قيصے نورو ته واوروي. او هغوئ د ځان سره په دے کښې شريک کړي. که نور څه نه وي نو په دے کارے څه ناڅه د زړه تسلي وشي. ولے دا مله کيدے شي چه دے ځان ته لوستونکي يا اوريدونکي (READING OR LISTENING MINDS) پيدا کړے شي. بيشکه چه انساني فطرت د يو بل سره په دے لړ کښې لوئے تړون او سمون لري. ولے بيا هم په خپلو ګوليمو د بل ليمے او ګوګل څه ناڅه هنر غواړي. په دے حقله داستانونے لوئے کار کړے. د دے ذوق د پاره لاره صفا کړي. څه رنګ چه يو شاعر يا اديب د خپل دے ذوق پوره کولو د پاره څه ليکي نو هغه مال هغه خپل ځان د ګرد دے نړۍ مرکزي نقطه ګڼړي او د ګير چاپيره حالاتو مطالعه کوي. په غم ئے غمجن کيږي او په خوشحالۍ ئے خوشحاليږي. او بيا د الفاظو په جامه کښې هغه څه خلقو ته وړاندے کوي. چا کوم ئے د نړۍ د حالاتو نه اخذ کړي وي

ع۱ اصول انتقاد ادبيات: سيد عابد علي عابد

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا هغه مقام دے. چه په شاعرادیب او یو عام سړي کښې فرق پیدا کړي. هغه دا چه شاعر ادیب ورسره خپلې تمنا گانې، غوښتنې غمونه او خوشحالئ هم ورکډ کړي. او دا هر څه ئې په خپلو جذبو کښې داسې نغښتي وي. چه ادبي تخلیقاتو ته ستر مقام ورېښي د شعر او نثر دواړو لیک لکه غزلې، قصیدې، رباعیانې مضمونو مقالې د دے ذوق د پوره کولو بنکلي وسیلې دي.

په ادبي تخلیقاتو کښې دویم لوئ محرک څېزړد محفل بنائسته کولو ذوق دے. هر کله چه انسان د خپل ذات د کیفیتونو تجزیه کړي. او خپلې تجربې او واقعات بیانوي. نو هغه ته داسې محسوسیږي. چه په دد څه تیر شوي دي. که چرے په بل چا هم ورته ټولنې تیریدے. ولې ترون د نورو انسانانو د ژوند سره ضرور لري. د ده زړه غواړي چه د خپلو افکارو سره سره هغه څه هم بیان کړي. چه د نورو خلقو د تجرباتو او وارداتو او افکارو تشریح هم کوي. ځکه چه انسان ته مهذب حیوان وئیلے شي. (SOCIAL ANIMAL) هغه غواړي چه خپل غم ښادئ کښې دِ نور هم شریک کړي. خپله چه پرے څه تیر شوي دي، نورو ته ئې داسے بیانول غواړي. چه د هغوئ په زړونو هم اثر دکړي. د غه جذبه ده چه دے مجبور کړي چه د نورو خلقو د ژوند خاکے هم راکاږي. او د انساني فطرت خپله کښې ازلي ترون او خپلولي څرګندہ کړي. د انسان د زړهٔ د غه آرزوئینه چه د بل د ژوند خاکه جوړه کړي. او د هغه کردار

په کښې څرګند کړي. د محفل د بنا ښسته کولو د ذوق نه راولاړېږي. د دې ذوق نه يو غوره صنعت چه په ادب کښې راوځېږېدو. هغه ده ډراما يا تمثيل. دغه وجه ده چه ډرامه په ادبي تخليقاتو کښې ورګډه شوه. ادب د ژوند د عکاسۍ د ډېرُ نوم دے. او ډراما په دے حقله د ادب د نورو اصنافو نه هيڅرے روستونه ده پاتے. نو ځکه که په ادب کښې ډرامے ته غوره او ستر ځائے ورکړے شي. نو نامناسبه به نۀ وي.

## د ډرامے تاريخ

د ډرامے د فن ابتدا د يونان په زمکه وَشوه. اصل کښې يونان کښې شاعرۍ ډيره زياته ترقي کړې ده. او ډرامے به يوناني ادب او خصوصًا شاعرۍ کښې لوئے مقام لرلو. دغه وجه ده چه مونږ د ډرامے تاريخ لټوو. نو د يوناني ادب" هغه اعلیٰ دور ته ورسو. چه کوم کښې ارسټوفينيز (ARISTOPHANES) ډرامے "چينډے (FROGS) نه د شاعرۍ د ژبے او بيان په حقله د ډرامے دليکوال د تنقيدي شعور پته لګی".[1]

د شعر و شاعرۍ اصول چه په اعلیٰ پيمانه چا وَ سنجولو هغه افلاطون دو. چه شاعري "نقل" ګڼي. هغه وائي چه دا زمونږ دنيا يو عالم سفلي ده. او بل يو عالم مثال شته چه نقلونه ئے مونږ د لته وينو. ځکه ئے په خپل رياست کښې شاعرانو

---

[1] آر. اے سکاٹ جيمس. څلورم باب:
*The making of litwratrre*

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ته هيڅ ځائے نه ورکولو۔ چه دے شاعری د نقل نقل کنړی، او شاعران د هغهٔ په خيال د نقل نقل کوی۔ هغه وائی چه دا د سوری سورے دے۔ او د اصل نه ډير لرے دے۔ د دهٔ نه پس دارسطو وار راغے۔ هغه دا نقل خو کنړی ولے د نقل نقل ورته نه وائی۔ بس دغه تدروائی چه شاعری د تکو په ذريعه د انسانانو دعملونو او کاروئو نقالی کوی۔ د ډرامے په صنف باندے د ټولونه زور کتاب دارسطو "POETICS" دے۔ چه په ډرامائی شاعرئ تريجيډی (الميه) کاميډی (طربيه) باندے ژور بحث ليکنے شوے دے۔ دارسطو په نزد شاعری او موسيقی نقل دے۔ هسے خو ارسطو د ډرامے په قسمونو ترخه حده مکمل او ژور بحث کړے دے۔ خو يُو ځائے يا بيل بيل تعريفونه ئے نه دی ليکلی۔ او د ډرامو د قسمونو په حقله ئے دومره وئيلی دی چه" دا په دريُو لحاظونو د يو بل نه جدا دی۔ او هغه دا چه د دوئ د نقل ذريعے بيلے بيلے دی۔ موضوع ئے جدا جدا ده او طريقه ئے مختلفے دی"۔ [1]

دَ نقل د ذريعو په حقله ليکی چه څنگه نقلونه چه د بانسرئ او چنګ يا د موسيقئ د نورو آلاتو په ذريعه کيږی۔ دغو کښے نغمه او موزونيت استعماليږی۔ نڅا کښے يَواځے موزونيت دی۔ رزميه شاعری (EPICS) کښے د تکو

---

[1] بوطيقا: ترجمه د عزيز احمد۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په ذریعه نقل کیږي. ولې المیه او طربیه کښې د نقل د رې داره ذریعې بیلې بیلې دي. د نقل موضوع انساني افعال او کارونه دي. څکه خو په دې نقل کښې موثر انسان یا خو هو بهو هغه شان ښودلې شو. چه څنګه وي. یا د دې نه ښه یا بریوتي انداز کښې. دغه وجه ده چه المیه د طربیې په نسبت زیاته غوره ده. ولې چه طربیه کښې انسان د خپل اصلي حالت نه بریوتے ښودلے شي. او المیه کښې د دې نه غوره ښودلے شي. طریقې ئې څنګه مختلفې دي. هغه داسې چه اوله طریقه خو ئې بیانیه (NARRATIVE) ده. دوئمه طریقه ئې داده. چه ټول کردارونه داسې پیش کولے شي چه حقیقي ښکاري. د ارسطو په خیال د ډرامې درې بنیادي عناصر دي. ۱ موزونیت، نغمه او نظم. ۲ دَ انساني کارونو نقل دِ دي چه ښهٔ وي که بد خو چه هم هغه شان وُ ښودلے شي. ۳ د بیانیه په مقابله کښې د کردارونو په ذریعه خبرې اترې او عمل وُ ښودلے شي.

که ډراما واقعي د ژوند نقل او عکاسي وُ ګڼړو. نو په ریښتیا معنو کښې مخلص ډراما نګار هغه دے. چه په سټیج داسې حالات او واقعات پیش کړي. چه حقیقت کښې پیښ شوي دي. یا کم نه کم د دومره خو دِ ضرور وي. چه د ژوند سره څه ناڅه تړون او سمون لري. لکه څنګه چه یو مصوّر د تصویر جوړولو په وخت د حقیقت نه مخ نه شي اړولے

چه څه يې وړاندې وي. يا ذهن کښې يې وي، هوبهو د هغه څيز عکاسي کوي. د غه شان پۀ ډرامه نګار هم د ژوند د پوې نهوښې عکاسي کولو په وخت په حقيقت سترګې نشي پټولې. بې شکه چه د ارسطو د وينا نه دا معلوميږي چه آيا دغه نقالي دِ هو بهو د حقيقت وي يا د بل څۀ. خو هر کله چه هغه دا اووائي چه المیه يوه غوره نقالي ده. او طربيه د حقيقي او رلينبتوني خلقو په مقابله کښې د پړيوتي خلقو نقل دے. نو دا خبره د اکې شي چه نقل د باره عم د حقيقت لمن رانيول غوره او سودمن دي. ترکومې چه د ډرامې د مقصديت تعلق دے. ډراما نګار هم هله قلم پورته کوي. چه وړاندې يې څه مقصد وي. د خپل مقصد د څرګندولو د پاره هغه د ژوند د مختلفو حادثو او حالاتو نه ځان ته څۀ برخې خوښې کړي. او ځاني تخيل ورسره دا سې ګډ کړي، چه د تخليق پۀ شکل کښې د ژوند هغه حادثه يا واقعه يوه ښکلې فن پاره معلوميږي. دغه د ژوند نه څه موضوع اخستل، ورسره خپل تخيل ورګډول او بيا يې قلم ته سپارل داسې چه د يو فنکار د پاره د فني پارې په جوړولو کښې ډير د زړۀ چاوډون کار دے.

ډرامه کله شروع شوه. د دې دا بتدا صحيح وخت د ډرامې د تاريخ په پاڼړو کښې نشته. ولې بيا هم د ومره معلوميږي. چه" د ما قبل التاريخ زمانې قِصه د يونګو سندرګاړو

نڅو یانو او بازیګرو د ناټک مواد په خپلو پښتو کښې ګډ کړے دے ۔ خو په یقین سره څوک لښی و نه ښیلے ۔ د مصر د اثارو نه ثابته ده ۔ چه په هغه ملک کښې ناټک دوه زره (یا کیدے شی چه درے زره) کاله قبل مسیح موجود وو ۔ ولے چه افونو نریبت چه کوم ناټک د سیکوسترس ثالث (۱۸۸۷-۱۸۴۹ ق م) په مخکښې پیش کړے وو ۔ هغه د زاړهٔ مواد نه جوړ کړے شوے وو ۔ په یونان کښې د ناټک ابتداء په اووم صدئ قبل مسیح کښې شوے ده ۔ په هندوستان کښې دَ ناټک ابتداء په قبل مسیح زمانے کښې شوے ده ۔ او د ښن نه دوه زره کاله اول په ډرامے د دسره مواد موجو د وو ۔ چه د هغه وخت عالم بهرتا د ډرامے په علم یو کتاب لیکلے دے ؛ ۱

د پښتو ژبے یو بل ستر لیکوال چه " د ډرامے او ناټک کومه نقشه چه زموږ په ذهن کښې ده ۔ د هغې باقاعده وجود او شروعات پینځه سوه کاله ق ۔ م کښې شوی دی ۔ او دا د یونانی ادبیاتو کارنامه ده ۔ ړومبنئ ډرامه یو یُونانی لیکونکی اسکائی لس لیکلے ده ۔ دا یُونانی ډرامه چه نوم ئے " دی سپلی اینټ (THE SUPPLIANT ) دو ۔ د یونان لو یه ښار یه ایتهنز کښې سټیج کړے شوی وه ۔ اسکائی لس نه دروستو چه کومو

---

۱ عقاب خټک " ناټک " فن مردان ډرامه نمبر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ډرامه لیکونکو ډراماٸ ادب ته څه بخښنه کړے دګا. هغه یونانی ادیبان "سوفوکلیز" "یوری پډیز" او "ارستو فینز" دی. دیونانی ډراما لیکونکو په حقله داخبره لا پریکړے شوے نه ده. چه "اسکائی لس" ورومبیٸ ډرامه لیکلے ده؟ ځکه چه دا ډرامه د ډرامے روایتی موادو نه دومره ډکه ده چه لکه ډیره ترقی یافته ډرامه وی. دے ډرامه کښے د ډرامے فن خپل عبوری دور په لهیے درجه په درجه تیر کړے دے. او چه "تړ سکاٸی لس پورے رسیدلے دے. نو بنه ښیخله شوے وه. نو "دسکاٸی لس" ډرامه دومره ترقی یافته وه. نو دالښی کیدے. چه یونان کښی دینه وړاندے ډرامے سره بلد نه وو. ځکه به د یونان زور تهذیب او کلچر کښے د ډرامے خالي ازومر و وی.

د ډرامو د لرغونتوب په حقله د تاریخ په لښون دا هم څرګندیږی. چه د یونان نه علاوه زور مصر کښے د یوے ډرامے نخښے موندلے شوے دی. چه نامه ئے "ایبے ډوس" (ABYDOS) ده. او د یو لوٸے امیر "اوسی رس" د مرګ په تقریب کښے ښودلے شوے وه. او د دغے زمانه د حضرت مسیح نه درے لکه کاله مخکښے ده هم دا ډرامه بل ځل (۹م ۱۸- ۱۸۸۷ ق م کښے یو سری اخرلو فزتپ ترمیم و اضافے سره "سی سوس ترس سوم" [1] په دربار کښے پیش کړی ده.

[1] دا نامه پورتنی لیکوال "سیکوسترس" ښودلے وه. او د غه شان ئے د بیش کوونکی نوم اخونو فریتپ ښودلے دے. کیدے شی چه دا فرق د دوارو لیکوالو د تکو د مجبوداختلاف نه پیدا شوے وی. زما په خیال د دویم لیکوال نامے زیاتے معتبرے دی.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خوسره د دے ځنې نقادان په شک کښې دی چه کنی
د" ایبے دوس" ډرامه وه که نه. دا د ډرامے په
کندی کښې شاملیدے شی او که نه. خو دا منلے شوے ده. چه
په یونان کښې د ډرامے ورومبنی شکل اولسی ګډاګانے او د
سندرو مجلسونه وو. دا ګډا او سندرې مجلسونه د دیوتاګانو
د عبادت او خوشنودئ د پاره وو. یونانی دیوتا" ډائیونی سس"
ډیر لوئ دیوتا وو. د ده په عرس یا کلیزے بانډې به دیونانی
علم الاصنام' قیصو او مذهبی روایاتو د ګډا سندرو او اولسی
رسمونو په شکل کښې چه په کوم ډول سره وړاندې کول هغه
د ډرامے ډول وو. او یونان کښې څه حده پورے هم دا زمانه
دَ ډرامے ورومبئ زمانه وه" [1]

دَ پورتنو اقتباساتو په رڼا کښې مونږ دا ویلے شو. چه
د ډرامے ابتدا او باقاعده ابتدا د یونان په زمکه وُشوه.
باقاعده ابتدا رم ځکه اووے چه مصر کښې هم د ډرامے
زاړهٔ آثار څرګند شوی دی. ولے" نقادانو د مصر د پوړونه
زَړه ډرامه ایبے دوس" ABYDOS " د ډرامے په کندی کښې
شاملولو په حقله لا څه غوتپه فیصله نه ده کړې، که مونږ
دا فرض هم وکړو چه د ډرامے ابتدا د مصر په زمکه شوی
ده. ولے د غه فن چه په باقاعده شکل کښې مونږ چرته
دبینو. نو د تاریخ پاڼړے مو په دے سلسله کښې پوره پوره

---

[1] رضا همدانی. تنل مردان ډرامه نمبر.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مرسته کوی چه هغه د یونان زمکه ده. چه د ډرامے فن په کښې وزیږیدو او وده ئے وکړه. د لته د لوستونکو زړهٔ کښې داخیال راولاړشي. چه مصنف، شاعر یا اداکار کښې زړتي کله راغې. چه وراندې به داهرڅه یوکس کولو. د یونان په پینهو ښهرو، مجلسونو او ګډ اکانو وخت تیریدو. او یو وخت داسے راغې. چه شاعر به د دیوتا ستائینه نظم کښې یا د ډرامے او او بیرا په شکل کښې کوله. او خوش اوازو ویونکو به دغه ستائینه کوله. اداکارانو کردارونه خپل کړل. او کرداری شکل او شباهت جوړ ول ئے زده کړل. دغه ته به ئے تمثیل وئیلو. د ډراماٌ لوازماتو او کردارونو په اصولٌ چه کوم پرومبئ یونانی ډراما نګار عمل کړے دے. د هغه نامه " تهس پس " ده چه ۵٦۰ ق م خوا وُشا کښې ئے ایتهنز ښار کښې د خپلو ډرامو نمائش کړے وو. او الغامونه ئے اخستي وو. د دے په کتونکو او لیکوالو کښې هم د مقابلے کولو ماده پیدا شوه. نتیجه ئے داشوه چه د ډرامے فن ترقی وکړه. او د حقیقت سره اوږه په اوږه روانه شوه. د برغ تک په صورت کښې " کوثر یوسی " چه انهٔ شله ۱٦۰ ډرامے ئے لیکلي دی خپلو تمثیلونو کښې ډیر ادلون بدلون راوستو. " براتي ناس " ډرامے د توقو وشتو او طنز و مزاح نمونے وګرځیدے په دغه لړ کښې " فزی کوس " نامه د ذکر وړه ده. چه د سرو سره ئے د ښځو تصویری مخونه ( M A S K S ) هم په ستیج

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

راښکاره کړل۔ په نورو ټکو کښې دا چه هغه کے چه د زمانې د مخونو په ستيج محسوسيدو، دهٔ پوره کړو۔ په دغه دور کښے به عمومًا د ډرامے پلاټ څه وو ؟ د دے اندازه مونږ د دغه دور د يو کاميابے ډرامے SUPPLIANT نه لګولے شو۔ دا ډراما سکائی لس ليکلی ده۔ په دغه ډراما کښے د ظالم زور زياتے او د مظلوم کمزوری ښودلی شوی ده۔ تيصه سټ د هغه وخت د علم الاصنام سره ډير تعلق لری۔ اصل کښے د يونان مذهبی رسوماتو کښے به هم ډرامے پيش کيدے شوے۔ د يونانی ډرامو دعروج په دغه دور کښے سکائی لس د ټولو نه اوچت مقام لری۔ مشهوره ده چه ده درے نيم سوه ډرامے ليکلی دے۔ خو په هغو کښے صرف (ORESTEIA) پيامونده شی۔ د نورو درک نه لګی۔ په پنځمه صدئ کښے د يونان دارالخلافه ايتهنز د علومو مرکز ګرځيدلے شو۔ معاشره ټوله د آرټ عاشقه وه۔ د خيال آزادی تر ډيره پورے وه۔ چه په مذهبی معاملو او رسمونو به هم خلقو تنقيد کولو۔ سفوکليز په دے حقله خپلو ډرامو کښے ډيره څه پيش کړی دی۔ ويلے شی۔ چه د دے ړومبے ډراما ليکونکے وو۔ چه د ستيج د اصولو نه واقف وو۔ سکائی لس د مذهب په رڼا کښے د انسان جاج اخستے دے ولے سيفوکليز انسان د معاشرے يو غوره فرد ګڼړی۔ هغه د مذهب نه ربړن په انسان مئين وو۔ د هغه په نزد انسان د مذهب نه مجبور نه دے۔ د سيفوکليز په ړومبنو ډرامو کښے (ICHNEUTOE

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ډیره مشهوره ده ـ هسے خو سیفوکلیز څه د پاسه شپږ شله ډرامے (المیے) لیکلی دی ـ ولے په دے تولو کښے په ډرامائی لوازماتو پوره" اجاکس" ده ـ د دے نه علاوه د ده لیکلی" واان تکونی" "کنگ ایډی پس" هم د یاد جوګه دی ـ عن تردے چه "د کنگ ایډی پس" ستائینه ارسطو هم کړے ده ـ

ارستوفینیز (ARISTOPHINES) د یونانی ژبے د طربیه ډرامو مشهور لیکوال ګڼړلے شی ـ دے د افلاطون همعصر وو ـ ځلور پنځوس خو اوګشا کامیډیانے (طربیے) ئے لیکلے دی ـ اوس ئے صرف یولس ډرامے بیاموندے شی ـ دغه ډرامو کښے د ایتهنز د شپږ دیرشو کلونو د خارجی او داخلی واقعاتو ذکر دے ـ الیستی داماس (ASTYDAMAS) ایپی کارمس (EPICARMUS) تهیوډک تهیز (THEODECTES) تموتینس (TIMOTHENS) ډی کابیوج نیز (DICAEOGENES) فارمس (PHORMIS) فلاکسی لنس (PHILOXENUS) کارسی لنس (CARCINUS) کریتیس (CRATES) کرمون (CHAERMON) د یونان مشهور ډراما لیکونکی وو ـ په دغو کښے ګڼړو لیکوالو المیے لیکلی دی ـ د یونان د المیے دور تر یوری پیړیز پورے وو ـ د یوری پیړیز نه روستو یونان کښے طربیے (COMEDY) ترقی وکړه ـ ای ـ الیس ـ او ـ ایکاتهون د غه دور کښے د ډرامو په لیکوالو کښے لوئے نوم پیدا کړو ـ افی جینیا (IPHIGENIA) الکترا (ELECTRA) انتیګون (ANTIGONE) داسے عنوانات وو

ه

چه کنړو ډراما لیکونکو پرے ډرامے لیکلی دی۔ ایجی اس (AEGIUS) ایچی لس (ACHILLES) پینډارس (PINDARUS) کالی پی ډیز (CALLIPIDES) می نس کس (MYNUSCUS) میروپ (MEROPE) مینالیپے (MENALIPPE) مشهور کردارونه پوسون (PAUSON) پالی گناټس (POLYGNOTUS) زیوکسس (ZEUKIS) مشهور نقاشان او مصوران او سوسس ترانس (SOSISTRATUS) مشهور یونانی قصه گو دی۔ چه ارسطوئے (POETICS) کښے ذکر کړے دے۔ د دغه دور د کلاسیک ډرامو په حقله د پښتو ژبے یو ستر لیکوال لیکی چه " د کلاسیک ډرامو بعضو امتیازی خصوصیات هم دی۔ چه هغه ډرامه د قصه گوئے د نورو حقیقی ځانگونه بیلوله۔ په دغه خصوصیاتو کښے (PROLOGUE) چه یو قسم پیژندگلوئے بللے شو (EPILOGUE) تتمه (SOLILOQUY) خودکلامی (ASIDES) لېنی شا وینا او کورس (CHORUS) ډیرا اهمیت لری۔ خو مره چه سټیج ترقی کوله د دے حیلو نه حاجت کمیدو۔ عن چه سینما او ټیلی ویژن هم د دغه حاجت ختم کړو۔ او نن بنه کامیابے ډرامے بغیر د دغه حیلو نه لیکلے شی "۱ ـ

ورانده د دے نه چه مونږ " د ډرامے تاریخ د هند په زمکه " را وسپړو۔ غوره داده چه د تهیټر په حقله د یو څو بلے خبرے ذکر وشی۔ هغه دا چه عیسایانو مبلغینو او کریسچین نادرز

---

۱ ـ ډرامه د فن په لحاظ۔ ایاز داؤدزے۔ قند مردان ۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د تثلیث پرستۍ د شروع نه تهیټر ته بد د یُل او مخالفت ئې وکړو. دلے څه وخت چه تثلیث پرستی کمه شوه. د دین ځلے بے دینۍ او د بنوا خلاقو ځائے بد اخلاقۍ ونیو. پو پادریانو د مشرکانو طریقه اختیار کړے. صرف ټکوته کښیناستل "ډهولی جی سس" منونکی رو رو د تهیټر ادا کاران شو. خپل تقدس او لوئے والے ئے ظاهر ولو. خو آخر ئے د عیبونو نه پرده پورته شوه. لنډه دا چه د تهیټر په شروع کولو او وده ورکولو کښې د داسے خلقو هم لوئے لاس دے. د تثلیث پرستۍ نه وړاندې یونان او روم کښې ستیج ښه ترقی کړې وه. ایتهنز د دنیا روښنبار وو. چه تهیټر پکښې قائم شو. او په فنون لطیفه ئې کښې زیاته غوره کټرلے شو. د سیاسی او قانونی خلقو په نسبت د ډرامو دلیکوالو قدر ډیر وو. نن هم ارسټوفینیز (ARISTOPHINES) یوری پیډیز (EURIPIDES) او سوفوکلس (SOPHOCLES) دوئ نامے ډیر په قدر اخستے شی. په روم کښې خو اول اول د ډراما ئی آرټ هیڅ قدر نه وو. خو چه څنګه د مذهب زور کمیدو. لاطینی ستیج رنګین کیدو. عن تر دے چه ډیر زر ئے تر نه لکه د یونانیانو د عیاشۍ اډه جوړه کړه.

نن هم اټلی، فرانس، جرمن، او انګلستان بیا د تهیټر په تکنیک کښې نوی نوی څیزونه پیدا کوی. او ملکی ډرامے لیکونکی ډیر د دولت او عزت بیاموی. اټلی زیرک اداکاران پیدا کړل. او ښائسته ښائسته تهیټرونه ئے جوړ کړل. فرانسیسی ستیج

د هر قسم بنالشت لري. جرمني دا سے ډرامے سټیج کړے چه
بې حیایئ به تر نه هم شرمیږي. د هغوئ ( د تهیټر) خراب
اثرات په ټول یورپ خوارهٔ شو. البته انګلستان لا دا سے
قدم نه دے پورته کړے. او په تقلید ئے صبر وکړو. کیدے
شي چه د دے وجه د حکومت سختي او سخت قوانین وی.
چه د بد اخلاقئ او بد چلنئ لارے ئے بندے کړي دي. ع۱

د رومیانو د تهیټر په حقله هورلیس لیکي چه "د دوئ
تعداد لږ وو. عقلمند وو. مذهب پرست وو. عاجز طبع
وو. ترکوے چه د دوئ دغه حال وو. د دوئ په ملک
کښے تهیټر ترقي ونکړه. او د امثال د دنیا د هر ملک دے.
د قومیت تخیل، د اولسی ژوند نزالقض او د مستقل مزاجئ
سره سره جسماني او دماغي وده ___ چه په یو قوم کښے
دا خبرے وي تهیټر هغلته قدم نه شي کینبودے ___
"د ډرامے تاریخ لیکونکي دا لیکي چه رومیان هم لکه د یونو
قوم د تهیټر نه خبر نه وو. خو چه کله د ایتهنز او د روم
خلق د ډیر دولت له کبله په عیش معاش اخته شو. سټیج
بنکاره شو. آرام طلبي پیدا شوه. د مذهب اثارتت شو.
خلقو خدائی احکام پریښودل. او دغه وخت د تهیټر
د عروج وو." ع۲

---

ع۱، ع۲ اردو تهیټر: ډاکټر عبدالحکیم نامي. ص 36

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خیر دا خبره ځان ته دَه چه استیج د تفریح ذریعه دَه او که نه. د اخلاقو د جوړښت او ښودنې وسیله دَه او که نه. هسې خو شفیټسبری (SHAFTSBURY) دا د تفریح ذریعه مني ولې روسو (ROUSSEAU) خو هډو د دې د افادیت او غوره والي نه منکر دے. ګیرک (GARRICK) انګریزانو ته د اخلاقي تعلیم ورکولو د پاره سټیج استعمال کړے وو. ولې زړے دا اراده پر لېښودَه. ځکه چه هغه پوهه شو. چه د سټیج په ذریعه خو نه اخلاق ښهٔ کیدے شي. او نه د ډرامو په ذریعه دَ اخلاقو اصلاح ممکنه دَه. سټیج دومره کار کوي. چه د انسان جذبات را ولړزوي. انقلاب پېښې راولي. او روح بے لاره کړي. دګیرک د دے خبرے تصدیق زمونږ د موجوده دور سنیماګانے کوي. چه د تعمیر په ځائے د تخریب او د ودانئ په ځائے د ورانئ نتیجے تر نه اخستے شي. که په سټیج او فلمونو د اخلاقو اصلاح ممکنه وے. نو بکار دَه چه ننن د نړئ په یو ګوټ کښے د بد اخلاقئ نوم قدم نه وے. ولے چه په سټیج یا فلم کښے تقریباً په هره زمکه د اخلاقو تعلیم هم ورکولے شي. سره د دے هم د بد اخلاقئ رفتار د ورانړ په نسبت نور هم کړندے شو.

**ډرامه په نادلیشلي هند کښے** مونږ چه د نادلیشلي هند د تاریخ جاج اخلو. نو دا معلومیږي چه" نادلیشلي هند کښے

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د هند والو د حکومت په زمانه کښې د چندر گپت موریه د حکومت دور زرین گڼلے شي. د دے نه پس چه اسلامي فتوحاتو په مشرق او مغرب کښې انقلاب راوستو نو هند هم د دے اثر نه بچ پاتے نه شو. عین چه مسلمانان ترد دے راغلل. تر ډیره موده مسلمانانو په هند حکومت وکړو. آخر د چنگیز خان حملے د هغوئ د کلونو خوارئ، کومے چه د مسلمانانو د تهذیب بختنبے گڼلے شوے، په څو میاشتو کښې عبث او کنډرے ودے کړے. نتیجه ئے دا شوه چه د ایشیا زیرک کسان، مفکرین، شاعران مصنفان دهلي ته راغلل. او د بلبن په دور کښې بیلے کوڅے آبادے کړے. او په خپلو کوششونو ئے دهلي نه د مشرق د ټولونه زیات متمدن او ښائسته ښار جوړ کړو." ؎۱

د دے بهرنو خلقو په راتلو ملکي ژبو هم ترقي وکړه. فارسئ سره مقامي ژبو هم وده وکړه. امیر خسرو خپلو فارسي غزلو کښې په سوونو هندي ټکي استعمال کړل. یو اځے دا نه، هندي نظمونه ئے هم اولیکل. یو وخت داسے راغے چه د هند خلقو ته به د فارسئ په لوستلو ئے عهدے ورکولے شوے. د سکندر لودهي تر زمانے گڼړو هند والو فارسي زده کړه. اکبر په زمانه کښې خو هم و حساب کتاب په فارسي ژبه کښې وو.

---

A HISTORY OF FREEDOM MOVEMENT ؎۱

I. H. QURESHI - P-12/13

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دغه شان فارسي عوامي ژبه وګرځيده. مسلمانانو حکمرانانو ملکي ژبې هم زده کړې. او دوئ ته ئې وده ورکړه. تر دې چه د ژبو د دې ګډون په نتيجه کښې يوه نوي ژبه جوړه. چه اُردو ئې ‌‌بللے شي. او ډير زر ئې د عوامي ژبې حيثيت حاصل کړو. دغه شان په ورستي دور کښې هم دے ژبې ډيره ترقي وکړه.

په ناولسيشلي هند کښې د نوي پوهه کسانو راغونډيدل او د نوي ژبې اُردو د زيږون دلنه شان بحث نه پس خپلے موضوع ته راګرځو. په ناولسيشلي هند کښې د ډرامے شروع کاليداس کړي ده. دهٔ په سنسکرت ژبه کښې "شکنتلا" نومے ډرامه ليکلې ده. ويئيلے شي چه دا ډرامه د هند په زور ادب کښې دومره ستر مقام لري. چه د نړئ په ټولو وړاندې شوو ژبو کښې د دے ډرامے ترجمے شوي دي. لکه څنګه چه يونان کښې د ډرامے ابتدا د نقليانو نه شوې ده. دغه شان هند کښې به هم اول اول د نقليانو دے د ډرامے په شکل پيښے څرګندے کولے. غړے ته به ئې رهس منډلي، بهانډ نوټنکي وغيره نامے اخيستے. خو آخر دے فن هم لکه د نورو فنونو ترقي وکړه. او يو وخت ئې د تهيټر شکل اختيار کړو. تر دے چه واجد علي شاه د اوده باچاهه د شعر شاعرئ سره ئې ډير شوق لرلو. په خپل دور کښې د لکهنو يو مشهور شاعر سيد آغا حسن امانت لکهنوي اندرسبها نومے يوه منظومه ډرامه وُليکله. دا يوه فرضي قيصه وه.

چه پکښې د بنا پیرو راجه اندر او د تور دیو کردارونه شامل دي. دا د ناټک په شکل کښې وه. او واجد علي شاه خپل محل کښې سټیج کړې وه. ویلې شي چه اندر سبها د اُردو په ډرامو کښې اولنۍ ډرامه وه. دغه دور وو. چه د خلقو اُردو ډرامې ته پام شو. عن تردے چه شیخ فیض بخش په ډهاکه کښې فرحت افزا تهیټر کمپنی جوړه کړه. او د منشي نواب علي لیکلې ډرامې به ئې سټیج کولې. د تهیټر په ترقۍ بنګال کښې پرتو بابو او راوتو بابو نوې کمپنۍ پرانستې او د مرزا برق، احمد حسین وافر، بلبل بهار وغیره لیکلې ډرامې به ئې سټیج کولې. پارسیان کاروباري خلق وو. هغوئ د ډرامو آمدن ته وکتل. نو ځلے په ځائ ئې نوې نوې کمپنۍ پرانستې. بس نور څه وو. د اُردو ډرامې بخت بیدار شو. ولې ډیر زر د آزادۍ جنګ چه انګریزانو پرې د غدر نوم کیښو، هرڅه کډ وډ کړل. او دا محفلونه تس نس شول.

بیا چه په نولسمه صدۍ کښې چه لږ قلارے شو. د اُولس ادب ته پام شو. هغه زړے قیصے بیا د سره شوے. شعر و شاعرۍ او نورفنونِ لطیفه ته بیا وده وُکړه. پارسیان بیا واکي شو. کلکته او بمبئ کښې ئې تهیټر کمپنۍ جوړے کړے. رستم و سهراب لعل وګوهر غوندے مشهورے ډرامے دَ دَغه دور پیداوار دے. چه په سټیج د لوبولے شوے. په پارسیانو کښې کیخسرو جي، نوشیروان جي، سیټهه لیسمن جي، فرام جي دوئ نامے دَ یاد ورے دي کوم چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ځه د اُردو ډرامې د ترقي د پاره، او څه د ځينو کتې د پاره تر ډيره د خته په خپلو تهيټر کمپنو کښې اُردو ډرامې پيش کړے. د دغه دور لوئيه تهيټر کمپنۍ د بمبئ اوريجنل کمپني وه. کاؤس جي کهتاؤ، سهراب جي، خورشيد جي بالي والا وغيره ئې نامتو اداکاران وو. منشي رونق بنارسي د دے کمپنۍ د پاره ډرامې ليکلے. د دے کمپنيو د ترقۍ په کتو نورے کمپنۍ مثلاً بالي والا پارسي وکټوريه تهيټريکل کمپنۍ او د کاؤس جي الفريډ تهيټريکل کمپنۍ جوړے کړے شوے.

شيرين فرهاد، نخل وکوهر، ليل و نهار، تحفه د لکش، چاند بي بي، بلبل بيمار او عشرت سبها د دغه دور مشهورے سټيج شوي ډرامې دي. په ليکوالو کښې د طالب بنارسي، جان ظريف، عبدالله، منشي وافر نامے د ياد ورے دي. د وخت په تيريدو او د خلقو د خوښے د معيار په اوچتيدو د ډرامو دول هم بدل شو. د کاؤس جي الفريډ کمپنۍ د پاره منشي مهدي حسن احسن لکهنوي په نوي طرز ډرامے وليکلے. اوچت ئے پکښې پيدا کړو. گلنار فروز، گلروزينه، دلفروش، چندراولي د ده مشهورے ډرامے دي. دا هغه وخت وو. چه د هند په هره لويه ښهريه کښے ناټکونه وو. او په دغه زمانه کښې نيو الفريډ، بمبئي پارس تهيټر، جمعدار کي کمپني، امپيريل کمپني الفنسټن تهيټر، اليکزنډرا پارسي تهيټريکل کمپني، جوبلي تهيټر وغيره مشهورے کمپنۍ وے. د دغه دور د ډرامو دغه کمال

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دا هم وو - چه ستیج دَ انسان ژوند سره نزدو شو. او ستیج د نقلي په ځائے اصلي ښکاریدو. د اُردو ډرامو په دغه ددر کښے اخلاقي، تاریخي مذهبي او عشقیه ډرامے ستیج کړې شوې دي. د اُردو ډرامو د دے نه ورستي دور کښے مشهور ډرامه لیکونکو کښے د جوهر بنارسي، حکیم نظامي، آغا حشر کاشمیري، حکیم احمد شجاع دوئ نامے د ذکر جوګه دي. د دوئ په رلینیتیا د ډرامے فن کمال ته وُرَسَوُلو. په دغه ټولو کښے آغا حشر کاشمیري لوئے نوم پیدا کړے وو. آنکه کانٹ، یهودي کي لڑکي، خواب هستي، شهید ناز، صید هوس او خوابصورت بلا د دهٔ مشهور ډرامے دي.

د ستیجي ډرامو نه علاوه په اُردو کښے خالصے ادبي ډرامے هم لیکلي شوې دي. په دغه لیکوالو کښے محمد حسین آزاد عبدالحلیم شرر، مولانا ظفر علي خان، سید امتیاز علي تاج پروفیسر اشتیاق حسین قریشي، سید عابد علي عابد، شوکت تهانوي دوئ نامے د یاد ورے دي. په اوسني دور کښے د فلم په راتلو او بیا د ریډیائي ډرامو په شروع کیدو د ستیجي ډرامو بازار سوړ شوے غوندے دے. د اُردو د ریډیائي ډرامو په حقله به د ومره اُووایُو چه دا فن هم کمال ته رَسَوُلے شوے دے. او په زرګونو ریډیائي ډرامے تر اوسه نیکلي شوې او نشر شوې دي.

---

**ډرامه په سرحد کښې** وړاندې د دے نه چه د پښتو ډرامے تاریخ راوسپړو، دا غوره ده چه دا معلومه کړو چه دلته ډرامه څنګه راورسیده. سرحد ته هم د هند نه اردو ډرامه راورسیده. په کال سنه ۱۹۰۲ء کښې وړومبے الفریډ تهیټریکل کمپنی پېښور ته راغله. د آغا حشر "خواب هستي" نومے ډرامه ئے سټیج کړه. دا ډرامه دلته ډیره مقبوله شوه. د دے سره سره د پېښور په ځلمو کښې د ډرامے شوق پیدا شو. په کال سنه ۱۹۰۶ء کښې سید فضل علی شاه پېښور کښې تهیټر پرانستو. د کوزه نه ئے ښه ښه اداکاران راوبلل. یو کال ئے په کنړو ځایونو کښې مختلفې ډرامے پیش کړے. د دے کمپنۍ نه پس د نورے کمپنۍ هم سرحد ته راغلے. په کال ۱۹۱۱ء کښې د دادا بهائی ټهوټهی مشهوره بمبئی تهیټریکل کمپنی ښهر ته راغله. په یو میاشت کښې ئے مختلف ډرامے پیش کړے. د دے کمپنو د راتلو دا نتیجه راووته. چه په سرحد کښې استاد عبدالکریم، عبدالرحمن، پرتهوی راج، حیات خان، اکبر خان او قمر سرحدی غوندې اداکاران پیدا شو.

قمر سرحدی د ټولو نه وړومبے ډرامانګار دے. جوګی، عبرت، مشرقی ستاره، قتل، انصاف، همارې دنیا اندهی عدالت. انقلاب ئے مشهورے ډرامے دی. د ده نه پس شاطر غزنوی چه سنه ۱۹۳۰ء نه پس ئے ډرامه لیکل شروع کړل. او نوم ئے پیدا کړو. بے شمیره ریډیائي فیچرونه لیکلی

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دی، او بیا روستو فلمی صنعت ته اودتو۔

په کال ۱۹۳۴ء کښې د پروفیسر موسیٰ خان کلیم یوه اُوږده ډرامه آئینهٔ عمل په سفیرِ سخن کښې چاپ شوه۔

په کال ۱۹۳۶ء کښې حبیب اورکزی رومبنئ ډرامه "شهزاده" ولیکله۔ بیائے کنړے تهیټریکل ډرامے ولیکلے۔ ځکه تردے چه ۱۹۳۷ء کښے ئے خپله فرنټیئر فلم کمپنی جوړه کړه۔ او د فلمی دنیا سره ئے تعلق پیدا شو۔

په کال ۱۹۳۸ء کښې د سید مظهرگیلانی "تسلیم" نومے ډراما چاپ شوه۔ دلته د ضیا سرحدی نوم هم د یاد دے دے۔ چه کنړے ډرامے ئے لیکلی دی۔ د دوه ډرامے "تلاش" او "نګار" ئے ډیرے مشهورے دی۔

په سرحد کښې د اردو ډرامو په لیکوالو کښې د آذر سرحدی، محمود شوکت، رضیه، باسط سلیم وغیره دوئ نامے هم د یاد جوګه دی۔ د تهیټریکل او فلم ډرامونه علاوه ئے بے شمیره ریډیائی ډرامے هم لیکلی شوی دی۔ په ریډیائی ډرامو لیکوالو کښې شاطر غزنوی چه زرتاج رومبئ ریډیائی ډرامه ئے لیکلی وه۔ ضیاء جعفری، موسیٰ خان کلیم، سظهرگیلانی، رضا همدانی۔ رضیه سلطانه، شمیم بهیروی، شفیع صابر او باسط سلیم وغیره دوئ ډیر مشهور دی۔

---

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

# پښتو ډرامه

تر اوسه خو مونږ دا او لوستل چه ډرامه څه ته وائی د دے ابتدا چرته نه وشوه. د یونان او هند په زمکه دے څنګه وده وکړه. اوس راځو پښتو ډرامے ته. په سرحد کښے که یو طرف ته اردو ډرامے ترقی کوله. نو اوږه په اوږه ورسره پښتو ډرامه هم روانه وه. ترکومے چه د پښتنی ماحول په ډرامائی شکل کښے د پیش کولو تعلق دے. د سرحد یو ستر ډرامه نګار قمر سرحدی په کال ۱۹۲۱ء کښے عبرت نومے ډراما ولیکله. دے لیکوال به د اردو ډرامے لیکلے. "عبرت" ډرامه ئے هم اردو ژبه کښے لیکلے وه. چه د پښتنی ماحول او معاشرے څه ناڅه نمائندګی کوی. قمر صاحب "انصاف" "قتل" کښے هم د پښتنی معاشرے ترڅه حده عکاسی کړے ده.

د بده مرغه پښتو ادب کښے شاعرئ ته زیات پام ورکړے شوے دے. او نثر کښے لرغونی ادیبانو ډیر لږ لیکل کړی دی. په هغے لږے نثری سرمایه هم د فارسئ او عربئ ژبو ژور اثر دے. او بے دریغه پکښے د دغو ژبو د لغتونو استعمال شوے دے.

دے کښے هیڅ شک نشته چه پښتو نثر لکه څنګه چه د ادب د نورو اصنافو لکه ناول، افسانه وغیره ډیره کمه پنګه نړی. دغه شان د ډرامے کے هم ډیر زیات محسوسیږی. ولے د پښتو په نظم کښے چه مونږ ته په میراث کښے کوم داستانونه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

پاتے دی۔ چه یاخو نظمونه ډی یا مثنویانے۔ خیل ډراماٸی روح پکښې تراوسه غزیږی۔ هغه د اوبیړا قسم غناٸیے او سندرئیزے نغاتی ډرامے نن هم په مجروکښې د ملګی دتنګ او د رباب د ترنګ د پاٸیلو د شرنګ سره هم هغه شان تاثر پیدا کوی۔ لکه چه په سټیج پیش کولے شي۔ "دا رومانی، قیصے یا داستانونه هغه دی۔کوم چه زمونږ معاشرت سره تړون لری۔ او ځاٸی قیصے (                ) دی۔ خولپښتو ادب کښې ډیرے داسے قیصے هم مشهورے دی۔ چه د فارسی ادب نه ترجمه کړی شوی دی۔ لکه 'لیلی مجنون' 'شیرین فرهاد' 'وامق عذرا' 'طوطا مینا' 'داستان امیرحمزه' 'الف لیلی' وغیره اګرچه دا قیصے زمونږ د معاشرے ترجمانی نه کوی۔ خو بسره د دے زمونږ د ادب یوه ضروری برخه او د لوٸے عنصر حیثیت لری۔" ع۱

"د پښتنو د اولنۍ قیصو په حقله هیڅ نه شو ویلے۔چه دا په ابتداکښې په څه رنګ او په څه ډول وے۔ نن درځ چه په پښتنو کښې کومے قیصے ویلے کیږی۔ په دے کښې اکثر خو مهماتی غوندے دی۔ او په دے کښې اکثر د پیریانو دیوانو او اژدهاګانو وغیره و ویرودنکی او مهیب مخلوق سره مقابلے وی۔ دغه قیصے تقریبًا ټولے رومانی هم دی۔ یعنی په دے قیصو کښې مرکزی نقطه مینه وی۔ که دے

ع۱ مقدمه د شندی ګل۔ رضا همدانی

تولو قیصوته لږ په غور اوکتے شي. نو لکه د نورو مشرقي قصو د دوئ بنيادي کرښئ هم په یونیب دی" د ډرامے دکردارونو د مصيب خلقو سره د قیصے د بیان نمونه پیش کولو نه پس دا مباغلے لیکوال لیکي چه" د قیصو کومه خاً لس چه بره بیان شوه یا څئے نور واقعات چه دا سے قسم قصوکښے راځي. لکه د جادوګر د لاسه د شهزادګانو نه کانړي بوټي جوړیدل. یا د کوم شهزاده یا باچا په ښکار وتل او د ملکرو نه تیرو بیر کیدل. او د دیوانو یا جادوګرو په لاس د رکښیوتل وغیره داسے څیزونه دی. چه زمونږ کاوني ملکونو په قیصوکښے هم موجود دی. ځکه نه شو ویلے چه پښتنو به دغه خبرے یا قیصے د خپلو کاوندی خلقو نه اخستی وی. یا ځائ د بخوا راسے په دے اولس کښے راروانے دی. د دے قیصو شمیره ډیره زیاته ده. دلے لاترادسه په لیک کښے نه دی راغلی"[1]

یوسف زلیخا، خسرو شیرین، الف لیلی، بهرام اوګل اندام ګنبت شهزاده، چار درویش، رستم او سهراب. شاه وګدا، شیرین فرهاد، لیلی مجنون وغیره د نورو ژبو نه ترجمه شوی منظوم داستانونه زمونږ د پښتو ادب زیرے درانګئ دی. دلے اوشهئ، آدم درخانئ، موسی خان ګل مکئ. رابیا او فتح خان، ښادی جان بیبو، محبوبا او جلات، یکه یوسف او داسے نورے رومانی قیصے د پورته ذکر شوو قیصونه علاوه

[1] مقدمه دلے اوشهئ: خیال بخاری

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د پښتو ادب خپل میراث دے۔ د هیر انشیا خبره دا ده چه
دا قیصے د نورو ژبو د ادب د منظومو ډرامونه په هیڅ
صورت کښې روستو پاتې نه دی۔ ځن ترد ے چه د بنا پیرو
خبرے اترے، د دیوانو زورآزمائیل، او د بادشاهانو
رعب او جلال یا نور عشقیه کردارونه نهٔ یواځې د پښتو
ژبې خپلو یا ترجمه شوی داستانونو کښې دی بلکه د اُردو په
ځینو منظومو ډرامو کښې هم د دغه عناصر بیامونده شی.
په دے لړ کښې د امانت اُردو ژبه کښې لیکلی "اندرسبها" د یاد
جوګه ده۔

لکه څنګه چه د نړۍ نورو قامونه خپل داستانونه لری.
د دغه شان مونږ ته هم د دغه منظوم داستانونه په پښتو
ادب کښې د نثر میراث پاتے دے۔ او مونږ پرې په تیرو وختونو
کښې دلته د ډرامې د زیږون نه اګهر د ډرامے یا ډرامکو سود کولو۔
بے ځایه به نهٔ وی که د لته د عوامی قیصو خصوصیات
په لنډو ټکو کښې بیان کړے شی۔

په دغه قیصو کښې لکه د تاریخی واقعاتو د بیان پېژند کلو
شته نه۔ چه دَ شروع کیده و سره لوستونکے یا اوریده ونکے به ذے
پوهه شی. چه خبره یا قیصه د څه یا د چا په حقله ده۔ په
دغه قیصو کښې اصلی واقعه په دومره کړلیچونو کښې بوخته
وی. چه د قیصے نه قیصه او د واقعے نه واقعه پیدا کړی
شوی وی۔ باید چه د دے نه دا مراد وو چه قصه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

زیات وخت داخلی. په دغه قیصو کښې د شهزادګانو، پیریانو دیوانو، ښاپیرو ذکر عام دے. شرطونه پوره کولو او بیا خپله معشوقه ګټل د اکثرو قیصو بنیادي نقطه ده. په ځنو قیصو کښې داسے هم کیږي چه د هیرو سره غیبي لاس کولو په غرض ناڅاپه یو پیر فقیر یا فرښته ښکاره شي. او د هغه بنده ګرانے حل کړي. داخبره یواځې داستانونو کښې نه ده. "د وینو جام" کښې غیبي شاه پیر او "درس عبرت" کښې غیبي فرښتے هم د دغه قسم کردارونه دی. لکه د ناول یا انسانے په دغه قیصو کښې هیرو او هیروئن مرکزي کردارونه وی. خو فرق صرف دا دے چه په اکثر قیصو کښې هیرو او هیروئن دکردارونو د پاره شهزاده او شهزادګۍ غوره ګڼړلے شوی وی. کیدے شي چه د دے قیصو د لیکوالو په خیال د ګرانو کشالو ځواب یواځې باچا یا شهزاده کولے شو. د هغوی په خیال دا دیو عام انسان د وس کار نه دے.

په داستان باندے خو کر ښے لیکلونه لیس خپلے موضوع ته را ګرځو ـــــ پښتونخوا کښې د ډرامے ابتدا څنګه وشوه. "یونان، یورپ او هندوستان کښے چه څنګه د ډرامے شروعات نقلیانو، موسیقار شاعرانو، مجلسي اُستاذانو، د ګډیدونکو ډلو او تو تمارانو (رقص منډلی، رام لیلا بهانډ او نقلونو) کړے وه. هم هغسے پښتونخوا کښې هم د ډرامو غونډ نقلونه

او د تو قو تقالو ابتداء څمونږ مجلسیانو او نقلیانو کړی
ده. پښتنو نخوا کښې د ورومبی دراے نخښه پټه یا موجده م
دا نقلیان دی. او د دے ابتداء هم هغه دخت نه به
منلے شی. چه کوم وخت نه د پښتون معاشره او د اولسی
روزګار بنا مونده ده ـــــ نخوا یو دستور دا هم
وو. چه د ټول کلی محلت استکار نجلسی یا نقلی نه علاوه
دکلی د لوئے خان سره یو نیم دا سے نقلی به هم وو. چه
ورته درباری تو قمار او وایو نو بے ځایه به نه وی. دا
نقلی یوازے د خان دمشغولولو دپاره وو. دے سفر
او حضر، غرض په هر ځائے به خان سره سم پیوست
وو. او د هر ممکن تفریح خان دپاره مهیا کول د دهٔ فرض
وو. خو دا سے فنکار حیثیت به د یوځ لوئے او مخلص فنکار
نه وو. بلکه دے به د تو قماری نه علاوه به هیڅ نه پوهیدُ
توتے تقلے دا سے توتے تقالے چه خان برِ وُخاندی. د
خان د خولے نوکر وو او بس ـــــ برخلاف د دے نه
اولسی او د کلی محلت مجلسیانو یا نقلیانو طریقه یا فن
اولسی وو. دوئ د اجتماعیت او د اولس دذوق نه نابلدهٔ
نه وو. د دوئ نقلونه یا توتو کښې د خیل چاپیرچل په حقله
مواد موجود وو. د نقلیانو خبرے به ظاهرًا توتونه زیاتے
نه وے. خو د دے توتو کښے هم عبرت، سبق، نصیحت لګښتے
وو. او سنی اولسی توقماران هم چه کوم نقلونه کوی. نتیجه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ئې څه نه څه ضرور وي. د زړو نقليانو بچقله دا نشو
وئيلے چه د هغوئ نقلونه د مجلسيانو د مجلس يوه برخه
وه. که ځان له ئې نقلونه کول. خو دا څيز ځونږ موضوع
سره تعلق نه لري. ځونږ مدعا خو دا ده چه پښتونخوا
کښې د ډرامے شروعات لکه د هندوستان ځائ نقليانو په ذريعه
سره سم شروع شوي دي. اوس که په نقليانو لپے کرزوچه
په فلانی وخت کوم نقلي وو؟ نوم ئې څه وو؟ نو خبره به اوږده
شي. کنی هرائے نام خو دا هم وئيلے شو چه تيره زمانه کښې
د نوښار کنډ روکلي کښې بصرے نقلي او عزتے نقلي وو. چه
د خپلو نقلونو په وجه خلقو خوښول. هم داسے د جم ماجے
نقلي او بيا موجوده وخت کښې بهادرے نقلي، جمعه خان
نقلي، فيروز نقلي، شيرے نقلي او نور داسے ډير نقليانو نه
د پښتو ډرامے آغاز، ابتدا او شروعات شوے دے. [1]

د بناغلي ليکوال دغه خيال هم صحيح دے. زلے داوينا به
هم بے ځايه نه دي. چه د اردو ژبے هغه ډرامے هم په پښتونخوا
کښې د ډرامے د صنف په پيژندګلو کښې لوئے لاس لري. کومے چه
د سرحد په سټيجونو ولوبولے شوے. پښتنو ته لکه د دے
ځلئې د نورو او سيد ونکو ډرامه نوے څيز ښکاره شو. او د
دے قسم هر څيز د خلقو او خصوصاً د ذوق د خاوندانو په
زړونو کښې ځائے نيسي. د پښتنو ليکوالو ډرامے ته پام شو.

---

[1] رضا همداني: قند ډرامه نمبر.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او بیا د ډرامې د لیک شوق او جذبې سره د آزادۍ تحریک
په بل اور د خاورو د تیلو کار اوکړه. دې کښې هیڅ شک
نشته چه د ناویشلي هند نورو قامونو ته انګریزي استعمار
د غلامۍ طوق ورپه غاړه کړو. ولې پښتو په دې اساس نه
انګریزي راج ته غاړه کېښودله. د ناویشلي هند نه د
انګریز په وېستلو کښې چه کومه حصه پښتنو اخستې ده هغه
نن هم د آزادۍ د تاریخ د پاڼرو ښائسټ دے او بیا به هم
وي. د وطن د آزادۍ د پاره پښتنو ادیبانو د قامي نظمونو
نه علاوه دے مؤثرې طریقې ته پام شو. کومې ته چه ډرامه
وائي. د پښتو ورومبۍ ډرامه د اتمانزو په هائي سکول کښې
سکولیانو پیش کړې وه. دغه ډرامه عبدالاکبرخان اکبر
لیکلې ده. په دغه ډرامه کښې ښاغلي لیکوال د هغه وخت
په انګریزي سرکار پوره تنقید کړے وو. دا مے معلومیږي
چه پښتو ډرامې لیک د سنه ۱۹۲۸ء نه لږ وړاندې شروع شو.
ځکه چه سنه ۱۹۲۸ء نه سنه ۱۹۳۰ء پورې چه دغه لیکوال د سکول
په کالیزو جلسو کښې کومې ورے اصلاحي ډرامے پیش کړې هغه
د پښتو ډرامې د پرمخ تګ ورومبۍ کامونه ګڼړلې کیږي.

د پښتو ډرامې په دغه اولنی دور کښې د آبد رے (پېښور)
قاضي رحیم الله په کال سنه ۱۹۲۸ء کښې "نوے روشني" نومه ډرامه
ولیکله. دا یوه اصلاحي ډرامه ده. چه نن هم کتابي شکل
کښې د پښتو نثر ښکلې پرې د رڼه ښکاري. تر کومه چه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د غیرسیاسی او اصلاحی ډرامو تعلق دے "نوی رڼا" د
مقصدیت په لحاظ په تولو کښې اول او ستر حیثیت لري۔
قاضی صاحب د کتاب په شروع کښې د ډرامے او د هغې د
مقصد په حقله لیکی چه" لوستونکو د دے کتاب ته دِ واضحه
دی، چه نه زۀ ډرامه نویس یم او نه م داکسب دے،
محض دا خبره نه شم برداشت کولے۔ چه د غیرو قامونو په
وجه د لاعلمیٔ دا یوتکیه کلام دے۔ چه په پښتو کښې لټریچر
نیشته۔ مګر دا قدرےهم ورته معلومه نه ده۔ چه په ځلئ
د نثر بے شماره تواریخ، ناولونه او مذهبی کتابونه په نظم
کښې لیکلی شوی دی۔ چه د ژبے د تکمیل ثبوت دے
زۀ دا معمولی نسخه په شکل د ډرامے په خدمت کښې د هر
یو پښتون رور پیش کوم۔ او مقصون نے ورته عرض کوم چه
ځامن خپل د پاره د تعلیم حاصلولو لیږی۔ نو ورسره څه
رنګ سلوک پکار دے۔ او جینکۍ چه د تعلیم د پاره استوی
نو وګوری چه هغوی له څه کول پکار دی۔ او خپلو زنانه ؤ
ته ئې مضمون واوروی۔ چه هغوی له د خپلو خاوند انو
سره څنګه چلیدل پکار دی۔ او ځامن چه بے تعلیمه او
بے سرو سامانه لوئے شی۔ هغوی څه قسم د خپل خاندان
د تباهئ او بربادئ باعث شی"۔ [1]

د "نوی روښنی" د مقبولیت غټ ثبوت دا دے چه د

---

[1] "نوے روښنی"

کابل والی امیر امان الله خان د تصنیف په ډیر تعداد کښې وغوښتو۔

د انګریزی استعمار چیانو خلاف چه کومه باقاعده لویه ډرامه ستیج شوه۔ هغه ده د امیر نواز خان جلیا لیکلې ډرامه "درد" چه قومی کارکوونکو پیش کړې ده۔ انګریزی حکومت چه خبر شو نو د دے ډرامے پیش کوونکو ته ئے درنے درنے سزا ګانے ورکړے۔ د دغه ډرامے په کارکوونکو کښې د بابړے احمد، فصیح باچا او عبدالحنان بجلی د دوئ نامے د ذکر وړے دی۔ دا ډرامه په شلم اپریل ۱۹۳۰ء کښې ستیج کړې شوی وه۔ هم دغه کال د جولائی په میاشت کښې عبدالخالق خلیق خدائی خدمتګار نومے ډرامه په زیارت کاکا صاحب کښې پیش کړه۔ چه عبدالمالک په کښې هیرو وو۔ د ۱۹۳۰ء خوا وشا میاں عبدالرزاق اسلامیه کالج پیښور کښې د "فقیر زیرک قیصه" د جنت ماڼړئ" ډرامے په نوم ستیج کړه۔ د دے ډرامے مرکزی او بنیادی خیال د ټکانو پیرانو سره تعلق لری۔

په پښتو ډرامو کښې د ټولو نه رومبئ ډرامه چه په ډرامائی لوازماتو پوره ده او د پښتو په ډرامو کښې د "سنګ میل" حیثیت لری، د "دینو جام" ډرامه ده۔ چه محمد اسلم خان خټک سابق ډائرکټر محکمه تعلیم په کال ۱۹۳۵ء کښې لیکلې ده۔ د "دینو جام" نه رومبے "خونی منظر" هم دغه لیکوال د ریډیو نه نشر کړې ده۔ د پلاټ، کردارونو، واقعات او ماحول له مخه د دینو جام

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

یو ډیربنهٔ کوشش دے. او د پښتنی تهذیب او تمدن تر ډیره حده کامیابه عکاسی ده." مونږ د نصیحت نه دستونو خلقو د زړهٔ د خوشحالولو د پاره دے نصیحتونو سره ډرامے هم ملګرے کولے شو. دا یوه داسے خاصه ډرامه ده. چه په دے کښے نه د اخلاقو کے شته. او نه د زیبائش ——

مونږ به دے ډرامه کښے همیشه د پښتنو د خانانو هغه ناکاره دردناک واقعے چه هغه د بد محبت او د ناکاره سوسائټئ په وجه پیښیږی. هر وخت وینو او په دے ډرامه کښے مونږ ته د پښتنو د بد عملئ ناکاره طرف لیعنی کبر او لوئ ښودلے شوے ده. چه د دے نتیجه قرضونه جرسونه. خونونه جوارئ په روپو د دروغو ګواهئ او ډاکے کول دی ——

دا ډرامه یو داسے قصه ده چه تر ډیرے مودے پورے به د دوئ په دماغونو کښے ځائے نیولے وی." ؎۱

"دا ډرامه فرضی قِصه نه ده. بلکه دا یو اصل حقیقت دے. د دے اصل حقیقت د معلومولو د پاره زهٔ د صوبه سرحد اکثرو جیلخانو ته په خپله تلے یم. د پهانسئ کوټے م کتلی دی. د قیدیانو او پهانسی کیدونکو سره م خبرے کړی دی.......... د دے ټولو خبرو د لیدو اورد اوریدو نه پس چه کوم اصلی مصالحه ماله په لاس راغلی ده نو هغه م د ډرامے په شکل کښے تاسو ته پیش کوه." ؎۲

---

؎۱ تنقید، د دیوجام پروفیسر جے آرټ لینډا. ؎۲ دیباچه د دیوجام: اسلم خټک

ترکوے چه د ژبے د خالص والی او د کردارونو دَ تاکلو او بیا په پلاټ کښے په فنی لحاظ ځایَولو تعلّق دے۔ دَ "دینو جام" ډرامه د پښتو ډرامے ارتقائیٔ د ور کښے ډرکِل یږی۔ د ډرامے لوستلو نه پس باید چه د کتونو لوستونکو څه شی ته پام شی۔ او محسوس ئے کړی۔ هغه دے په ډرامه کښے د نظم زیاتوالے۔ کیدے شی چه هغه وخت لیکوالو د نثر په مقابله کښے نظم زیات غوره کنړلو۔ او لکه د نورو لیکوالو دغه نباغلی لیکوال هم د خپل زړهٔ خبره د بل زړهٔ ته رسَولو د پاره شعر یوه لنړه لار او آسانه ذریعه کنړله۔ یاخو د اوسنی دور نثر پسند لوستونکی ډرامه کښے د شعرونو زیاتوالے نه خوښَوی۔

د دینو جام په حقله[1] هسے عامه خبره دا مشهوره ده۔ چه دغه ډرامه د اسلم ختک په ایما او پلاټ عبدالکریم مظلوم د داستان په ډول لیکلے ده۔ خو د ډرامے په فنی تکنیک اسلم ختک صاحب برابر کړے ده۔ او څکه د هغهٔ تصنیف وګرزیدو۔ دغه ډرامه والیٔ چه ورستو د "کټورہ بھر خون" په نوم اُردو کښے او د (*Bloody Cup*) په نوم انګریزیٔ کښے ترجمه شوی ده۔ او والیٔ چه د دے ډرامے خیال البته اسلم ختک له مستر ګرفته ورکړے دو۔

د دینو جام سټیج هم شوه او په ریډیو هم نشر شوه۔

---

[1] مدیر قند مردان ډرامه نمبر

د دې ډرامې نه پس د پښتو ريډيائي ډرامو هم وده وکړه.
د "وينو جام" نه پس اُوږده ډرامه "درس عبرت" ده چه عبد الله جان اسيرؔ په کال سنه ۱۹۳۵ء کښې ليکلې ده. دا په کتابي شکل کښې موجود ده. ولې سټيج کولو د پاره ئې ډير زيار پکار دے. او دغه وجه ده. چه تر اوسه سټيج شوې نه ده. د "درسِ عبرت" او د "وينو جام" مرکزي خيال تقريباً يو دے. دا هم د پښتنې ماحول عکاسي لکه چه اسير صاحب د کتاب په سر کښې ليکي ـــ

څما اواز که د پښتون عاجز تر غوږ شي چرې
زۀ به خپل ځان ډير خوش نصيبه خوش قسمت ګڼړم
بيا که روان په سمه لاره پښتانه اوليدۀ
درس عبرت به په رښتيا درس عبرت وګڼړم

د دې دواړو ډرامو ګڼړ عناصر خپلو کښې يو بل سره سمون خوري. لکه د "وينو جام" کښې د "غيبي شاه پير" او د "درسِ عبرت" "غيبي فرښتې" او داسې نور کردارونه. د "وينو جام" په پلاټ کښې د درس عبرت په مقابله کښې واقعات کم دي. د دې نه علاوه څنې مکالمې او متلونه په دواړو ډرامو کښې د يو بل سره لګي. بايد چه د دې ګڼړو خيزونو د توارد رجه علاوه د پښتني ماحول د عکاسۍ د جذبې نه دا هم دي چه د "وينو جام" د لوستونه لپس اسير صاحب په دې موضوع قلم پورته کړے دې. لکه چه ليکي: "يوه ورځ د محمد افضل

خان د سوریزو په ملګرتیا کښې زهٔ د پېښور یو پرلیس ته ورغلم. ــ ــ ...... چهاپ خانه کښې مو فضل ودود کاتب اولیدهٔ. هغهٔ د پښتو د یو کتاب کتابت کولو. خبرو خبرو کښې فضل ودود صیب او وئیل چه دا زما لاس کښې کوم کتاب دے. دا پښتو ډرامه ده. چه محمّد اسلم خټک لیکلے ده. او نوم ئې "د وینو جام" دے. ما دا قلمی مسوده را وچته کړه. یو څو ځایه م صفحې صفحې اولوستله او بیا م کیښودله. فضل ودود صیب دئیل ولے ښکله کتاب دے. ما وئیل ښه دے محنت پرې شوے دے. خوکه ما لیکلے نو ما خو به په څه بله طریقه لیکلے وے. او فضل ودود صیب په جوش کښې راغے وئیل ئې پښتو کښې لا بل سړے دا کتاب نشی لیکلے. ما ورته وئیل که چا اولیکلو. نو فضل ودود صیب اُووے چه کتابت به ورته زهٔ مفت اوکړم. لس خبره دغه ځائے ختمه شوه. زهٔ تړینګ سکول ته واپس راغلم. نو یوه ورځ نیمه خو په سوچ او فکر کښې وُم. بله ورځ م یو پلاټ تیار کړلو. او بیا د ډرامه ورځ لیکلو ته کښیناستم. ما زر زر په پنسل باندے لیکل کول. چرته چه به د نظم موقع ده. هغه ځائے به م ورله تیار کړلو. او ماښام م هغه ټولے پاڼړے محمّد اعظم صیب له ورکړے د هغهٔ خط ډیر ښهٔ وو. د شپې به هغهٔ دغه پاڼړے خوشخط اولیکلے. او دغه رنګ تقریباً پنځلسو ورځو کښې کتاب تیار شو.[۱]

---

[۱] عبدالله جان اسیر: قند ډرامه نمبر

دلته دا سوال هم پیدا کیږي چې په ډرامائي
فن په خوبو پوره د پښتو ورومبۍ ډرامه "د ویښو جام" ده
که "درس عبرت"؟ کیږي شي "د ویښو جام" د درس عبرت
نه وروستو چاپ شوې وي. ولې بیا هم "د ویښو جام" ځانته
د پښتو ورومبۍ پوره ډرامې ځائې ونکتلو. ځکه چې د درس
عبرت نا ورانې تلم ته د سپارلې شوه. او دغه شان د درس عبرت
نه اګهو پرې د پښتو ادب پنګه درنه شوه. اسیر صاحب ګڼړي
ریډیائي ډرامې هم لیکلې دي.

کال ۱۹۳۵ء د پښتو ډرامې د پاره ډیر بختاور ثابت
شو. که یو طرف ته "د ویښو جام" او "درس عبرت" غوندې فن
پارې په دغه کال کښې وزیږیدې. نو بل طرف د خلیق
صیب مشهوره اصلاحي ډرامه "شهیده سکینه" هم دغه
کال په پېښور کښې ستیج شوه. په کال ۱۹۳۶ء کښې د ورز سکاؤټ
مردان اسلامیه سکول په کلیزه جلسه کښې بیا ستیج کړه. د
خلیق صیب دا ډرامه، و یوه بله ډرامه چې "خوږ ژوندون"
یې نوم دې. نن هم په کتابي شکل کښې موجود دي. په
دې دواړو ډرامو کښې ښاغلی لیکوال د پښتني ماحول عکاسي
کړې ده. لیکن چې "خدائے شاهد دې چې ځما یو خاص
مقصد وي. هغه صرف د شریفو پښتنو زنانه وخت
او د رواجي قانون یو غټ نقصان ښوول دي. چې د هغې
په وجه بې شماره سیالانو پښتنو بیبیانو ته کله کله داسې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تکلیفونه پېښیږي. چه د هغې په اوږدو د سړي زړه ټکړے ټکړے کیږي. هغه نقص دا دے. چه د یو مالدار پښتون ځوئے او وروړکه هرڅومره بدچلن او نالائق او د پلار او وروړ سخت دښمن ولے نه وي د میراث حقدار ګرځي. ولے لور، ښځه او خور که هر څو سیالانې نیک عملے او همدرده وي. خو په میراث کښې هغه نه شي اخستے ——— علاوه د دے نه ځائے په ځائے مانورے اصلاحي خبرے هم په دے ډرامه کښې لیکلې دي". ع۱

په کال ۱۹۲۵ء کښې عبدالاکبرخان اکبر "جونګړه" نوے ډرامه ولیکله. چه اوس هم په کتابي شکل کښې موجوده ده. دا ډرامه د پولیټیکل کانفرنس په موقعه شاهي باغ کښې ستیج شوي ده. دا د انګریزي استعمار خلاف آواز او د آزادئ ګټېلو د پاره یو ستر غږ دے. په فني لحاظ دا ډرامه ډیره جامع او مکمله ده. حقه دا ده چه "کوم کسان چه د پښتو ژبے د تنګسیا او لنډ والي شکایت کوي. بکار دي چه هغوئ د عبدالاکبرخان صاحب کلام او ډرامے اوګوري. که شکسپیر او کالیداس د انګریزئ او سنسکرت د ډرامو بابا آدم ګڼړلے شي. نو پښتو ژبه هم فخر کولے شي چه د عبدالاکبرخان غوندے ډرامه نویس ورته په ګوتو راغے". ع۲

---

ع۱ خلیق صاحب: دیباچه شهید ه سکینه ډرامه کتنه ما سټر عبدالکریم مظلوم

11072

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

افسوس دا دے چه د پښتو ژبے ډیر ښهٔ ادیبان د سیاست په میدان ورګډ شو۔ او خپلو ګنړو فن پارو ته ئے سیاسی رنګ ورکړو. ګنی نو نن به پښتو ژبے هم که نو رڅه کښے نه وے نو د ډرامے په فن کښے به ئے ضرور د اُردو سره پښه وَهَله۔ د سیاسی ډرامو دغه دور په "کاروان روان دے" ختم شو۔

د کال ۱۹۳۶ع راسے په پېښور کښے د ریډیو څانګه پرانستے شوی ده۔ دغه ریډیو سټیشن ته هم لکه د نورو ریډیو سټیشنونو د سندرو، مقالو، افسانو او ډرامو ضرورت پیښ شو۔ دے بلنے او ضرورت نوی نوی لیکوال راکی کړل۔ او د پښتو ډرامے هغه کے چه د ډیره وخته راسے محسوسیده. ریډیائی ډرامو پوره کړو۔

د ریډیائی ډرامو په وړومبی دور کښے عبدالکریم مظلوم، امیر حمزه خان شنواری. داؤد شاه برق او سمندر خان سمندر دوئ نامے د ذکر جوګه دی۔ د مظلوم صیب د ریډیائی ډرامو مجموعه "څهرے" چاپ شوی ده۔ دے کتاب کښے د مظلوم صیب، یوولس ریډیائی ډرامے دی: د پښتو ریډیائی ډرامو په دوئم دور کښے د سید رسول رسا، اجمل خټک، یوسف اورکزے، عبدالله جان مغموم، رضا مهمندی میجر الیس اے رحمان کاکاخیل۔ ایاز داؤدزے۔ مراد شنواری اشرف مفتون، رشید علی دهقان، اشرف درانی، خیال

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

بخاری۔ عبدالله جان اسیر دوئ نامے د یادورے دی۔

د پښتو ژبے ریډیائ ډراموکښے د امیرحمزه خان شنوارۍ "ژرنده گرے"، "د رے بخیلان"، "د سرو کوته"، د سمندرخان سمندر "یتیم"، "جماله" او "سور پیزوان"۔ د میجرالیس اے رحمان کاکاخیل "نیمگرے خوب" او "عملی" سترے فن پارے بللے کیږی۔

د دے نه علاوه د ایاز داؤدزی "جل پری" د اشرف مفتون "ځوانی مرگ" د رشید علی دهقان "مانړگی" د شوکت الله اکبر "غم ځپلے ژوند" "سهراب رستم" د رضا همدانی "میره مور" د عبدالله جان مغموم "مراوے گلونه" د محمد نواز طائر "سره دولئ"۔ د عبدالله اسیر "خونړے کنډاؤ"۔ او د اسے نورے ډرامے د پښتو ژبے په ښو ډراموکښے حسابیږی۔

د وخت په تیریدو د نورو ژبو ډرامو ترجمے هم شروع شوے۔ په دغه ډراموکښے د لطیف وهمی د اُردو نه ترجمه کړی ډرامه" د قرطبه قاضی" او د سراج محمد خټک د انگریزئ نه ترجمه کړي ډرامه "د وینس سوداگر" د ستائنے جوگه دی۔ د پېښور د ریډیو سټیشن نه علاوه د کوټے د ریډیو سټیشن د پښتو څانگه هم د پښتو ډرامے نشر کوی۔ د پښتو په المیه او طربیه ریډیائ ډراموپه وده او ترقئ کښے د پېښور ریډیو سټیشن ډیر لوئے لاس دے۔

دلته د اباسین آرټ سوسائټئ پېښور ذکر ضروری دے۔ ولے چه دے اداره د پښتو او اُردو ادب د نثر

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

او نظم د وارو ښکلې ښې د رنې کړې. د اسوسائټي تقريباً هر کال د ښو ښو نوو اُردو يا پښتو کتابونو انعامي مقابلې مقرره وی. او د دې سره سره د اُردو او پښتو ژبو د ستيج ډرامو د پاره هم انعامونه ږدی. د دې انعامی مقابلې د مخه نيکولو بيا د ډرامو ليک ته لاس واچولو. په کال ۱۹۵۹ء کښې د دې مقابلې د رومبي انعام ميجر اليس اے رحمان کاکا خيل ته په "اور او به" نومې ډرامه ورکړې شو _ "اور او به" يَوه مسلسله ډرامه ده چه نهٔ د ريډيو د پاره ليکلې شوې ده. او نهٔ د ستيج د پاره. ليکن باوجود د دې لږ ترميم نه پس هم د ريډيو نه نشر کيدے شي. او هم د ستيج د پاره ښودلے شي ـــــ دا ډرامه په يو خاص غرض ليکلې شوې ده. او هغه دا چه په پښتنو کښې کومې معاشرتي خرابئ د صدو راسے موجودے دی. د هغې اصلاح اوشي. د دا سے سپيڅلی ادب د افاديت نه څوک انکار کولے شي ـــــ د ډرامے پلاٹ يقيناً دلچسپ دے. او بيا کوم درد او اخلاص چه د دے تصنيف باعث شوے دے هغه خو ډير د ستائلو قابل دے. په پښتو کښې افادی ادب تخليق کم دے. او دا ډرامه د دغه کمی پوره کولو موثر کوشش دے". ۱

په "اور او به" ډرامه کښې د پښتنو د دښمنيو او بيا د نوی تعليم د اثر عکاسي شوی ده.

---

۱ مقدمه اور او به: فضل حق شيدا.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د دے سوسائټئ د کال ۱۹۶۴ء د سټيجي ډرامو د مقابلے ورومبے انعام راقم الحروف ته په "توره چه تيريږي" ورکړے شو۔ دا يوه تاريخي ډرامه ده۔ چه د شيرشاه سوري د دور سره تعلق لري۔ په دے ډرامه کښے راقم الحروف د نسلي تعصب د ورکولو ترڅه حده کوشش کړے دے۔ او د مغلوالے او پښتو د يو ځائے کولو د پاره "مينه" استعمال کړي شوي ده۔ بايد چه دا تاريخي قصه بل چا په نثر يا نظم کښے هم ليکلي وي۔ او د پلاټ يا کردارونو خيلوښے توار د راغلي وي۔ ولے د سټيجي ډرامے په شکل کښے سره د ګڼړو فرضي کردارونو دا پيا ورومبي ځل دلوستونکو په وړاندې ده۔

د اباسين آرټ سوسائټئ انعامي مقابلو او د ريډيائي ډرامو ضرورت بيا د ليکوالو پام د ډرامے ليک ته راګرځولے دے ولے پښتو کښے به دا فن هله د اردو ژبے د ډراما نګارئ د فن سره اوبره په اوبره ځي۔ چه د دے اصول وضع کړے شي۔ او تنقيدي ادب ئے وزيږي۔ ترکومے چه د ادب د يو صنف تنقيدي اړخ نه وي، هغه د کمال په هسکو سوکو ډير په ګرانه خيژي۔ "په پښتو کښے ډرامه يو نوے فن دے چه ليکوال ئے زده کولے نه شي۔ او چا چه ليکلي دي۔ هغوئ د ناقدانو په خيال فن کښے کمال نه دے حاصل کړے۔ ليکن د پښتو ډرامه لا هغه مرحلے ته نه ده رسيدلے چه پکښے کمال حاصل کړے شي۔ په دے ميدان کښے مونږ اوس ابتدا

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کړې دہ۔ او د مبتدیانو نه دا طمع لرل چې هغوئ د مونږ په یوه ورځ کښې منزلِ مقصود ته اورسوی، نامناسب دی.[1]

د ریډیائی او سټیجي ډرامونه علاوه پښتو کښې تر اوسه یوه فلمي ډرامه لیلیٰ مجنون لیکلې شوی ده۔ دا ډرامه امیرحمزه خان شنواری په کال ۱۹۳۵ء کښې لیکلې وه۔ او فلمې ته ئې ترتیب جوړ کړې وو۔ "نوې پلوشې" د پښتو دویم فلم دے۔ ولې ډرامه ورته لشو وئیلې۔

د پښتو ریډیائی او سټیجي ډرامو د دے مختصر غونډ تاریخي بحث نه پس دا اندازه لګیدے شی۔ چې په پښتون قام کښې هم لکه د دنیا د نورو ژوندو قومونو د دے فن د خپلولو ماده شته۔ ولے افسوس دا دے۔ چې د فلم په راتګ د سټیجي ډرامو بازار سوړ شو۔ دا نقصان یواځې پښتو ادب ته ونه رسیدو۔ دا د دو ادیبان هم د دے نه سرتکوی۔ هغه قوت چې د سټیج په ترقئ صرف کیدو اوس د فلمي صنعت په ترقئ خرڅ کولے شی۔ لکه څنګه چې پښتنو کښې د سټیجي ډرامو جوړولو او پیش کولو صلاحیتونه ډیر دی۔ که د سټیج د وجود کے نه وے۔ نو دے فن به دے خاورے کښې ډیره ترقی کړې وه۔

په پښتونخوا کښې د سټیجي ډرامو د کمي ګڼ رجوهات دی۔ یوه دا چې د سټیج وجود دلته عام نه دے۔ دا وئیل

---

[1] مقدمه د اوراوبه: فضل حق شیدا۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

به بې ځايه نه وي. چه په عامو کلو کښې لاڅه چه په ښهريو کښې هم ستېجونه نشی بيامونده لے. د ستېج د وجود د نېشتي په وجه دا فن مخ په وړاندې نشی تلے. بله دا چه عامه فضا بدله شوه. او س د ډرامو په ځائې فلمونه خوښوي. کوم چه د ډرامې په نسبت د کتونکو زياته تسلی کوی. د ويمه دا چه ريډيو يائی ډرامو ته د ليکوالو پام دے. او ستيجي ډرامه کد بيخي نه وي. نو ترديره حده خو ضرور هيره کړی شوی ده ـــــــ کنی نو شکر دے. او س خو مونږ آزاد يُو. او په آزاده فضا کښې ادب ښه وده کوی. که د ډرامو ليکوال د ستيج ډرامې ته پام وکړي. او اصلاحی، اخلاقی او ورسره ورسره عشقيه تاريخي موضوعات داخلي. او ډرامې پرې جوړې کړي. نو کيدے شی چه دا صنف د وړاندې نه هم زيات د خلقو خوښ شی.

---

# دوئیمه برخه

# دَ ډرامے فن

**بنیادي عناصر:-** ترکومے چه د ډرامے د هغه اجزاؤ تعلّق دے. دکومونه چه ډرامه جوړیږي، ناول او ډرامه کښے ډیر لږ فرق دے. په ډرامه کښے هم پلاټ وی او ناول کښے هم. لکه د ناول په ډرامه کښے هم د قیصے پرمخ تګ او بیا انجام وی. کردارونه وی. خبرے اترے او مکالمے وی. چه غوره اجزاء ئے ګڼلے شی. ډرامه کښے لکه د ناول د ژوند یوه نظریه پیش کړی شوی وی. څنګه چه ناول د ژوند د یو خاص اړخ عکاسی او نمائندګی کوی. دغه شان ډرامه هم د ژوند د یَو خاص وخت او خاصے موقعے یا واقعے د کردارونو په ژبه بیان کوی. که فرق دے نو صرف دا چه ډرامه د ناول او ډرامے د خپلو نه تکنیک او تشکیل بیل بیل دے. دا فرق هم ځکه پیدا شوے دے چه ادب دا اصناف د یو بل نه جدا فنی حیثیت لري.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د ناول نګارۍ فن کمال دا دے. چه هغه د خپلو کردارونو په خوله د ډرامې په حقله خپل تنقیدی نظریات پیش کړلے شی. د خبرے نه خبره ویستل د یو ښهٔ ناول نګار کار دے. چرته چرته خو په مکالمو کښې داسے ډرامه پیدا کړی. چه قیصه عروج ته ورسی. لنډه دا چه ناول ځان ته خپل یو داسے ماحول لری. چه د بل چا حاجت ورته نه وی. بل خوا ډرامه یو داسے ادبی تخلیق دے. چه مجبوراً به په کښې دَ معاشرے د نورو وګړو د خیال او فکر پام هم ساتلے شی. او لیدونکی ته زیات نه دریو ګړو ګهنټو په دوران کښې د ډرامه یوه داسے برخه وړاندې کوله چه هغه د خپلے معاشرے نه سیواشه ونه وینی. د ډرامے د لیکوال لویه مجبوری او پابندی دا ده. لیکوال مجبور دے چه د خپل فکر د نیلی واګے ټینګے ونیسی. هغه د ځان نه څه وئیلے نه شی. بلکه نورو ته به ناست وی. هغه به د معاشرے نه یو ستر حقیقت یا یوه اولسی قیصه اخلی. او هم هغه شان به ئے پیش کوی. لکه څنګه چه یو مصور تصویر غوښتونکی ته هوبهو د هغه غونډې تصویر ورباسی یعنی لکه د تصویر غوښتونکے دا اُوائی چه دا خو زما تصویر نه دے. نو د مصور سره به د دے خبرے هیڅ جواب نه وی.

په ډرامه کښې لوئے خیز د نظر تکل دی. چه نظر بندی

یا فریب د نظر (ILLUSION) ورته وپیښه شي. پکار ده چه اداکاران، پیشکاران یا نغمه غږ وونکي یا نور زیاتي ضروري کردارونه خپل خپل کارونه په دلسے طریقه پیش کړي. چه د خلقو پر د ریلیښتولي گمان وشي. که دانه وي. نو ډرامه به صرف د پیښو ښودو یوه بے خونده ذریعه وګرځي. په دغه ځائے کښے د ډرامے دلیکوال کارد یوه خاکے رابښکونکي پاتےشي. په دغه خاکه کښے دخوند سیوا کولو د پاره رنګونه ډکول د ډرامے د پیښکارانو کار دے.

"د ډرامے د کامیابۍ دار و مدار یواځے د ډرامه نویس په کمال پورے نه دے بلکه د ایکټرانو (چه ابتدا کښے نقالان وو) ډائرکټر چه ابتدا کښے هغه هوښیار بنیادم یا مشر نقال وو. چه نقالان ئے منظم کړي وو. د ستیج داوستاکار د پردو پینټر (PAINTER) او د میک اپ مین عن چه د پرامپټر (PROMPTER) او موسیقارانو ټولو کوشش چه هم آهنګ شي. نو یوه کامیابه ډرامه ترنه وجود واخلي." ۱

هر کله چه یو لیکوال د ډرامے لیکلو په وخت ستیج او تماشګیر په خیال کښے ساتي. نو هغه ته دا سوچ هم پکار دے. چه د دۀ دا ډرامه به کوم اداکاران پیش کوي. بیا د هغوی تعداد او د بیل بیل اداکار صلاحیتونه هغه ته

---

۱ ډرامه د فن په لحاظ. ایاز داؤدزے: تمند مردان

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

معلومول پکار دی۔

"د شیکسپیئر په حقله دا خبره کیږی۔ چه هغهٔ خپل کردارونه د کومو کومو ایکټرانو د پاره جوړ کړی دو۔ او د غو اداکارانو خپل خپل کارونه څنګه ترسره کړل۔ د LAUNCE او LAUNCELOT GOBBO د مزاحیه خبرونه دا معلومیږی چه دا د داره کردارونه د یو ایکټر د اداکارئ د پاره جوړ کړی شوی دو۔ د غه شان MERCUTIO او GRATIANO د مزاج نه دا معلومیږی چه دا دواړه کردارونه د یو ایکټر د پاره جوړ کړی شوی وو۔ د مارلو MARLOWE په THE JEW OF MALTA او TAMBURLAINE کښے د هیرو کردار د ALLEYNE د پاره لیکلے وو۔ چه او د هٔ ونه لوړ او په بدن بنهٔ درونډ وو۔ د دغه شان شخصیت تخښے د دے ډرامو په کردارونو کښے شته۔ مولیئر (MOLIERE) خپله د خپل وخت یو غوره طربیه اداکار وو۔ ځکه هغهٔ په خپلو طربیه ډرامو کښے د هیرو کردار د خپلے اداکارئ د پاره تخلیق کړے دو۔" ۱؎

په څنو ډرامو کښے د اداکارانو لوئے اثر دے۔ د وکټر هیوګو کردار کرامول CROMWELL د تخلیق په وخت د TALMA شخصیت د ایکوال په وړاندِ وو۔ ولے دا اداکار د ډرامے د ختمیدو نه اګومر شو۔ نو د سیوکو زړهٔ مات شو۔ او د سټیج

۱؎ ډراما نګاری کافن : پروفیسر محمد اسلم قریشی ص۵۲ ۔

په خاطر ئې د دا ډرامه هم د لوستلو د پاره پوره کړه." د ډرامې په تاریخ کښې کثیر روایات دلته شته. چه خاص د اداکارو شخصیت لیکوال په ډرامه لیکلو مجبور کړے وی. دا خبره زینت تیا منلے کیږی. چه OTWAY د MRS. BARRY نه شاعر او ډرامه نګار جوړ کړو. او دا دښلے کیږی. چه د دے کس د غیر موجودګی په وجه به انګریزی ادب کښې د دوه غوره المیئے THE ORPHAN او VENICE PRESERVED نه وے."[علم]

دی. میتھیو ویناده" چه ډیرے کثرے او د ارچتے پائے ډرامے د اداکارانو د عملی مشورو له مخه عظمت لری. لکه څنګه چه کثرے ښے ډرامے د شاعرانو د همعصر اداکارانو د کمالاتو نه فائده اخستلو په غرض لیکلی شوی وی." دا لیکوال وړاندے والی چه حقیقت کښے که سوئیږد ډراماتی ادب ژور ه مطالعه اوکړو. او د ډرامے د غوره حصو په غور سنجونه او تجزیه وکړو. نو دا خبره به څرګنده شی. چه د هرے زمانے او د هر قوم ډراماتی شاعرانو د خپلو اداکارانو په ښو او بدو خوبیو او څنو مخصوص کمالاتو هیڅ سترګے نه دی پټے کړی. ( د لے) چه په هغو د عوامو نیا وړاندے د ډرامے د پیشکش تول دارومدار دے."

لنډه دا چه د ډراما نګار سره د اداکارانو ملګرتیا او مرسته ډیره ضروری ده. د مثال د پاره به دا واخلو. چه ډراما نګار د هیرو په خوله دا خبره کول غواړی." زه به د خپل وطن په

---

علم ډراما نګاری کا فن : پروفیسر محمد اسلم قریشی ص ۶۷.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ناموس ځان ومال قربان کړم. هغه څوک دي چه ځان د په
کړسول غواړي. او دا ليدل غواړي چه زما د خپل خوږ وطن
سره څومره مينه ده" اوس که هيرو دا خبره په داسه
طرز کوي. چه نه ئې د مخ نه جوش څرګنديږي. او نه ئې د دې
غصې او جوش نه سترګې سرې کيږي او نه ئې بدن په حرکت
کښې راځي. نو د ډراما نګار ټوله خواري به ضايع شي.
يا لکه د هيروئن د پاره دا خبره ليکلې شوې ده.
"وئ زما خدايه. دا به څه شي. چا ته لعرې کړم ځما
د فرياد او ريد وبه د ستانه هيڅوک نشته. هيڅوک نشته
چه ځما دا چيغې واوري."
اوس که د دې خبرې د کولو په وخت د هيروئن
د مخ نه خفګان او پريشاني نه څرګنديږي. هغه دا خبره په ټول
حالات کښې نه کوي. نو د خبرې خوند به لاړ شي. او ډرامه
نګار به ئې هيڅ هم ونه کړے شي. د دې نه دا خبره څرګنده
شوه. چه د ډراما نګار سره د ډرامې د پيشکارانو د په
تيره تيره د اداکارانو مرسته او ملګرتيا نه وي. نو ټوله خواري
عبث شي. يا که چرته پرده را غورزوونکے يا پرامپټر
(PROMPTER) چه اداکار ته هيره شوې خبره را ياده وي.
په خپل کار کښې لږه هم سستيا وکړي. نو د ډرامې ټول خوند
کښ ور شي. زما ښه ياد شي. چه يوه ډرامه مې کتله. په
وخت چه هيروته په څه خبره پلار غصه شي. او په

تیزه خبرے کوی. نو د غضه نه ئے یو بریت پریوځی. په ځائے د دے چه خلق د دے منظرنه متأثره شی. هغې پورے خندا شروع کړی. دا په ظاهره خو وارهٔ وارهٔ خیزونه بنکاری. ولے دا بد اثر غورزولو د پاره کافی دی. د ډرامے د لیکوال هغه غرض چه خلق د دهٔ په ډرامه د حقیقی واقعے ګمان وکړی. بے د اداکارانو د مرستے نه نشی پوره کیدے. هرکله چه کردار کښے د اداکار ژوندے وجود (LIVING PRESENCE OF ACTOR) ځلئے ونه نیسی. یعنی اداکار د کردار په روح کښے ورګډ نشی نو دا مقصد حاصلول یعنی ډرامه کامیابول ګران کار دے.

د ډرامے لیکونکی، پیش کوونکی او کتونکی ترمینځه یو ه لوظنامه یا جوړه وی. چه په ډرامائی اصطلاح کښے ورته مفاهمت (UNDERSTANDING) ویئیلے شی. او پس سټیج ترسره کیږی. د اخبره د دے نه صفا ښکاره ده. چه کتونکی ښهٔ ښهٔ دیئی کوری. چه مونږ څه وینو. دا حقیقت نه دے. د حقیقت پینے دی. ولے بیا هم د ډرامے خبرو ته غوږ نی شی. او د خندا په خبرو خاندی. او په دے طریقه خبرو کښے اثر پیداکول د اداکار کار دے. مونږ وینو کورو چه په سټیج کوم ځائے یا مکان جوړ دے. هغه درے رخه دے. د مکان ورانديځے دیوال نشته. د عامو کورونو کوتو څلور دیوالونه وی. خو د سټیج په دے عمارت چرے اعتراض نه کوو. مونږ وینو ګورو چه په سټیج کوم منظر ښودلے کیږی. هغه د لیدونکی

نهٔ دے ۔ هیرو چه په کوم خنجر یا چاړهٔ ځان وژنی۔ هغه د ریښتیانو خنجر یا چاړهٔ نه ده۔ او که ده هم نو هیرو په ریښتیا ځان نه وژنی۔ په سټیج چه کومه وینه د هغه د بدن نه بهیږی۔ وینه نه ده۔ رنګ دے۔ او دغه شان د هیرو حریف (VILLAIN) وژلے شوے هم دے۔ هغه د ځان نه یے ساه ولیستی ده۔ او کتونکی ته دا ښائی چه لکه دے مړ دے ــــــــــ دا ټولے خبرے مونږ ولے زغمو۔ صرف او صرف د هغه خیالی لوظنامے (مفاهمت) له مخه چه کوم د ډرامانګار، اداکار او لیدونکی ترمینځه شوے وی۔ په دغه قسم جوړو کښے د خود کلامئ (SOLILOQUY) او یکسوئی (ASIDENESS) لوئے جوړے دی۔ کله ناکله ډرامانګار د خپل ذهن څه داسے خبرے ښکاره کول غواړی۔ چه هغه عام خلقو ته د ویلو نه وی۔ هغه په زړهٔ کښے تیریږی۔ څه وخت چه دغه خبرے هغه یو کردار ته دُسپاری۔ نو کردار دغه خبرے د ځان سره وکړی۔ او لیدونکی تو نه تاثر واخلی۔ دکردار د زړهٔ خبرے ډرامانګار په دے چل او رید ونکو ته داورَوی۔ د هملټ (HAMLET) خود کلامی ډیره مشهوره ده د خود کلامئ یوه غوره نمونه دا ده۔ چه کردار سوچ واخلی۔ چه ادس څه وکړم۔ او په دغه سوچ کښے د هغهٔ د خولے ځان سره څه خبرے وُځی۔ د یکسوئی (ASIDENESS) ښنهٔ نمونه دا ده چه کردار خبرے کوی۔ او ناڅاپه یے زړهٔ کښے څه راشی۔ او

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خپلو ملګروته ئې وئيل نه غواړي - مخ بل خوا واړوي. او د غه شان ليد ونکي پوهېږي چې اداکار يکسوئي ولې اختياره کړه. ضرور څه داسې خبره وه. چه خپلو ملګروته ئې نه کوله. د جوړېدو په دې لړکښې مکالمه هم لوئې ځلښت لري. هغه دا چه ناول نګار پس له ډيرې خوارئ فقرې جوړوي. او د دې مقصد د پاره ښېره ادبي ژبه استعمالوي. هغه غواړي چه د پلاټ نه علاوه په ځېنتو او زړهٔ رانښکونکو مکالمې د لوستونکو ذهن راتېښنګ کړي. ولې د ډرامې ليکوال مجبور دے. چه په څوکهنوکښې د مطلب خبرې خلاصه کړي. هغه ته د ناول نګار هومره وخت نه وي ورکړے شوې. مطلب دا چه که چرې ناول په يو ناستې کښې خلاص هم نه شي. نو څه خبره نه ده. ولې ځنګه چه د ډرامې شروع کيدو نه د کتونکو تلوسه وي. چه شروع شي نو بيائې دے ته سترګې وي. چه اوس به څه کيږي. دغه تلوسه د هغوئ د کتو شوق نور هم سيوا کړي. بيا هغوئ د دې په انتظاروي چې کله به ډرامه خلاصه شي. چه انجام ئې معلوم شي. ځکه ډرامه نګار مجبور دے چه د وخت پابندي وکړي. او په لږ وخت کښې د ژوند يو حقيقت، واقعه يا قيمه د خلقو ته وړاندې کړي. د وخت د تنګ کلولو کبله ډرامه ليکل د ناول ليکلو په نسبت ګران کار دے. او س د لته ډراما نګار چه څه ليکل غواړي. هغه به د کردار او عمل په ذريعه ښائي هم

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دے خبرے دراماتګار ته د لیک لاره نوره هم لنډه کړه. نتیجه
ئے داوی. چه دراماتګار د مکالمو د پاره داسے مصنوعی
ژبه اختیار کړی. چه د لیکوال او د تماشګیرو شریکه ژبه
بللے شی. چه خلق ئے وائی. (د دغه وجه ده چه د یونانی
المیو ژبه ایران کښے فارسی او هند کښے اُردو وی) چه که
چرے یو ټکے هم په یوه مکالمه کښے کم یا سیوا کړے شی. نو
په اثر او مقصدیت کښے ئے بیخی فرق راځی. هغه مجبور
دے چه د دے وینا په ځائے چه د اسلم خوئے مړشو
داوائی چه د اسلم مُلا ماته شوه. یا دِ دا او وائی چه "سا
بیتا زړهٔ بائللے دے" "زړهٔ به تا عاشق یم بیا ځائے. او داسے
نورے ګڼړے خبرے. اصل کښے دراماتګار په مکالمو
کښے تکلف ډیر وی. ولے چه بے د دے نه کیدے نه شی.
که هغه د فقرو یعنی د خبرو اُوږدوالو نه کار اخلی.
نو ډرامه به د څو ګهنټو په ځائے په څو ورځو کښے ختمیږی.
د مثال د پاره به د عامو خبرو اترو نه دا خبره واخلو.
"ما چه واورېدل چه ستا خوئے مړشو. نو به ژړا سر
شوم. ځکه چه اوس به ته څهٔ کوے." ولے ډرامه ګار
به دا خبره داسے کوی." اُف ډیره دغم خبره ده چه
مُلا دِ ماته شوه. خدائے د مل شه نو". دارسطو په نزد
ډرامه کښے ژبه لوئے اهمیت لری. هغه لیکی چه "د ژبه
خوبی دا ده. چه په هغه کښے صفائی وی. خو بازاری توب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه وی. د تہولونه ډیره صفا ژبه خوبه هغه وی. چه په هغې کښې فقط د روزمره خبرو اترو الفاظ استعمال کړے شی. خو په داسے ژبه کښې ضرور بازاری رنګ وی. خود دے نه خلاف د شاعرئ ژبه فصیحه او اعلیٰ دی. او دا امیان خلق د محاورو نه ځان ساتی ـــــــ لنډه دا چه د عامو الفاظو نه سیوا هر رنګے الفاظ دی. خو که یو شاعر صرف دا قسم الفاظ استعمال کړی. ( او عام لفظونه بیخی استعمال نهٔ کړی ) نو د هغهٔ کلام به یا خو معمه معلومیږی. یا د مجذوب اوتے بوتے. که چرے خالی تشبیه او تشبیه وی. نو د هغهٔ کلام به معمه شی. او که تش اجنبی لفظونه وی. نو کلام به د چا وحشی مجذوب اوتے بوتے ښکاره شی. ـــــــ د عامو لفظونو نه دا صورت نه پیدا کیږی. د دے د پاره د تشبیهاتو استعمال ضروری دے. ۱

ډرامانګار قدم په قدم مجبور دے چه د معاشرے د بوارخ یا د بل داسے خاکه جوړه کړی. چه یوه خبره هم پکښې بے ځایه او زیاتی یا کمه نه وی. یو حرکت هم دِ پکښې داسے نه وی. چه کتونکی یعنی تماشګیر پرِ تندی کړونجے کړی. د پوخ راګ ( کلاسیکل سنګیت ) غونډِ دِ دا هم په وړاندِ ځی. او عین تر دے چه کمال (CLIMAX) ته ورسی. او بیا د تماشګیرو ذهن انجام ته راوبلی. کوم ته چه هغوئ بے سترګے

---

۱ کتاب الشعر ص۴۵ : ترجمه مولانا محمد اسرائیل صاحب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نیولی وی. چه اخر دے گرانو کشالو حل څه دے ـــــ

ډراما نګار د خپلے زمانے د تهیټر د پاره ډرامے لیکی. د هغهٔ په وړاندِ د خپلے زمانے حالات وی. هغه په ځان څه پابندیٔ لازمے کړی. د سټیج او تماشګیرو د تقاضو له کبله چې کوم روایات زیات مقبول شوی وی. ډراما نګار ترِنه کار اخلی او استعمالوی ئے. حقه دا ده چه فن مله په وجود کښے راځی چې فنکار نه د ریښتیا (حقیقت) د لټون او اظهار د پاره د ژوند د حقایقو نه څنګ کولو موقع په لاس ورشی. د غه وجه ده چې په هر فن کښے د حقائقو نه څه ناڅه څنګ کړے شوے دی. منظومو داستانونو کښے کردار و نه په شعرو کښے خبرے اترے کوی. چې دا د انسان عادت نه دے. وله د تماشګیرو او د شاعر تر مینځه د الوظنامه یا جوړه (ډرامائی مفاهمت) په غائبانه طور شوی وی. چه خیر دے ځکه انسان نه په نظم کښے د خبرو کولو اجازت شته. د غه شان چه یو مصور په سپین کاغذ تور تصویر یا په تور کاغذ سپین تصویر جوړ کړی. نو مونږ د غه تصویر غاړه لیسته منو حالانکه انسان کښے نه د غه سپینوالے وی او نه د غه تور والے ـــــ

اوپیرا (OPERA) کښے د غه بنیادی جوړه یا الوظنامه (مفاهمت) کار کړی. مونږ د څه وخت د پاره د لیکوال په خبرو یقین وکړو. چې څه خیر دے. په مځ د زمکے به داسے نسل هم وی چې د خبرو فطری انداز ئے کانا ده. مونږ به د دے

خبرہ اعتراض نه کوو. ولے چه د دغے خیالی لوظنامے او بنیادی جوړیے له مخه زمونږ خولے بندے وی. د غه شان خاموش اداکارئ او په خاموش فلمونو کښے هم د داسے خیل وجود ښودلے شی. چه د خبرو په ځائے اشارے کوی. او د څهرو په ادلون بدلون ئے د جذباتو پته لګی.

تماشتائی د دے قسم مفاهمت او لوظنامے نه بیخی انکار کړے دے

د پخو او مستقلو لوظنامو خیالی او بنیادی جوړو او مفاهمتونو نه علاوه هر فن کښے عارضی او هنګامی قسم مفاهمتونه او جوړے هم وی. دا هم د بنیادی جوړو برخے دی. او د مخصوصو زمانو د مخصوصو مقاماتو او حالاتو سره تعلق لری. د وخت په بدلیدو دا هم بدلیږی. د غه وجه ده چه دا قسم عارضی مفاهمتونه هر فن کښے پوخ او مستقل حیثیت نه لری. لکه موجوده دور کښے د دیوانو قیصے یا په ستیج د دیوانو حالات او د هغوئ عکسی شکلونه ښودل وغیره. دا ټول هنګامی مفاهمتونه وو. چه یو وخت کښے د لیکوال او تماشګیرو ترمینځه شوی وو. ولے په نننی فن کښے دا ناشونی خبرے ګڼړلے کیږی. او تماشګیر د داسے قسم کارونو کتو یا داسے خبرو اوریدو ته هیڅ کله غاړه نه ږدی. د لته د ستیج په حقله د لیکوال او تماشګیر ترمینځه شوی څو خیالی لوظنامو، مفاهمتونو ذکر هم ضروری دے. مثلاً

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نن صبا فطري نظارے (NATURAL SCENES) او مخصوص قسم لباس غوره گنړلے شي. ولے يوناني او د الزبتهـ دوخت په ډرامو کښے دے ځيزونو ته څه خاص پام نه وو.

اُردو ډرامو کښے د تهيټريکل کمپنيانو په شروع کيدو د فطري نظارو د ښودلو د پاره رنګينے پردے جوړے کړے شوے. او دغه شان لباس ته ئے هم پام شو. دغه وجه ده. چه کاوَس جي کهتاؤ "الله دين کا چراغ" سټيج کولو د پاره د سټيج ټول ساز و سامان په چيني طرز جوړ کړے وو. او دغه شان ئے لباس هم جوړ کړے وو. يو وخت داسے هم وو. چه د سټيج د ساز و سامان د نه پوره کيدو له کبله ګلوب (GLOBE) تهيټر کښے به ډَ ورځے ډرامے سټيج کيدے. او د دے تهيټر به چهت نه وو. هم دغه تهيټر کښے ډَ شيکسپيرُ (MACBETH) ډرامے د شپے منظر به هم د ورځے ښودلے شو. او صرف د کردارو نو په خبرو اترو کښے به د شپے ذکر راغے. او تماشګيرو به د څه وخت د پاره ورځ شپه ګڼړله. دغه شان به زورَ ور جنګ کښے صرف اُوه اتهُ کسان وو. ولے چه په سټيج نور کسان نه ځائيدل. دا خبره په سټيج لوظنا مو کښے راځي. برو نا تائُر د ډرامے د پنځو بنيادي لوظنامو يو چوړ او مفاهمتونو په حقله وائي چه: "د سټيج هره ډرامه' الميه وي. او که طربيه د څنے سبب له محنه په يو څو مفاهمتونو پائي. دا هر يو مفاهمت يعني جوړ

ده. چې اُوږده واقعات په څو کلونو کښې پیش کړے شي دا هم مفاهمت یعني جوړه ده چې څنګه اداکار په شعروني کښې خبرے اترے کوي. یا داسے ژبه وائي چې نه ئے مورني ژبه وي. او نه د هغوئ د ماحول ژبه وي."

د ډرامے یا ډرامائي انداز نه منشا نن صبا دا وي. لکه چې یو کار غیر متوقع شوے وي. لکه څنګه چې یو سړے د څه حادثے یا دژوند د بلے واقعے په اورید د یا لیدو حق حیران شي. او ذهن ئے پرِ سوچ شروع کړي. چې بنه ګني دا سے هم کیدے شي. دغه شان په ډرامه کښې د دے قسم حیرانتیا پیدا کولو او احساس را بیدارولو حقیقت پېښه وي د شیکسپیئر په ډرامه هیملټ (HAMLET) کښې دغه شان واقعات شته چې د سړي جذبات او احساسات را ولړزوي. کړومبي هملټ د روح ښکاره کیدل. د هغهٔ د خوئ لیونتوب او د POLONIUS وژل CLANDIUS په حًائے مغالطه کښې او د FORTINBRAS خپل کښے مقابله. د دے قسم کار ونه دي. چې اُوده جذبات رالړزوي. د ډرامے داخلي عناصرو اد ضروریاتو په حقله بروناټاټر BRUNETIERE لیو اصول جوړ کړے دے. چې په BRUNETIERE'S LAW مشهور دے. هغه لیکي چې "تهیټر کښې د ډرامے یا د سوانګ د نمائش نه مونږ د قوت ارادي د ښودلو توقع لرو. چې خپل مقصد حاصلولو د پاره زیار کوي. او د هغه لار و چارو نه پوره خبر

. چه په کوموسروی ——— د دے برعکس ناول
د داسے تاثراتو خاکه راښکلی شوی وی. چه د خارجی دنیا
په موښږ اثر انداز وی".[1] د بروناتیاثُر د دے خبرے
دا معلومیږی چه د قوت ارادی اظهار د ډرامے د
یادی خصوصیتونو نه دے.

د ډرامے د خارجی عناصرو په حقله (SARCEY) لیکی
د تماشګیرو نه بغیر ډراما هم د یو قیاس کښے نشی راتلے".
منو چه ډرامه کښے د تماشګیرو وجود ضروری دے. خو
چه هرڅه په تماشګیرو پورے دی. بخوا هم چه قصے
دلے شوے. نو پکار وه چه اوریدونکی هم موجود وے.
ن صبا هم د غه قیمه ده. ډرامه هم د یوے قیصے حیثیت
. چه په عملی شکل کښے د تماشګیرو په وړاندې کیږی یا بیږی.
دا خبره ضروری وګنړلے شوه. چه د ډراما نګار په
من کښے دِ دادا کارانو او تماشګیرو تصور هم موجود وی.
لے چه" د ډرامے وجود بغیر د تماشګیرو او دادا کارانو د تصور
ممکن نه دے".[2]

ترکومے چه د ډرامے او د تماشګیرو تعلق دے. دا خبره
ته ده. چه د فرد په نسبت په ګنړه کښے طرف داری او فرقه
ستی زیاته وی. ادبی بحثونه وی که د لوبومیدانونه دهرے
ے دلے همدردئ د ډلے سره وی. څوک د چاد یارۍ

[1] دی تهیوری آف ډراما از نکول ص۴۶
[2] ډرامه نګاری کا فن: پروفیسر محمد اسلم ص۱۴

الاکلئے او چغے اوباسی او څوک د چاد پاره . هم دغه شان ډرامه کښې هم د تماشگیرو د یَوے ډلے یاد تَهواو ته کردار سره مینه وی نو د بل کردار نه نفرت اوکړله . د کښې بیلات خبرے د نیکو بدو خپلو کښې کشمکش د تماشگیرو د تماشے کولو شوق نور هم سیوا کړی . عن ترد ے چه د یو کس یا د یَوے ډلے سره ملګری شی . او غواړی چه دا کس یا دا ډله که برے بیاموهی . نو ښه به وی . دغه وجه ده . چه د ډراما نګار په ذهن کښې د تماشگیرو تصوّر هم پکار دے . که چرے هغه دا نهٔ شی کولے چه د خپل هیرو د پاره په تماشگیرو کښې د مرستے په غرض یوه ډله پیدا کړی . نو هغه به خپل کاریعنی ډرامه لیکلو کښې کامیاب شوے نه دے ——— عموماً د طربیه ډرامے په نسبت المیه لښې دا خیز زیات بیاموند ے شی . د شیکسپیرُ دَ ډراما نګار په حیثیت د لوئے والی غټ ثبوت دا دے . چه هغه زاړهٔ شراب په نوی پیمانه کښې اچولی دی . او د خپلو تخلیقی صلاحیتونو غټ ثبوت ئے ورکړے دے . په دے معامله کښې هنستل دا خیال ساتلے دے . چه د ماحول او د معاشرے د عکاسیُ مقصد هم ختم لشی . او زړے خبرے په نوی رنګ کښې هم پیش کړے شی .

کله ناکله دا سے هم کیږی . چه یَو سرے په کنړه کښې ناست وی . نو په هغهٔ د خبرے زیات اثر کیږی . لکه وا بخلو ډرامے هغه برخه چه ستا سو خوا کښې ناست ملګری د ستر کونه او ښکے

روانې کړي. ستاسو سترګې هم نوږنې کړي. ډراما نګار دَ خلقو (تماشګیرو) دَ جذباتو سره لوبې کوي. او په څه چل خپل لیک کښې اثر پیدا کوي. د خندا په ځائے خندول او په لاس وهلو اخته کول. او د ژړا په ځائے ژړول او بیا خلق تدرلا طور باندې په دے مجبورول. چې خپله دا سے وکړي. د یَو ښهٔ ډراما نګار د فن کمال دے. د شکسپیر عوامی ذهن ورد نهٔ انقلابي او نهٔ ترقی پسند. هغه څه ئې پیش کړل چې څه پکار وو. او څه ئې لټول. په دغه چل ئې د خلقو زړهٔ نه خپل کړل. د تماشګیرو په حقله هیوګو د (RUY BLAS) په سریزه کښې لیکي چې ډراما نګار ته پکار دي چې د تماشګیرو د دریو ډلو خیال وساتي. مفکر چې کردار نګاری لټوي. زنانه چې جذبات نګاری خوښوي. ګڼړه چې د عمل تقاضا کوي. د تماشګیرو پام راګرول او بیا دا قابو کول چې ډراما په شوق وګوري، د ډراما نګار د پاره ګران کار دے. دے د پاره دا ضروري ده. چې هغه د تماشګیرو ذاتي او انفرادي شعور د خپلې لوبې په شعور کښې د رګډولو قوت لري. هغهٔ ته پکار دي چې ډرامے دِ دَ اجتماع (ګڼړے) د پاره لیکي ولے فرد دِ هم نه هیروي. ځکه چې اجتماع (ګڼړه) هم د مختلفو کسانو نه جوړیږي.

د ډرامے د دخت په حقله دګڼړو خولو دګڼړو خبرو هغه کانا شوی ده. اوس دے ډرامے په هر ادب کښې شته. په انګریزي ادب کښې د برنارډ شا ډرامے BACK TO METHUSELAH

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وغیرہ ئې کښې د وخت هیڅ پابندي نشته۔ خوعمومًا د ډرامې د پاره درې گهنټې وخت ټاکلې شوې دے۔ کردارونو ته هم د اوږدو مکالمو په ځائې لنډې لنډې او د مطلب نه ډکې مکالمې سپارل پکار دي۔ ځکه چه د یو کردار د ډیر وخت په خبرو هسې د تماشکیرو تندې کروسځ شي۔ بله دا چه یو اوږد کردار تر ډیره وخته ښهٔ کار هم نشي کولے۔ د ډرامې لیکلو په وخت د سټیج خیال هم ساتل پکار دي۔ ځکه چه سټیج د ډرامې یو ډیر ضروري جزو دے۔ او بیا" ډراما سټیج، اداکارانو او تماشکیرو د تصور نه پیدا کیږي"۔ [1] د سټیج ورو کوالے او د ښائسټ کے د ډرامې د کامیابۍ د لارے خزنۍ شي۔ ولے چه په لنډ تنگ سټیج نه خوچابک او په تادۍ کار کیدے شي۔ او نهٔ د زړهٔ د اخلاصه خبرې اترې او آوازونه کیدے شي۔ او نه په څهرو بدلیدونکي اثار او نخښې کښې ښکاره کیدے شي۔ باید چه له دے کبله به وړاندې د عامو خبرو اترو په ځائې منظوم ډول کښې ډرامې پیش کولے شوې په زړو یوناني ډرامو کښې به د سنگت (CHORUS) په موجودگي د ډرامې په تکنیک ډیر لوئې اثر غورزولو۔ یو خو به د اسنگت منظوم وو۔ او بل دا چه نخا به ورسره کیدله ځکه ئې یوناني المیه کمال ته ورسوله۔ لویه خبره دا ده چه د اول نه تر آخره به د دے ډرامے عمل د سنگت په موجودگي کښې

[1] امتیازي علي تاج: فن ډراما نگاري ص 21

پیش کولے شو۔ دا سنکت به په یو ځائے او دیو شان پیش کولے شو۔ د الزبتھ په دور کښے د شیکسپیئر ډرامو د سټیج اهمیت نور هم سیوا کړو۔ او ډراما د سټیج د مخصوصو لوازمو محتاجه وګرځیده۔ اول اول خو سټیج ساده وو۔ ډیره خواری به ورسره نه کیده۔ ولے روستو بیا دا ے هم کیدل۔ چه کردارونه به په سټیج موجود وو۔ او منظر به بدل شو۔ د مارلو (MARLOWE) جیو اف مالټا په دویم باب دریم منظر کښے بارا باس (BARABAS) بازار ته ځی۔ او یو غلام بیع کوی۔ لاډوک (LODOWICK) ورته وائی چه "او بارا باس زهٔ به هم درسره ځم" بلارا باس ورته وائی "نو راځه۔ دغه بازار دے۔ د دے غلام څه بیع ده" د متن د ویرولو او نری غوندِ خط چه دقفه څرګنده شوی ده۔ هم دغه وخت یهودی او د هغهٔ ځوان ملګرے د سټیج نه کیرچاپیره ګرځی۔ د دے نه پس چه کوم تکی لیکلی دی۔ هغه د دوی بازار ته راتک ښائی۔ دغه شان د اردو ډرامے "اندر سبها" کښے چه امانت لکهنوی لیکلی ده۔ د سبز پری دَ ینا ـ

جاتی ہوں میں باغ میں یہاں میرا کام کیا
سُن رے کالے دیو رے تو میری اک بات
آتی نہیں راجا کے گھر میں آج کی رات

او بیا سبز پری او کالا دیو باغ ته ورسی۔ دغه شان نور ګنړ منظرونه زمونږ په منظومو داستانونو کښے هم شته۔ د مجبوب

قتلا کښې ورکیدل۔ یا د کل اندامے بناپیریٔ باغ ته د شهزاده تلل او کرځیدل۔ او نور دا سے کښږ مثالونه زمونږ په خپلو داستانونو کښې هم شته۔

لکه څنګه چه وړاندې وئیلی شوی دی۔ چه په هند کښې هم سټیج د یُونان او د الزبتهه د زمانے د سټیج غوندې رو رو ترقي وکړه۔ عن تردمے چه د اودهه والی نواب واجد علی شاه په خپله زمانه کښې خپل عظیم الشان محل کښې د "رهس" د لوبولو حکم ورکړو۔ د دغو عیش وعشرت د محفلونو ذکر د واجد علی شاه په کتاب کښې شته۔ چه" بنی "نومیږی دامانت اندرسبهاچه سټیج ته ورسیده۔ نو ډرامه د کمال په لار ورسمه شوه۔ د بنګلو بنګلو منظرونوله کبله سټیج هم ترقي وکړه سټیج بنائسته کړے شو۔ پردے وُ لګولے شومے۔ او د هر منظر د پاره به سټیج جوړولے شو۔ او د منظر به پیش کولو کښې به سټیج پوره پوره کار کولو۔ رو رو تهیټر کمپنیانو د سټیج بنائست ته پام شو۔ او چه پارسیانو د سټیج د دے کار ته لاس واچولو۔ نو د سټیج لوازمات نورهم زیات شو۔ د ډرامې د پردو رواج شروع شو۔ محلونو باغونو او ځنګلونو یادا سے منظرونو پیش کولو د پاره پردے جوړے کړے شوے۔ او داداکارانو جامے او نور د بنائست سامانونو ته هم پام راوګرځیدو۔ یو وخت داسے راغے۔ چه د دغو کمپنیانو حملو کښې مقابلے شروع شوے۔ او سټیج به د تجارتی فائدے په غرض د یو بل نه ښکلے جوړولے شو۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د اغا حشر کاشمیري ډرامے په دغه رنګینو ستیجونو پیش کړے شوے.

**ډرامے وحدتونه:-** لکه څنګه چه هر فن خپل روایات لري. دغه شان د ډرامے د فن هم خپل روایات دي. یوه کامیابه ډرامه بکار ده چه په دغه ډرامائي روایاتو پوره وخیژي. دغه روایات په دریو ډرامائي وحدتونو مشهور دي. وحدتِ زمان. وحدتِ مکان. وحدتِ عمل. د دغو دریو وحدتونو سر د ارسطو د کتاب بوطیقا نه لګي. په خپل دے کتاب کښے ارسطو په وحدتِ عمل زیات زور اچولے دے. د وحدت زمان او مکان په حقله د هغه په بیاناتو کښے خپله لږ ډیر تضاد دے. وائي چه ترجیډي (المیه) د اکوشش کوي. چه حتی الامکان د دے عمل د نمر د صرف د یو ګردش د حدودو یا د دے قریب قریب پابند پاتے شي. ولے د رزمیه شاعرئ د عمل د پاره د وخت هیڅ حد نشته"[1]

د ارسطو د دے وینا نه مختلفو نقادانو مختلف مطلبونه واخستو. د آفتاب د یو ګردش نه بیل بیل مطلب وا خستے شو. حالانکه ارسطو خپله د ډرامے د اُوږدوالي په حقله لیکي. چه" اوس پاتے شوه داچه (د ډرامے) اُوږدوالے ډ څومره وي. که دے ته د ډرامائي مقابلو د نمائش حواله ورکړے شي. از بیان شي. نو دا به د فن سره تعلق نه لري ــــــــــ که مونږ د دوئ تعین د څیز د وجود او اصل په بنا کوو. نو دا به وُشي چه د ټول روئیداد په صفا او په اسانه په پوهه

[1] بوطیقا: ترجمه عزیز احمد ص۲۵

کښې د راتلو د صلاحیت سره چه څومره اوږد دی۔ دومره به د عظمت لوړتیا په لحاظ زیات زړهٔ راښکونکے او خوندناک وی۔ په مجموعی طور موږ دا وئیلے شو چه عمل به دے شکل کښې تر دیره حده فراخ او وسیع دے۔ چه دومره دِ اوږد دی چه د ارام په ځلئے پکښې تکلیف نه وی۔ یا د دے برعکس د قسمت د بدلون شو داسے مضمون پکښې ځائید ے شی چه د هغه دارمدار لازماً یا قیاساً د تېرلو واقعاتو په سلسله وی"۔ ؂۱

دا معلومیږی۔ چه د ارسطو د وخت تاکلو په حقله څه خاصه رائے نه لری۔ حقه خبره دا ده چه وحدت زمان او وحدتِ مکان د یونانی سټیج میراث دے۔ خو هسے مقلدینو د ارسطو د دوحدتونو، وحدت زمان او وحدت عمل نه علاوه وحدت مکان ته هم پوره پوره پام شو۔ که چرے داسے وُشی چه د ډرامے عمل د دومره اوږد دوی۔ چه څومره وخت ورته په سټیج یانډ پیش کولو د پاره ضروری وی۔ نو مطلب به ئے داشی۔ چه د روئیداد عمل به هډو په یو ځائے خلاص شی۔

ځنے محققین وائی چه د وخت په حقله د دے خیالاتو ابتداء د بوطیقا د ROBERTELLI XHSHO دَ تشریحاتو لوومنا حتونو نه رشوه۔ روستو بیا د غه خیالات GIRALDI GINTHIS (۱۵۵۴ء) کښې خپل کړل۔ د دوئ د وارو د عمل د پاره د ولس

---

۱؂ بوطیقا بترجمه عزیز احمد ص ۵۰

ګهنټې وخت تجویز کړو. روستو SEGNI دغه وخت سیوا کړو. او خلیرلیشت ګهنټې ئې کړو. سنه ۱۵۵۰ء کښې MAGGI په دے وخت کښې کے راوستو. او درے ګهنټے ئې کړو۔ وے MINTURNO (سنه ۱۵۵۹ء) بیا دا وخت اُوږد کړو. او تودده درځوئے ورسولو" ۔ ۱ کاستل وی ترو (CASTEL VETRO) اول د ډرامے میعاد د دولس ګهنټې مقرر کړو. او بیائے خلیرلیشت ګهنټې کړو. یعني نظری ورځ، دا لیکوال د وحدتونو په حقله لیکي چه" د پیشکش په وخت او عمل کښې پکار ده چه مکمل مطابقت او ترون وی. د عمل مناظر دِ مکمل وی. دا نه صرف دیو ښهر یا یو کور پورے محدود دی بلکه تر هغه ځایه چه سرے ورتلے وی. فرانس کښې TAILLE (سنه ۱۵۷۲ء) په یوه ورځ او په یو ځائے زور واچولو. د سپین CERVANTES (سنه ۱۶۰۵ء) د یو طربیے په حقله لیکی چه یو باب ئے یورپ کښې دویم ئے ایشیا کښے او دریم افریقه کښې پیش کړے شوے وو. CORNEILLE (سنه ۱۶۶۰ء) لیکی چه" د ډرامے د لیکوال د پاره ډیره ضروری ده. چه هغه د عمل، ځائے او د وخت د وحدتونو خیال وساتی"۔ بوائلیو (BOILEAU) په خیال "باید چه په سټیج د شروع نه تر آخره یو عمل وی. کوم چه په یو ځائے او یوه ورځ کښې پوره کیږی"۔ د یو ځائے نه وحدتِ مکان، یوه ورځ نه وحدت زمان او د یو عمل نه وحدتِ عمل

---

۱ ډراما نګاری کا فن: محمد اسلم قریشی ص ۹۱ ۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

مراد د ے۔

تولو لیکوالو او نقادانو د دے وحدتونو د خیال مرسته هم نه ده کړی۔ ځنو ئے مخالفت هم کړے دے TERENCE لیکی چه د وحدتونو پام ساتلو کښے پلاټ کښے لنډ والے او تصوراتو کښے تنګسیا راشی۔ لکه څنګه چه د زړو ډرامونه ظاهریږی۔

په کال ۱۸۲۵ء کښے ګوئټے ( GOETHE) د دے وحدتونو سخت مخالفت وکړو۔ شکسپیئر هم د دے وحدتونو څخه خاص باک نه دے لرلے" وحدت عمل بلکه د رے واړه وحدتونه که ضروری وګنړلے شی نو په دنیا کښے به هیڅوک هم د شیکسپیئر هومره ګناه ګار نه وی۔ چه هغه په هره موقعه او په هر ځائے د وحدتونو خلاف وکړل"۔ ؏۱

د هملټ په ړومبی باب کښے په اول او پنځم منظر کښے د دوو ورځو د واقعاتو ذکر دے۔ د دے نه پس د څو میاشتو وقفه ده۔ بیا د څلورم او پنځم منظر ترمینځه د یو هفتے وقفه ده۔ د دے نه باوجود هم د دے په تسلسل کښے هیڅ کے بیښے نه دے راغلے۔ د غه شان او تهیلو ( OTHELO) کښے ړومبے باب په یوه ورځ کښے مکمل شی۔ بیا سمندری سفر شروع شی۔ په دویم او دریم باب کښے څو ورځے لګی۔ دغه شان د میکبتهه ( MACBETH ) عمل نور هم او بږد وخت واخلی۔ خو د حیرانتیا خبره دا ده۔ چه بیا هم د ډرامے

؏۱ مقدمه فن شاعری از عزیز احمد ص ۱۸

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تسلسل قائیم پاتے شی۔ د دے نه دامعلومیږی چه د وحدتِ زمان پابندی هر دور کښے د یو اصول کنټرولو له مخه عبث غوندې ده۔ که دا نهٔ وی نو هم د سترے درجے ډرامے لیکلے کیدے شی۔

د غه شان "د سنسکرت په ډرامو کښے د وحدت زمان و مکان هیڅ پته نه لګی۔ باوجود د دے نه چه هغه زړے او د لوړے درجے ډرامے دی"۔ [عل] په اُردو ډرامو کښے هم د اندرسبهانه نه واخله تر دے وخته پورے وحدتِ زمان و مکان تقریبًاتقریبًا د نیشت برابر دے۔ عن تر دے چه د موجوده دور ستر اُردو ډرامانګار امتیازعلی تاج په خپله فن پاره "انارکلی" کښے د زمان و مکان د وحدتونو د پابندئ څه خاص خیال نه دے ساتلے۔ د رومبی باب په رومبے او دوئم منظر اُوږد وخت غواړی۔ د رومبی باب تر دریمه منظره د وه ورځے لګی۔ هم د غه شان ئے د وحدت مکان حال هم دے ـــ د شکسپیئر په زمانه کښے د سینریو (نظارو) پردے نه وے۔ نو چه کوم مقام به ئے خوښ وو پیښ به ئے کړو۔ لکه څنګه چه او تهیلو کښے وینس او بیترس دوه بیل ځایونه دی۔ او د غه شان میکبته کښے کله د برطانئے منظرونه ښودلے شی نو کله د سکاټ لینډ البته د هملټ ډرامه څهٔ ناڅه ELSINORE

---

عل تحقیق و تنقید : اختر اورمینوی ص ۱۶۸

قطعے د خواوشا سره تعلق لري. لکه د اُردو ډرامو د شکسپیر په ډرامو کښې هم وحدت مکان په اوړو کښې د مالګې برابر دے. دغه حال د پښتو د ډرامے هم دے. خصوصاً په تاریخي ډرامو کښې خو هډو د دے خبرے ته پام نه دے ورکړے شوے. د دے بیان نه دا معلومیږي. چه د وحدت زمان او وحدت مکان د پابندۍ نه ګولو نه باوجود هم دلوړے درجے ډرامے په وجود کښې راغلي دي. او د ډرامے د پاره د دَ دوئ منته ضروري نه ده.

وحدت عمل د ډرامے یَو لازمی جزو دے. ارسطو په دے حقله لیکي چه "څنګه چه په تخلیقي فنونو کښې یَو نقل د یو څیز نقل وي. هدغه شان ډرامه کښې روئیداد د یَو عمل نقل وي. نو پکار ده چه هغه د یو داسے عمل نقل وي کوم چه واحد او مکمل وي. اجزاءے یَو بل سره داسے تړلي وي چه که د یو ترتیب بدل کړے شي یا اُوو لیسته شي نو ټول عمل تباه شي. هغه څیز چه په وتو یا راننوتو پلاټ کښې څه فرق نه راولي حقیقت کښې هغه د پلاټ جُزو نه دے"[1]

دَ وحدتِ عمل نه اکثر دا مراد اخستے شي. چه المیه او طربیه دِ خپلو کښې ګډ نه کړے شي او یا دِ چرته په درنه سنجیده ډرامه کښې څانته اهم او ضمني پلاټ شامل نکړے شي. دَ SIDNEY دا خیال وو. چه په یوه ډرامه کښې

---

[1] کتاب الشعر: ترجمه د مولانا محمد اسرائیل صاحب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د بادشاهانو او توقیانو یو ځائے کول ښهٔ کار نه دے۔ دغه شان ADDISON هم وائي چه تو قو تقالو خبرو سره غمجن عناصر یو ځائے کول پکار نهٔ دی۔ ولے د الزبتهٔ د دور ډرامو نه دا معلومیږی چه د دے اصول هیڅ باک نه دے ساتلے شوے۔ دغه وجه ده چه DRYDEN غوندے ستر لیکوال او شاعر وائي چه" د یو مخیز سوچ او فکر سره زمونږ طبیعت لږ درو ند غوندے شی۔ د دے د پاره دمه یعنی طبیعت تازه کول ضروری ده۔ لکه څنګه چه مونږ په سفر کښے څکه دمه کوو۔ چه په اسانتیا دغه سفر جاری وساتلے شو"

یو بل لیکوال هیوګو (HUGO) په دے حقله وائي چه "مخلوقاتو کښے هر څیز ښائسته نه دے۔ د ښائست (حسن) سره سره بد صورتی هم موجوده ده۔ د ښهٔ شکل، بدشکل، د لوړا وستر په مقابله کښے پریوتی او د خندا څوکه د خیر سره شر، د رڼا سره تیارهٔ.........."

د دے جو تو بیانا تو په رڼا کښے مونږ دا ویلے شو۔ چه" ډراما د فطرت آئینه ده۔ او هر څه چه فطرت کښے ښکاری۔ د هغو په ډراما کښے ځ داخلید و حق شته"۔[1]

د ډرامے په تاریخ چه ژور نظر واچولے شی۔ نو دا خبره جوته شی۔ چه په یونان کښے هم المیه او طربیه سره یو ځائے و زیږید ے۔ مونږ لو لو۔ چه یونان کښے

---

[1] ڈرامہ نگاری کا فن: پروفیسر محمد اسلم قریشی۔ ص 12

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د دیوتاګانو په ویراندې چه کومه ګډا کولې شوه . او سرود به غږولې شو . د هغوئ د المیئ او طربیئ ځانګړې راوو وتې.[۱]
د ګڼړو ډرامانګارو په ډرامو کښې غم او ښادي یو ځائې ښودلی شوي دي . په دې لړ کښې د افلاطون PHILEBUS او د سقراط THE BANQUET د واړه د یو ځائ المیئ او طربیئ ښکلي نمونې دي . د شیکسپیئر په زمانه کښې د المیئ او طربیئ داګډون نور هم زیات شو . که یو طرف ته المیو وده وکړه . نو بل طرف ته طربیئ وړاندې اُووتې . د الزبتهه په دور چه لظر واچولې شي . نو صفا ښکاري چه یو طرف ته که شکسپیئر AS YOU LIKE IT لیکي . نو بل طرفته د هملټ HAMLET غوندې تصنیف د نیا ته وړاندې کوي . د غه شان که بن جانسن یو خوا EVERY MAN IN HIS HUMOUR لیکي . نو بل خوائې SEJANUS او CATILINE غوندې سنجیده درنې خوږې ډرامې لیکلې . ریلښتیا خبره دا ده . چه د ژوند په ویړ ډګر کښې غم او ښادي دواړه اُوږه په اُوږه تلونې ښکاري . او که په غور وکتې شي . نو د ډرامې دار مدار په حقیقت کښې د دې دواړو په مجموعي تأثر دې . ګڼړي نو صرف د نطرت عکاسي د امقصد نشي حل کولې .

**وحدت تأثر :-** په ټولو وحدتونو کښې د زیات غور

---

۱ډرامه نګاری کا فن : پروفیسر محمد اسلم قریشي . ص ۱۴۰

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جوړ وحدتِ تأثر دے. دا په دے وجه چه د دے وحدت د وحدت زمان ومکان او عمل سره لوئے تړون دے." دا وحدتونه بیل بیل درے قوانین نه دی. بلکه د یو قانون درے بیل بیل اړخونه دی". ع۱ بے د وحدتِ تاثر نه وحدتِ زمان ومکان څه خاص اهمیت نه لري. د زمان و مکان د وحدت وجود د وحدت تأثر پیدا کولو د پاره دے. د یو فنکار په فن پاره کښے لوئے خصوصیت د وحدت تأثر قائم ساتل دی. په دے لړکښے د SACREY نوم د یاد جوګه دے. هغه وائی چه کله راسے ډرامے وجود بیاموندے دے د تیرو زمانو لیکوالو خنداا او ژړا خپلو کښے یو ځائے کړي دی. خبره دا ده چه ډراما ژوند پیش کوی او ژوند کښے غمونه او ښادئ، پریوتی او ستر عناصر او ښه یی اوښه ښکاری ــــ شاعرانو د تماشګیرو په روحانی ژور تیاکانو کښے انقلاب راوستو د پاره محسوس کړه. چه یو مرکز ته ئے پام کړی. د غه شان چه خومره دوئ کښے اتحاد او یو والے وی، د ومره به مجموعی تأثر زیات پوخ او پائید دنکے وی."

په ډرامه کښے ارتکاز (CONCENTRATION) ډیر ضروری دے. ځکه چه وحدت تأثر د دے نه پیدا کیږی. ولے د دے نه دا مطلب نه دے. چه د تماشګیرو په جذباتو کښے د یو شان والے پیدا شی. نه - د یو بل سره نه لګید ونکی مختلف

ع۱ تی الیس ایلیټ. DIALOGUE ON DRAMATIC POETRY

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

جذباتو نه هم د وحدتِ تأثر وجود ممکن دے۔ په هره ښه ډرامه کښے د تماشګیرو د یو خاص مرکزی نقطے (یا خیال) ته پام وی۔ خواؤ شا ټول په یوه خوله د هغه مرکزی خیال مرسته یا غندنه کوی۔ FREYTAG یو ستر لیکوال لیکی چه هره ښه ډرامه کښے "یوخیال" ځائے شوے وی۔ او ددے اثر نه د عمل اتحاد او کردارو نه ځان ځان ته وجود بیاموی۔ او د هغه شان ټوله ډرامه وجود بیاموی"

**تصادم، ټکره یا اولجه:-** "د ډرامے بنیادی شے دے (CONFLICT) د دے نه پلاټ کښے د عمل د حرکت تخنیے پیدا کیږی۔ جارج تیلر د ډرامائی تصادم په حقله لیکی "چه یو منظر کښے داخله ډرامائی یا هسے خوندنا که خبره نه ده۔ چه دوه تنه خپلو کښے اخته وی۔ او د دے نه خبر هم نه وی چه خبره څه ده۔" [۵] حقیقت کښے تصادم یا ټکره یا اولجه د ډرامائی عمل د پاره د ګذار کار ورکوی۔ د ډرامے وجود بے د دے نه ممکن نه دے۔ ډراما نګار د ژوند د دوو متضادو څیزونو ترمینځه نا ټکی بنائی۔ او د دغه ناټکی د زیاتوالی نه تصادم یا ټکره یا اولجه پیدا کیږی۔ المیه وی که طربیه۔ د دغو اختلافاتو په مد د ډراندے حی۔ عروج ته

---

[۵] ډراما نګاری کا فن: پروفیسر محمد اسلم قریشی ص ۱۱۲

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

درنیډ و نه پس انجام ته رسي"[1] د ارسطو د وخت نه راسې واخلئ تر شکسپیره پورې تر دې وخته پوري په ډرامه کښې د دې عنصر خاص خیال ساتلې شوې دې. البته څنې روسي ډرامې داسې شته چه دا عنصر نه لري. ځکه دغه ډرامې د نورو ملکونو د ډرامو نه ځان ته هم دي. د دې عنصر اهمیت له دې معنه دې. چه د ژوند اختلافات او ناکامۍ هم بل بل شان دي. معنه وجه دا ده. چه د دې اختلافاتو او کشالونه پیدا شوې تصادم (ټکره) هم بل بل شان وي. په زړو ډرامو کښې هم د ټکرې ځینې بیا موندې کیږي. خپلو کښې د دوو کردارونو تصادم او اولجه د خیر و شر تصادم (او لجه) د یو وګړي او د ماحول تصادم او اولجه د یو قوم د رواجونو، د دودونو دستورونو د بل قوم د رواجونو دودونو او دستورونو سره تصادم او اولجه ــــ لنډه دا چه تصادم د ډرامې روح ګڼړلې شو. د دې قسمه تصادم (ټکره) چه په ډرامه کښې عمل او حرکت پیدا کړي. د طربیې په نسبت المیه کښې زیات وي. ځکه چه څومره کشاله ګرانه وي. د هومره پکښې د ټکرې او تاثر زیاتې وي. د رحم او همدردۍ جذبات پیدا کیدل ګران دي. طبعي او ذهني دوارو عناصر خپلو کښې ټکرو خوري. په طربیه کښې د دوو تنو د ذهنونو د سري یا د یو کردار او ماحول خپله کښې څه نا څه نا کامۍ وښودلې شي. خو دغه نا کامۍ په خندا کښې ورکه شي ــ بیا یوناني او سنسکرت المیه ډرامو

---

[1] ډراما نګاري کا فن: پروفیسر محمد اسلم قریشي ص ۱۲۰

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښې د کردارونو او فوق الفطرت قوتونو خپلو کښې عام تصادم ښودلے شوے دے. اصل کښې هغه زمانه کښې د تقدیر منه ډیره زیاته وه. لانګاځ به ډرامه هم اثر دشو. د غه وجه وه. چه په دغو ډرامو کښې به د ظاهری او واقعاتی کشالو نه علاوه بل څه نه وو. دغه قسم تصادم د مارلو او د شکسپیئر په ډرامو کښې هم شته. او تهیلو او ایاګو ترمینځه دغه د بهرنی قوتونو تصادم شته. هملټ کښې د هملټ د روح مثال زمونږ به وړاندې دے. دغه شان دا ُردو رستم وسهراب، انارکلی وغیره ډرامو کښې هم دغه خارجی تصادم او ادبه شته. او پښت کښې خود بده مرغه دا سے ډرامه نشته چه د خارجی تصادم ادبه مثال ترینه وړکړو.

د خارجی او ظاهری تصادم (ټکرونه) او ادبه نه علاوه داخلی تصادم هم شته چه د المیئې د پاره ضروری ګڼړلے شی. دا د کردارونو د ذهنی کشمکش په صورت کښې پیښیږی. دے کښې د یَو فرد په ماغزو کښې د یوے جذبے د بلے سره او د یَو خیال د بل سره تصادم راپیداشی. ټکره دُخوری. په طربیه کښې تصادم د ماحول سره مقابلے یا نا لګی له کبله پیدا شی. لکه یو نقلی چه د عامو خلقو بل شان لباس داچوی. بل شان خبرے کوی. او د خلقو نه بل شان تلل راتلل کوی. نو څمدی د خلقو د خنداشی. دغه شان طنز، خوش طبعی، ظرافت، ساده توب وغیره سره داخوند نور هم سیواشی. په طربیه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښې باطنی تصادم د ظرافت توقو وشنونه پيدا کيږی۔

**الميه او طربيه :-** په تيرو وختونو کښې د غمناکو واقعاتو نه ډکو ډرامو ته الميې او د غه شان د خندا خوشحالئ نه ډکو ډرامو ته طربيې او ويلے شوے. رو رو دوئ ځانته بيل بيل قسمونه وګرځيدو. او فنی لوازمات د تولو بيل شو. په الميه کښې به د غم بيان وو. او د دے غمونو د زغملو د پاره ستر کردارونه پيش کولے شو. او بل طرف ته په طربيه کښې عام او معمولی پريوتی خلقو په ذريعه خندا او توقے وشتے سنبودلے شوے. ارسطو هم دغه وائی چه په الميه او طربيه کښې د فرق دغه وجه ده. چه الميه کښې انسان غوره ښودلے شی. او طربيه کښې پريوتے. SEALIGER وائی چه طربيه کښې د ديهاتی او ادنیٰ طبقې او سيد ونکی ښودلے شی. او الميه کښې بادشاهان او شهزادګان او دغه شان الميه د طربيې په مقابله کښې ښه په تلاره شروع کيږی. خو داده چه د طربيې په مقابله کښې د دے انجام ډير ويرُوونکے وی. CASTELVETRO د دغو ښهريانو يا ديهاتيانو عاميانه عمل طربيه او د بادشاهانو عمل الميه بولی. ولے دا سے ليکوال هم تير شوی دی. چه د دے خيال مرسته ئے نه ده کړی. لکه P- CORNEILLE چه يو ځائے ليکی چه" په سټيج د شاهی خيل په کسانو کښې د معمولی محبت کشاله ظاهرولے شی. او د هغه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نه د هغوئ ژوند یا سلطنت ته د څه نقصان پیښیدو امکان نه وی. نو دا خبره مازغه نه اخلی. چې د دوئ دا عمل دِلوبه د المیئ درجې ته وُرسوی. که دا کردار ډیر هم ستر او اعلیٰ وی"ـــــ ځکه یو وخت داسې راغے. چې د لیکوالو نظریې بدله شوه او هغوئ دا اورویل" چه په یو رلینستیتی المیه کښې د همدردئ جذبات ادنیٰ او اعلیٰ دواړه د لوښه پیدا کیدے شی"۔ عد۱

لکه څنګه چه د طربیئ د پاره ضروری ده. چه انجام دِ ئے خوشحالی وی. المیه د پاره ضروری نه ده. چه آخرئ ننداره کښې دِ دَ چا په سر لوبے وشی. یعنی د چا په وینو لت پت تن ښودل څه ضروری نه ده. جانسن وائی چه په المیه او طربیه کښې اصلی فرق د هغه تأثر دے چه په هر حالت کښې ئے ذهن قبلوی. د المیئ انجام ویرونکے وی. د غمونو سره مقابلے وی. نو زمونږ د ستر کردار سره همدردئ پیدا شی. د تماشګیرو زړونه پړ وُسوزی. او په طربیه کښې دا تأثر دومره ژور او اثرناک نه وی. نو ځکه زمونږ همدردئ پوره پوره نه پیدا کیږی.

اصل کښې "کامیډی (طربیه) د بدو خصلتونو نقل (رایتبه) وی. دید وخصلتونو نه مراد د هر قسم بدی نه ده. صرف خندَوونکے بدی ترے مراد ده. چه هغه یو رنګے بد نمائی او خرابی

---

عد۱ ډراما نګاری کا فن: پروفیسر محمد اسلم قریشی ص ۱۴۱

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ده۔ د دے تعریف داسے کیدے شی۔ چه دغه داشان نقص یا بدنمائی وی۔ چه نه خو تکلیف ورکوونکے وی۔ او نه تباه کوونکے۔ د مثال په طوریو داسے څېره چه د بل د خندا وی۔ بدشکله او ورانه ویجاړه خو ضرور معلومیږی۔ ولے دومره زیاته نه۔ چه په لیدو ئے سړی ته تکلیف رسی۔"

د دے قسمونو نه علاوه په یونان کښے د ډرامے یو بل قسم هم په نظر راځی۔ چه څه ته بهٔ ئے ساطیری ډرامه (SATYRIC DRAMA) وئے SATYR په یونان کښے دیو دیوتا نوم وو۔ چه د هغه غوږونه او لکئ د اس د غوږونو او لکئ په شان وو۔ او نور شکل ئے د انسان غوندې وو۔ یونان کښے هغه ډراموته اساطیری ډرامے وئیلے شي۔ چه هغو کښے به د اساطیرو کورس وو"۔ علہ د المیۂ طربیۂ او اساطیری قسم نه علاوه د ډرامے نور قسمونه هم شته۔ میلو ډراما د یو یونانی ټکی نه ولیستے شوې ده۔ چه سندرے ته وائی۔ دا نیو داسے ډراما کنړلے شی چه ډیرے سندرے پکښے وی۔ دا د OPERA سره هم لږ ډیر سمون خوری۔ سوانگ هغه ډراما ده چه ډیر پریوتے مذاق او د مبالغے ډک ظرافت او توقے د ښتے پکښے ښودلے شوې وی۔" یورپ کښے د طربیۂ معیار د دومره پریوتے وو۔ چه د سوانگ ډرامو رواج شروع شو۔ هند کښے هم د سنسکرت د ډرامے د زوال

---

علہ ڈراما نگاری کا فن: پروفیسر محمد اسلم قریشی ص ۱۱۲

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

نڅېس سوانګ او بهروپ بيا د رقص شکل کښې پېش کيدے. درېيم هم د ګډوډ د ډوو (مخلوط) قسم ډرامو يوه څانګه ده. دا هغه ډرامے ته وائي چه نه خوطربيه وي او نه المېه د طربيې سره څکه سمون نه خوري. چه د طربيې د مثالي کردارونو په ځائے د دے کردار منفرد قسم وي. د الميو نه په دے جدا دي. چه د الميې غوندې کردارونه او جذبات پکښې لښي پېش کولے. ولے د دے انجام غمناک نه وي. او نه ئے پلاټ د لوړتيا له مخه د الميې هومره عظمت لري.

**د ډرامے جوړښت (تکنيک):-** د ډرامے د ټولو نه لوئے صفت لنډ والے (اختصار) دے. د غه ايجاز او اختصار هغه صفت دے. چه ډرامه د ناول نه جدا کوي. او دغه يوه لويه پوله ئے ترمينځه وهي. ارسطو ډراما د يوساعت د پاره ګڼړي. په ګڼرو تيرو وختونو کښې د ډرامے اوږدوالے بل بل شان وو. عجيبه دا ده. چه ايتهنز به اوسيدونکو کښې د برداشت ماده ډومره زياته وه. چه د ټولو نه سترګ الميې د غلته ليکلي او ستيج شوي دي. په دغو کښې څنې ډرامے ډومره اوږدے وے. لکه چه رامائن مهابهارت څوک نن په ستيج پېش کړي. ولے اوس قيصه بدله شوه. وخت لږ دے او کار ډير. هرڅه کښې اختصار خوښولے شي. د الزبتهه د زمانے نه د ډرامے د وخت اوږدوالے زيات

نه زیات ددهٔ درے کھنی وو۔ ځنې ډراما نګارچه د ستیج نه نااشنا دی، دا یسے ډرامے لیکی چه د ستیج د پاره هغه مختصر کول غواړی۔ FREJTAG وائی چه د SCHILLER غونډې ستر ډراما نګار د پاره هم داګرانه وه۔ د ستیج د فن نه واقفیت او بلدتیا د ډراما نګار سره په ډیر کښې لویهٔ لاس کوی۔ چه ناول نګار پرِ نه پوهیږی۔ ناول نګار د خپل خیال د ښکاره کولو د پاره اوږدے سرېږے لیکی۔ او ډراما نګار په څو منظرونو د اخبره رالنډه کړی۔ زمونږ پښتو ډراما نګارو کښې حمزه شنواری او سمندر د نورو په مقابله کښې په خپلو ډرامو کښې د اختصار ډیر خیال ساتی۔

ډراما او کردارونه خپلو کښې پوخ تړون لری۔ نن نه دوه زره کاله اګهو ارسطو په کردارونو زورا چولے وو۔ د دے کښې هیڅ شک نشته۔ چه ډرامه په قیصه هم کامیابیږی۔ څوک خو لا دا وائی چه د ستیج تعلق بلاثت او عمل سره دے۔ او کردار نګاری څه ادنی حیثیت لری۔ ولے هنری آرتهر جونز لیکی چه" د ورو غونډو به به د تهیټر تماشګیر د لیکوال نه دا غوښتنه کوی چه مونږ ته قیصه داوُره وه ــــــ ولے به لوبه کښے کا چرے د قیصے د واقعاتو او حالاتو د کردارونو سره ډیر تعلق نه وی۔ هغه به عبث او بے معنی خیزوی۔ پکار ده چه دا (قیصه) صرف د کردارونو د ودے د نمائش یوه ذریعه

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وی." معلومه داشوه. چې د ډرامې د پاره قیصه هم ضروري ده. ولې ترکومه حده چې ژوندي کردارونه په دې کښې عمل او حرکت پیدا نه کړي. د ډراما نګار ټول خواري عبث دی. قیصه د چا خوښه وي. د چا بدې شي. د چا کومه قیصه خوښه وي او د چا کومه. د وخت په بدلون د قیصو د جوړښت تقاضې بدلیږي. هغه ډرامې نن په دې ایټمي دور کښې موږته د مافوق الفطرت عناصرو قیصې د پیریانو د پوانو قیصې د کوه قاف د ښاپیرو قیصې، توتې وښتې ښکاري. نو داسې معلومیږي چې هغه صفت د ښې کردارنګارۍ دے چې د ډرامې لیکوال پرے تل تر تله یادیږي. سر سر کښې ډراما نګار د پلاټ واقعات او اسباب وعلل په فني ترتیب په ښود نه د خلقو پام ځان ته راکرځوي. د غه ځائے کښې د ه ته پکار ده. چې د خپل تخیل د تخلیقي قوت نه کار واخلي. او داسې کردارونه بیاموي. دغه کردارونه د ژوندي وي. په دوکښې د د انساني اعمالو او افعالو ننداره وي. د دوئ هر حرکت د انسانیت نه ډک وي. چې تول عمري نوم وګټي. د شکسپیر ډرامې نن هم یادیږي. میکبتھ، هملیټ، دی مرچنټ آف وینس کښې کتر کردارونه نن هم ژوندي دي. او بیا به هم ژوندي وي. د SHYLOCK غیر فاني کردار نن هم موږ ته خپل خوائے ښا د بینو کوري. په کردارنګارۍ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښې د خلوص صداقت او نفسیاتي کېدون له مخه څنګه ډرامې لوړه درجه بیاموي. د انسانیت عکاسي هله ممکنه وي، چې کردارونه ژوندي وي. د ژوندیو کردارونو په وړاندې ژوندي کردارونه پیش کول د ستر فنکار د لیاقت نخښه ده ـــ د ډرامې د لیکوال د پاره ضروري ده چې خپل ځان (شخصیت) د خپلو کردارونو نه بیل وساتي. د ناول لیکوال د خپلو کردارونو سره ځائے په ځائے ګډون کوي. او ورسره ورسره ځي. بلکه چې د وه ملګري یو بل ته لاس ورکړي او ځي. ولې ډراما نګار دا سې نشي کولے. هغه مجبور دے. چې د خپلو کردارونو نه ېڅنګ وُسي. د هغه دا حق لشته. چې د خپلو کردارونو په اعمالو کښې د څه قسم دخل ورکړي. یا په خپل پیشکش د څه قسم رائے ظاهره کړي. ناول نګار د خپلو کردارونو سره څکه خپل شخصیت ورګډوي چې د کردارونو په وضاحت کښې د هغه ضرورت پیښیږي. کردار چې څه کړي هغه هم بیانوي. او ناول نګار چې د هغه شي په حقله څه سوچ کوي هغه هم ظاهروي. او د لوستونکو د خیالاتو هم خیال ساتي. ولې د ناول نګار په مقابله کښې ډراما نګار مجبور دے. چې په سټیج هر کردار په خپلو پښو او دروي. کردارونه خپله پیژندګلو په خپله کوي. او په خپلو کارونو، اعمالو خپل ځانونه څرګندوي. که یو کردار د تورزنۍ دعوی لري. نو هغه به د تماشګیرو په وړاندې د تورزنۍ ثبوت ورکوي. پش د ډراما نګار په وینا کار نه کیږي. د ډرامې هر کردار مونږ په

سټیج د پیښو کوروـ او که ډرامانګارے په اہل رنګ چه د اصل نه مختلف دی، پیش کول غواړی. نو زمونږ دا حق شته. چه تنقیدی پرې ګرد بحث کړو. د دے د ومره مجبوری نه لیس هم که ډرامانګار د کردار په ذریعه عمل خبرے اترے او پیژند ګلو په ښه ډول پیش کړی. نو دا ئے ښت کمال

کردار په دوه. دولو وجود بیامومی. اول د پلاټ د پاره چه پلاټ کښے حرکت پیدا کړی. دویم د ځان د پاره. ډرامه نګار د کردارونو د ژوند د هغو برخو هیڅ خیال نه ساتی. کومے چه د پلاټ سره تعلق لری. یا پلاټ ته ژوند نه بخښی. او س دا د کردار مجبوری ده. چه هغه څه وکړی، څه چه پلاټ کښے وی. ډراما نګار دے ته نه ګوری چه د کردار تیږ وخت څنګه وو. یا راتلونکے وخت به ئے څنګه وی. هغه دا ګوری چه دا کردار پلاټ کښے څه کوی. څه بخښے تر نه څرګندیږی.
شکسپیر خپله هم IAGO, EMILIA, JAQUES وغیره په حقله څه پوره لیک نه دے کړے. ولے بیا هم د دغه کردارونو په خپل ځائے ښه پوره او مکمل دی.

د ډرامے او د کردارونو د ذات په حقله د څه زیاتی ویلو یا لیک ضرورت نه وی. په ډرامې ځل کتونکی یا لوستونکی ته ګرځی. د لنډ یږمے پیژند ګلو نه لیس هم مونږ دوی پیژندے شو. چه دا فلانے کردار دے یا وو. او دا فلانے. د ښے ډرامے کردارونه د مختصر کیدو نه لیس هم مکمل او جامع دی. پلاټ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کښې لوړتیا او انفرادیت پیدا کول د کردارونو په صلاحیتونو او
هنرمندئ پورے ده. څنګه کردارونه داسے وی چې د طریقې
پېش کولو د پاره موزون دی. او څنګه د الميئ د پاره. داسے
کردارونه هله کمال ته رسی. چې داسے اداکارانو کارکوونکو
ته وسپارلے شی. چې هغوی هغه کردارونه په ښه ډول
پېش کولے شی. په کردارونو کښې اختلاف د پلاټ د اختلاف
نه راولاړیږی. که د دوه مختلفو زدیدادونو کښې لیکوال
غواړی هم چې د دغه کردارونه خپل مخصوص اوصاف او ځانګړې
خوبئ قائمے وساتی. وئے بیا هم د دے تضاد او اختلاف نه ځنګل
نشی کولے، کوم چې پلاټ او کردارونو کښې وی. د کردار عمل
خپله دا څرګند دی. چې کردار کښې کوم کوم صفات دی. او کوم
کوم ورله خوښ کړے شی. ښه ډرامه کښې کردار د پلاټ په جوړښت
(تکنیک) کښې لوئے لاس لری. او قیصه داسے شکل بیا مومی،
چې څنګه ئے کردارونه وی. پلاټ او کردار د یو بل نه
بیلیدے نشی. او ډیر ژور تعلق لری. څنګه و یلے شی.
چې ډراما نګار د کردارونو په حقله دومره قدر دانئ چې تر
څومره وخته پورے هغوئ په لوبه کښې حصه اخلی. لیکوال
که هغوئ ته پام کوی. نو صرف ډراما کښې. د سټیج او ډرامے
تجربه چې د هغوئ څه خوښ وی کوی دے. د قیصے جوړولو
په طریقو کښې یوه طریقه دا هم ده. چې د لیکوال په وړاندې
کردار یا کردارونه وی. او هغه د ټولو نه واقف وی.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(په کردار مفصل بحث په بنیادی عناصرو کښې شوے دے)

هغه د هغه یا دَ هغوئ شعوری او تحت الشعوری کرکیچونو او انقلابی جذبے د ښکاره کولو د پاره پلاټ جوړ کړی۔

"مولیئر LE BOURGEOIS GENTIL HOMME کښې دَ M. JOURDAIN کار خپله کړے وو"۔[1] معلومیږی دا چه د دهٔ په ذهن کښې M. JOURDAIN کردار د وړاندے نه موجود وو۔ چه د هغه د پیش کولو د پاره ده د پلاټ خاکه تیاره کړه۔ د شیکسپیئر په ډرامو کښې هم د دے مثالونه شته۔ "که دا معلومه نه ده چه د هملټ پلاټ KYD د یو زړے میلو ډرامے نه اخستے شوے دے نو مونږ به په جار وئیلی وو۔ چه د شکسپیئر په ذهن کښې د هملټ کردار دَ وړاندے نه موجود وو۔ او ئے د هغهٔ د پیش کولو د پاره ئے پلاټ جوړ کړو۔"[2]

زمونږ په پښتو ډرامو کښې دَ "عملی" ډرامے د علی دکردار نه داسے معلومیږی، لکه چه د الیس اے رحمان کاکاخیل په وړاندې د غه کردار وو۔ چه ډرامه ئے پرے ولیکله۔

دکردارونو ستر صفت دا دے چه خپل کار ترسره کولے شی۔ ځکه لیکوال داسے هم تیر شوی دی۔ چه د خلقو د خوشحالولو د پاره پلاټونه جوړ کړی وو۔ د یر لږ داسے کردارونه پکښې وو۔ چه شخصیت ئے هم لرلو او انفرادیت هم مطلب دا چه که د هغوئ نامے بدلے کړے شی۔ او د غه

---

[1] و [2] ډراما نگاری کا فن: پروفیسر محمد اسلم قریشی ص ۱۵۴

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

کردارونه نورو د راموکښې ورګډېږي کړے شي۔ نو هیڅ پته به ئې ونه لګی۔ د دغو قیصو هیرو تل ښائسته وی۔ مړنے وی په مینه کښې د سره تیر وی۔ هیڅ عیب پکښې نه وی۔ هیروئن ئې هم ښائسته وی۔ د خپل رښتونی عاشق د پاره هغه هم د هر څه نه تیریږی۔ VILLAIN ئې د خپل مقصد پوره کولو د پاره بے د ریغه په هر قسم اصولو سترګے پټې وی۔ په دۀ بے د هیروئن نور څوک ښۀ نه لګی ——— دغه کار به اطالوی ډراما نګارانو کولو۔ او خپل تماشګیر به ئے په دے چل خوشحالولو۔ کردارونه به ئې په پلاټ شندل۔ ولے نن هم د شکسپئر "رومیو جیولټ" ډرامه خلق په هغه شوق او په هغه مینه ګوری۔ ځکه چه په ډرانډ خلقوکښۀ۔ غټه وجه ئې دا ده۔ چه کردارونو کښې ئې یو خاص عظمت او لوړتیا ده۔ په دغو کردارونو کښې داسے کردارونه هم شته چه د تل عمری جذباتو عکاسی کوی۔ د اُردو ډرامے "انار کلی" او د پښتو ډرامے درد او د دینو جلم کښې د دے قسمه ژوندی کردارونه شته۔ چه نن هم د تماشګیرو د جذباتو سره لوبے کولے شی۔

د انفرادیت پیژندګلو د پاره مکالمه یوه ښه وسیله ده۔ اصل کښې دغه وسیله د عمل یوه برخه ده۔ د مکالمے په حقله ورانډې د بیرڅه لیکلی شوی دی۔ صرف دا عادے د پاره بیا دومره ذیلو چه د مکالمے هر ټکے او هره جمله

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دِ د ژور فکر نه لیس جوړه شوی او بیا دِ کردارونو ته سپارلی شوی وی۔ TOLMAN لیکی چه" مکالمه کښے د هیرو صرف هغه خصوصیات څرګندول پکار دی۔ چه په ریلشټیا د پلاټ په عمل اثروکړی" په ډرامه کښے کمزوړے مکالمے په کردار نګاریٔ لوئے اثرغورزوی۔ د OVER CHARACTERIZATION په شکل کښے ډراما نګار د کردار په اُوږو د مکالمو پو درونډ باراچوی ۔ د مکالمے په ذریعه د پلاټ وضاحت کیږی۔ نوځکه داهم د عمل یوه برخه ګڼړلے شی ۔ چه ورسره ورسره د کردار په عامو او انفرادی اوصافو رنړا اچوی۔

مکالمے په دوه ډوله د کردارونو په پیژندګلو کښے زمونږ سره لاس کوی۔ یو داسے چه یو کردار د بل کردار سره خبرے اترے کوی۔ بل داسے چه د دے کردار په حقله د نورو د کردارونو خیال ښکاره کوی۔ د یو کردار خبرے د هغهٔ داعمالو او کارونو د سنجولو د پاره د پیژندګلو کار ورکوی۔

*تا مرد سخن نګفته باشد ✧ عیب و هنرش نهفته باشد*

کله داسے هم کیږی۔ چه کردار د خپل ځان په حقله دروغ والیٔ۔ او اصلیت پټوی۔ دلته تماشګیر په دے مجبور شی چه د ډرامے د مجموعی تأثر په رنړا کښے د هغه کردار دروغ ریلښتیا معلوم کړی۔ حالانکه یو ستر لیکوال که دیو کردار د پاره داطریقه خونبوی نو د هغه څه خاصه منشا وی۔ هغه داکوشش کوی۔ چه د کردار ذ زړهٔ د کومی نه د هغهٔ بنیادی اوصاف راوباسی۔

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

په دویم ډول د امدادي کردارونو د مکالمو په برکت موږ د یو خاص کردار په حقله څه ناڅه خبرېږو. د امکالمې د یو خاص کردار د بیاناتو او اعمالو د رلینتیتوالي (صداقت) مرسته کوي. دغه زیاتي (اضافي) کردارونه په یو خاص کردار د هرلوري نه غور کوي. او د هغه کردار صداقت ښکاره کوي. لکه څنګه چه په تیرو صفحوکښې ذکر راغلی دے. خود کلامي (SOLILOQUY) هم د کردار د خیالاتو ارادو او د احساساتو عکاسي کوي. څهٔ وخت یو کردار د ځان سره خبرے اترے کوي. د دے کښې هیڅ شک نشته. چه ډراما نګار او تماشکیرو تر مینځه د دے قسم جوړښت (مفاهمت) په ډیرو رازونو پردے اچولې وي. د دغه عمل د کردار باطني خیالاتو په پوهیدو کښې د تماشکیرو مدد کوي. دغه د ډراما نګار لوئے هنر دے. چه د کردار د زړهٔ خبرے د نیا ته په دے چل ښکاره کړي خودکلامي اول اول انګریزي ډراموکښې ډیره وه. د دے څنګه چه وخت تیریږي. د ځنو ډراما نګارانو په خیال دا ښهٔ ګڼړلے شو. یو ستر ډراما نګار جونز د خود کلامي د مورسیتے کولو سره سره د دے ته CHILDISH وئیلي دي. او وائي چه " هغه خبرهٔ چه اظهارئے د مکالمے په ذریعه په غوره طریقه کیدے شي. د هغې په ځائے "خود کلامي" د رکډول نامناسبه دهٔ " د سترو لیکوالو په ډراموکښې خود کلامي د یو خاص مقصد د پارهٔ استعمال شوی ده. لکه دا چه د کردار د عملي منصوبې

وضاحت او بیان اوشي ـ او د کردار د زړهٔ خبرے اوپټے جذبے ښکاره کېږي. شکسپیرؔ خپله هم د دے (خود کلامۍ) نه فائده اخستې ده ـ او ''تهیلو'' د دے ډیر ښهٔ مثال دے.
دَ اياګو په کارو نو پوهیدلو او د نورو کردارونو سره د دهٔ تعلقاتو او اعمالو کښے فرق ښودلو د پاره د دهٔ خود کلامي هر څه څرګند وي. "۱۲ په څنګ اردو ډراموکښے هم خود کلامي عامه ده ـ ولے د پښتو په زیاتو بلکه تقریبًا په ټولو ډرامو کښے (چه تر اوسه لیکلي شوي دي) د دے نه ښکلکړه شوے دے ـ او که چرته، شته هم نو ډیر جامع اولنډ صورت کښے بیاموندے شي ـ
وړاندې د دے نه چه د ډرامے د پلاټ په حقله څه اولیکو ـ دا غوره ده چه د پلاټ او د قیصے فرق څرګند کړے شي ـ "عمومًا پلاټ او قیصه یو شے ګڼلے کیږي ـ لیکن که غور اوکړو ـ نو پلاټ او قیصه کښے به فرق څرګند شي ـ او دا فرق ډیر باریک فرق وي ـ قیصه د واقعاتو مسلسل بیان ته وائی ـ او پلاټ د واقعاتو ترتیب او جوړښت ته وائي.
هره قیصه کښے پلاټ وي ـ لیکن پلاټ له دا ضرور ده چه واقعاتو هم جوړیږي ـ چه قیصه پکښے نه دي ـ بلکه دا چه هره قیصه د ډرامے د پاره هم مواد نه مهیا کوي ـ ځکه چه قیصو کښے د ډرامائي کیفیات په ځائے سیرت نګاری، د ماحول عکاسی، د کردار نفسیاتي تجزیه

۱۲ ډراما نګاري کا فن : پروفیسر محمد اسلم قریشي ـ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

وی . او د دے شیانو عکاسی په بیانیه انداز کښے خو کامیابۍ سره کیدے شی. لیکن په ډرامه کښے د بیانیه انداز په ځائے مکالمے وی . او که د مکالمے په ذریعه د ماحول عکاسی او کردار ذهنی تجزیه د هغې دخلي نه شروع شی. نو ډرامے په رفتار کښے سکون د ډرامے له تکنیک او اصولو څخه خارج دی. ډراما نګار همیشه دا کوشش کوی . چه د هغه د ډرامے په پلاټ کښے روانی وی او پلاټ دِ وُنه دریږی. یعنی هغے کښے سکون رانشی"[۱]

**پلاټ او ډرامه :-** پلاټ د انګریزئ ژبے ټکے دے. لغوی معنی ئے علاوه د نورو معنونه دا هم ده. د زمکے هغه ټوټه چه د کور سره خوا کښے د څه مقصد د پاره پرلیبی شوی وی . د کړے سره نزدے نزدے د پلاټ عام ادبی مفهوم دا دے. چه په هغه کښے د پلاټ تشبیه د یوے خاکے یا نقشے سره ورکیدے شی. چه په یو خاص طور رابنکلی شوی دی"[۲]

دا خبره ټول منی چه د هرے ډرامے بنیاد په یو پلاټ وی. او پلاټ کښے عموماً د څه قسم تصادم (خپلو کښے ناتکی ارتکره) نبودلے شوے وی. دا تصادم ( CONFLICT ) که د خلقو ترمینځه وی یا د دوئ د جذباتو خواهشاتو تصادم دی. که خیر و شر کښے وی. یا که نور څه کښے. خو قدم په قدم تر نه یوه کشاله رادلاریږی. کله د رواج او ماحول سره جنګ کله د تقدیر خلاف جنګ. کله

---

[۱] ډرامه ـــ ظفر مرزا "اولس" فروری ۱۹۶۵ء

[۲] مفن مه "درشهوار": محمد یوسف بابا خیل و عبدالرؤف نوشهروی.

د څه سره تصادم او کله د څه سره ـــــ او س په پلاټ کښې چه تصادم او کړ ایچونو کښې کله راولي نو هغه یو ستر کردار وي. چه د شروع نه تر آخره د ډرامې په هر عمل قابض وي. د ده سره ډرامه کښې خاموشي او چستیا راپیدا کیږي. چه د ډرامې د ناکامۍ باعث شي. ارسطو د روئیداد او پلاټ د ماهیت په حقله لیکي چه" د هرې لوئې المیې په خاځانګي شپږ اجزاء (عناصر) وي. چه د ټول سره یو ځای شي. نو د دې خاص نوعیت یا ماهیت باعث ګرزي. (۱) روئیداد (۲) اطوار (۳) ژبه (۴) تأثرات (۵) آرائش (۶) موسیقي. په دې عناصرو کښې د ټولو نه ډیر اهم د واقعاتو مجموعه یا روئیداد او پلاټ دے. ځکه چه المیه (څو) د بنیاد مو نقل نه دے د کردار نو (انسانانو) نقل دے. د ژوند وین د آرام او بې آرامۍ. ولې چه آرام او خوشحالي په عمل کښې پټه پرته ده. او هغه خالص څیز چه کوم د ژوند خاص مقصد دے. هغه یو مقصد نه عمل دے. صفت نه دے. او د بنیاد مو په اطوارو کښې محض د هغوئ خصلتونه یا صفت شامل وي. آرام یا بې آرامي د وئ ته د خپلو عملونو په سبب حاصلیږي. پس المیه د اطوارو د نقل کولو په خاطر د عمل پېښې نه کوي. خو د عمل په نقل کښې د اطوار پېښې یقیناً شاملې وي. د دې د وجې نه عمل او روئیداد د المیې خاص مقصد وي. او په هر څیز کښې اولنۍ او بنیادي مقصد اهمیت لري."[۱] او بیا د ارسطو په نزد" روئیداد و نه په دوه

---

۱. کتاب الشعر: ترجمه د مولانا محمد اسرائیل صاحب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

قسمه دی (۱) ساده (۲) پیچیده۔ ځکه چې هغه عمل هم چې دکوم نقل په روئداد کښې کیدے شي، په دوه قسمه وي۔ زۀ هغه عمل ته (چې په هغه کښې مقرره تسلسل او وحدت ضروري پکار دے) ساده وائم چې د هغه غمناک او غم لړلے انجام د انقلاب یا دلتهون نه بغیر په وجود کښې راشي۔ او پیچیده هغه دے، چې د هغه انجام د انقلاب او دلتهون دواړو یا دواړو نه د یو په وجه واقع شي۔ انقلاب او دریافت هم د روئداد د ترکیب نه پیدا کیدل پکار دي"۔

پلاټ کښې ادلون بدلون او په عمل کښې ژوند او ګرمي په حقیقت کښې د ډرامے د پاره ضروري څیزونه ګڼړلے شي۔ د هغه تصادم د ډرامے په سر کښې شروع شي۔ او د نتیجے په راوتو د ډرامے عمل ختم شي۔ د امینځنۍ مرحله د قیصے یا د پلاټ مخ په وړاندې تګ د پاره دي۔ چه ځائے په ځائے په کښې ادلون بدلون راځي۔ د هغه ادلون بدلون په طریقه څرګندیږي۔ د سرند چه کوم کړلیچونه او کشالے پیدا شوي دي۔ قیصه سره سره ځي۔ او داسے ځائے ته ورسي چه اوچ ته راوړي۔ ګڼړو ډراما نګارانو د ډرامے د پلاټ د پاره یو ډراماني خط وضع کړے دے۔ هغه دا دے۔




Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

اصل کښې دغه نقطې ته پنځمه کنړلې شي. ځکه چه پنځمه او شپږمه نقطه یوه لار کښې راځي. د ورومبي نقطې نه مراد ابتدائي واقعه ده. د دویمې نقطې نه مراد د واقعې رو رو څرګندیدل دي. دریمه د کمال په لوري تګ. څلورمه کمال او پنځمه تنزل (خ په ښکته راتلل) او شپږمه انجام بللې شي. د ډرامې د شروع چه تمهید (INTRODUCTION) بللې شي، نه مراد پیژند ګلو ده. یا د تیرو شوو واقعاتو جزئیاتي تشریح ده (EXPOSITION).

د ډرامې په ارتقائي مرحلو کښې ورومبۍ مرحله پیژند ګلو نه پس هغه ابتدائي واقعه یا واقعات دي. چه د کشالې شروع ترینه کیږي. او تصادم رو رو څرګندیږي. د دې مرحلې نه پس عمل د عروج په لور روان شي. په پلاټ کښې وده (GROWTH) او کړنلیچونه (COMPLICATIONS) څرګند شي. دغه حصه کښې د ډرامې تصادم زیات ښکاره شي. د تغیر نقطه چه کمال (CLIMAX) ګڼړلې کیږي، هغه ځائې دي. چه په کړو متضادو او مخالفو قوتونو کښې یو دا سې قوت په دې ډول څرګند کړي. چه کامیابي او کتها ئې یقیني شي. دغه د تغیر د عمل ارتقا بللې شي. د کړو عناصرو خپلو کښې کشاله پلاټ کمال ته ورسوي. او دغه ځائې تما شګیر صفا او ویني. چه اوس به نتیجه د تنزل په لار ورسمه شي. د دې مرحلې نه پس د

ډرامې په عمل کښې تنزل (FALLING ACTION) شروع شي دا هغه ځائ وي، چه عمل کښې رو رو تحليل (RESOLVE) ښکاره شي. او ډکرانو کشالو حل (DONUEMENT) څرګنديږي. مطلب دا چه د ے ځائ کښې ډکرانو کشالو د نتيجو او حل انکشاف کيږي. او ډکرانو کشالو د مخه پرده پورته کولے شي.

آخرنۍ مرحله انجام (CONCLUSION) بللے شي. دلته د ډرامے تصادم ختم شي. د نيرو مشوو واقعاتو يوه نتيجه راوځي. که ورانے وي که ودانے. تخريبي (DESTRUCTIVE) وي که تعميري (CONSTRUCTIVE). دلته په د ے مختلفو مرحلو څه لنډ ے شان بحث ضروري د ے. د تمهيد يا پيژندګلو (INTRODUCTION) نه دا مطلب وي. چه څنګه په ډرامې کښې کردارونه ښکاره شي. تماشګير دا غواړي چه دوئ ويپيژني چه څوک دي دوئ به څه کوي. خپلو کښې به ئې تعلقات څنګه وي. ځکه چه دوئ ترنه وراندِ خبر نه وي. نو ډراما نګار په د ے برخه کښې د غه پيژندګلو ګوري. داځکه د ډراما نګار د پاره هم ګران وي. که د ډرامې رد ئيداد ډير هم ساده وي. ولے بيا هم د شروع په پوهولو کښې ګرانے پيښيږي. او بيا چه موضوع ګرانه وي او کردارونه ګڼ ـ نو دا کار خو نور هم ګران شي. اول اول ډراما نګارانو د د ے مفصل د پاره افتتاحيه (PROLOGUE)

په ډراما کښې ورکړې ولې. دا دیو مخصوص کردار په ذریعه یو تقریر وی. چې د شروع په حقله څه اووائي. EURIPIDES او SENECA کښې دغه نمونې شته. د شکسپیئر په څنو ډرامو کښې هم تمهیدی خودکلامی دا خبره ظاهر وی. RICHARD 3rd کښې د GLOUCESTER خودکلامی د دے قسم ده. دغه رنګ دا تقریر کله کله په مکالمو هم بدلولے شی. د DRYDEN وینا ده چې دا طریقه عبث ده. ځکه چې تماشکیر دے ته هیڅ پام نه کوی. د شکسپیئر په TEMPEST کښې د دویم منظر کښې HORATION بیان هم دغه رنګ دے. د PROS PERO اوږد بیان چې د ډنمارک او ناروے خپلو کښې سیاسی تعلقات څرګندولو د پاره شامل کړے شوے دے. هم د تمهید حیثیت لری.

د ډرامے لیکوال ته بکار ده. چې دا سے وضاحتی او تشریحی تقریر د مکالمو په شکل کښې پیش کړی. هغه د کردارونو په ذریعه دِ دا مطلب ترسره کړی. چې د ډرامے نه ځان ته او بیل نه ښکاری. دا د پیښیدونکو حالاتو په حقله د موزونو اشارو حیثیت لری. نوښه دا ده چې دا تمهید یا پیژندګلو دِ واضحه اولنډه وی.

د ډرامے د اصلی عمل ابتدا د قیصے د شروع نه وُشی کله ناکله د عمل شروع د ړومبی منظر نه وُشی او کله کله لږ روستو. ولے ښه دا ده چې په ړومبی باب کښې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

دِ دیوے واقعے نہ عمل شروع کړےشی۔ FREYTAG لیکی چہ دا ابتدائی واقعہ د ډرامائی عمل د پارہ یو محرک قوت دے۔ څنې لیکوال داهم لیکی چہ د ډرامے شروع دِ دَ څہ خاصے واقعے نہ وشی۔کلہ داسے هم کیږی۔ چہ دیو کردار پہ زړہ کښے رو رو یا پہ تادئ څہ خیال راشی۔ او بیا هم د خپلو منصوبو پہ عملی رنګ کښے پیش کولو د پارہ پہ پلاټ عمل شروع کړی۔

د ابتدائی تیجے سرہ هډو پہ پلاټ کښے کړ لیچونہ شروع شی (COMPLICATIONS) او عمل د کمال پہ لور رواں شی۔ د کردارونو د حالاتو نہ پس ضروری دہ چہ دوئ د ماضی پہ رڼا کښے وده کوی۔ داسے نہ ری چہ زیاتی عناصرئے د څرګند یدو غرض او منشا ختم کړی۔د ډرامے اصل غرض دِ ښکارہ شی۔ او د دے تفسیر (EXPOSITION) د پارہ دِ د مکالمو نہ کار واخستے شی۔ غیر ضروری مناظر هم د ډرامے پہ برتګ لیعنی ارتقا او ودہ او ترتیب کښے د لارے خنډوان ثابتیږی۔ د شکسپیئر پہ HAMLET دکښو نقادانو دا اعتراض دے۔' چہ د سرنہ تر اخرہ پہ دے ډرامہ کښے داسے مواد هم شتہ۔ چہ د پلاټ سرہ ئے ډیر کم تعلق دے۔ او هډو پہ څنو ځایونو کښے خودا لږ تعلق هم نہ لری۔" [1] د فطری مناظرو پہ پیش کولو کښے خاص

---

[1] ډراما نګاری کا فن: پرفیسر محمد اسلم قریشی ص ۱۹ -

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

خیال ساتل پکار دی۔ په پلاټ کښې کړ لیچونه پیدا کولو دپاره ښه طریقه دا ده۔ چه هغه متصادم عناصر (خپلو کښې ناتګید ونکی عناصر) د ورانډې کړې شي۔ چه د کمال (CLIMAX) پړ مرحله به پو بل ته راځي۔ او انجام به تر دې نه جوړیږي چه تصادم په کردارونو کښې وي۔ نو د داسې کردارونو چه وړاندې به برې بیاموي۔ پیژندګلو شروع کښې پکار ده۔ او که دغه تصادم د هیرو په ذهن کښې وي۔ نو د هغې اوصافو پیش کولو ته د دیر پام د کړې شي۔ چه روستو به غلبه بیاموي۔ په رویداد کښې د داسې کردار یاد دلچسپئ سامان ظاهرول چه وړاندې نه ئې اشارات یا نخښې موجود نه وي، ډیره بې خوندي پیدا کوي۔

## د ډرامې د پلاټ کمال :-

دا ضروري نه ده چه تر یا منتهیٰ (CLIMAX) ډیره وخته د متضادو عناصرو یا د نه ټکید ونکي څیزونو خپله کښې تصادم پاتې شي۔ د ډرامې رودداد مخ په وړاندې ځي۔ او داسې ځائې ته ورسي چه هلته به توله کیږي۔ او توازن ئې نه پاتې کیږي۔ لازمي ده چه په داسې موقع حالات بدل شي۔ او واقعات نوې رُخ اختیار کړي۔ د دغه مقام ته د کمال یا منتهیٰ نه علاوه د تنزل ځائې هم ویلې شي۔ د دغه ځائې د تیرو شوو واقعاتو او حالاتو فطري او منطقي نتیجې را ولاړیږي۔ کله نا کله داسې

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

هم کیږی۔ چه دا حالات په اجتماعی ډول یوه واقعه کښے ځائے کړے شی۔ د ځنو لیکوالو دا خیال د ے۔ چه د کمال د غه ځائے دِ زیات نه زیات وخت واخلی۔ عموماً د پلاټ په مینځ کښے د غه ځائے راځی۔ د شکسپیر په ډرامو کښے عموماً د کمال د غه ځائے د دریم باب په آخر کښے یا د څلورم باب په سر کښے راځی۔

## تنزّل (FALLING ACTION) :-

دکمال نه پس ډرامه په هغه لور روانه شی۔ چه تصادم ئے د انجام لټون کوی۔ دغه هغه ځائے دی۔ چه د ټولو کړانو حل راپیدا کیږی۔ او رو رو د دے سوال جواب خپله څرګند یږی۔ چه آیا د دے ډرامے انجام به خه دی۔ غم که ښادی۔ د لوړ پلاټ دلوبے یا د زوروړے ډرامے انجام ته بیړه وی۔"[۱]

په المیه کښے هغه عناصر رو رو ورک شی۔ کوم چه د مصیبتونو د لاره خرندان وی۔ او مصیبتونه او کړانے ئے حصارے کړے وی۔ نتیجه ئے دا وی چه بربادی تباهی او غم خپله لار صفا ادوینی۔ او راخلاص شی نو انجام غمناک شی۔ بل خوا په طربیه کښے د ټولو کړانو او خصوصاً

---

[۱] جی۔ پی۔ بیکر۔ "The play with a strong plot or Powerful drama demands the quicker ending."

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

د غلط فهميو او گمانونو بنديزونه ختم شي. د کومو په وجه
چه هيرو يا هيروئن سختې تېرې وي. او بيا خوشحاله او روښنه
مستقبل ترې ونه زيږي. د تنزّل دا مرحله هغه ځائ ته
وائي، چه تماشګير د تېرو واقعاتو په نسبت په دغه ځائ
کښې ډير خوند محسوس کړي. ولې چه د غلطئ د پلاټ د مخه
پرده پورته کيدو ونکي دي. او د حقيقت په څرګنديدو
کښې ډير لږ وخت پاتې وي. د ډراما نګار د پاره دلته دا
ګرانه وي. چه څنګه د عمل خوند هم هغه شان پاتې کيږي.
څنګه چه تماشګير غواړي. او بيا د حل دغه موقعه په
لنډو ټکو کښې خلاصه کړي. ضروري ده. چه ليکوال کښې
د دا صلاحيت وي. چه په ضروري مواد ئې وس بر
کيدې شي. او په لږو ټکو کښې د ډير مطلب خبره کولے
شي. د شکسپيئر په ډرامو کښې د دې ښه مثالونه شته.
د پښتو ډرامو په ليکوالو کښې حمزه، سمندر او الين له
رحمان دا صلاحيت لري.

**انجام** :- دا هغه ځائ وي، چه د تکميل
(CONCLUSION) او اختتام نخښې څرګندې شي. د ځنې
نقادانو دا خيال دے. چه ډراما او افسانه خود ژوند
عکاسي کوي. ليکاره ده چه دا د ژوند غوندې وي. او په
ژوند کښې څه داسې ځائ نه شته او نه راځي، چه سړے

پر دَ انجام گمان ؤکړي ـ د انجام هره موقعه کښې د نوي عمل
څنګه نا څنګه نخښې پېتې وي ـ

دا خبره ترڅه حده صحيح ده ـ ولې بيا هم هغه واقعات
او حالات چه د ډرامې په ډول پېش کولے شي ـ لکه څنګه
چه ابتدا لري ـ بکار ده چه انجام ئې هم وي ـ ډرامه نګار
د ژوند د دے اؤبده زنځير نه يو څو کړئ بيلې کړي ـ د دے
کښې هيڅ شک نشته ـ چه اصلي ژوند کښې حالات چرے
پوره نه وي ـ د ژوند هرے واقعې د زوستو لحظه پسې موند
کښې د نوي واقعې تيغ راټوکيږي ـ ولې ليکوال ته کم نه کم
دومره حق خوشته چه هغه دغه واقعه چه پېش کول ئې
غواړي ـ د شروع او د انجام پولے وټاکي ـ ځکه چه دا د
ادب خاصه او صفت دے ـ مونږ د ژوند په هر ذکر
کښې د يوے خاصے واقعې نه څه نا څه نتيجې او عبرت اخلو ـ
او دغه شان يو کار شروع کوو هم ـ او بيائې په خپل
خيال ختموو هم ـ نو ځکه که د ډرامے ابتدا او انجام وټاکلے
شي ـ نو څه نامناسبه نه ده ـ ارسطو په لنډو ټکو کښې
څه د مطلب خبره کړي ده ـ" مونږ د ټريجيډي دا سے تعريف
کړے دے ـ چه هغه د يو دا سے عمل نقل (پېښې) وي ـ
چه کوم پوره او مکمل وي ـ او يو خاص عظمت هم لري ـ
ځکه چه دا کيدے شي چه يو شے پوره او سالم خو وي ـ
ولے خاص عظمت نه لري ـ مکمل نه څما مطلب (دا) دے ـ

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

چه په هغې کښې اغاز (اولنۍ حصه) مینځ (مینځنۍ حصه) او انجام (روستنۍ حصه) دی . په اغاز کښې دا فرض کول ضروري نه دي . چه د دې نه مخکښې هم څه پېښ شوی وو . خود هغې نه روستو څه ناڅه راپیښیدل ضروري وي . د دې نه برخلاف انجام هغه دے . چه په هغې کښې دا فرض کولے شي . چه د دې نه مخکښې څه واقعه لازمًا یا غالبًا پېښه شوې وه . خو د هغې نه روستو د څه (واقعې) پیښیدلو حاجت نشته . مینځ هغه دے . چه په کښې دا فرض کولے شي . چه د دې نه مخکښې څه پېښ شوي دي . او روستو به ترینه څه نور څه پیښیږي.» ؏

دا لیئے انجام غمناک او د طربیئے انجام خوشحالی ښودلے شي . په میلو ډراما کښې پلاټ کښې زیاته برخه دغم وي .

لنډه دا چه انجام هر څه وي . چه د هغې په راوتو (حاصلولو) د منطقي اصولو نه کار اخستے شوے وي . صحنه انجام چه د توقع نه خلاف ښکاره شي یاد تیرو واقعاتو سره سمون نه خوري . تماشکیر به اله اسانه نه مني . په زړو ډرامو کښې به دغه خارجي توتونه پیریان ، دیوان ، دیوتا ګان وغیره شاملولے شو . چه انجام کښې به ئے کار کولو .

دا انسان به ورانډ بے شمیره اتفاقات (CASUALTIES) شته . د دغه اتفاقاتو په بنا انجام به مختلفوطریقو پیش کیدے شي . لکه د بے ګناه کس د پهانسۍ په عین موقع دا صلي

---

؏ کتاب الشعر ص ۱۵ : ترجمه مولانا محمد اسرائیل صاحب

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

قاتل رار سیدل، یاٸے ورکړ شوی وصیت نامه ترلاسو کیدل، په خزانه اوریدل وغیره۔ د دے قسم انجام په انساني دماغ کښے فوراً تغیر او بدلون راولي۔ و لے سره د دے هم قبلولے شي۔

**د ډرامے په حقله** په صنعتونو کښے یو صنعت دے یوځونورنے خبرے۔ چه ایهام یادیږي۔ د ایهام معنیٰ ده، د اسے ټکے استعمالول چه دوه معنے لري۔ یوه قریبه بله بیده۔ و لے د قریبے معنے په ځاٸے ترینه بعیده معنی مراد اخستے شي۔ انګریزي ژبه کښے د دے ته IRONY واٸي۔ چه د خپل مطلب د بیانولو دپاره د اسے ژبه او ټکي استعمال کړے شي۔ چه اوریدونکي یا لوستونکي ترینه باطني معنیٰ مراد واخلي۔ او متکلم ٸے د ظاهري معنے په ځاٸے استعمال کړي۔ ډرامائي ایهام (DRAMATIC IRONY) نه غرض د یو ے خبرے یا عمل د دواړو خواو کښے تضاد وي۔ د دے تضاد، نانګي ډراما کښے هله ښکاره شي چه په تماشګیرو او کردارونو کښے اختلاف څرګند شي څه وخت چه یو کردار د اسے خبره یا کارکوي۔ چه د دے او د دهٔ ملګوري ٸے د حقیقت نه خبر نه وي۔ و لے تماشګیر پرے پوهه شي۔ دغه ډرامائي ایهام دوه رنګه وي۔ واقعاتي الهام: چه د حالاتو او موقعو نه تماشګیر خوخبر وي، و لے کردار ترینه وي خبر۔ کله داسے هم وشي چه د کردارونو غوندې تماشګیر هم د اصلي حالاتو نه بے خبره پاتے شي۔ د شکسپیٸر په HENRY 5th کښے د دے

ښکلے مثال شته چې کردارونه داګنړي چې د بادشاه خلاف سازش نه څوک خبرنه دی۔ ولے تماشګیرو ته دِ خبر شي چې بادشاه ته دا راز معلوم وو۔ دوېم قسم ایهام لفظي بللے شي۔ کله ناکله یو کردار داسے خبره کوی چې ظاهراً خو د هغه ماحول سره سمون خوري۔ ولے تماشګیر ترِ نه بل څه مطلب واخلي۔ هغه مطلب چې کله ناکله ترے نه دنړنکے ځیر نه وی۔ د شکسپیئر په TWELFTH NIGHT او AS YOU LIKE IT کښے د هیروئن د سړو جامے اغوستل او دا ښودل چې تماشګیر د اصل خبرے نه خبر نه دی۔ او د نورو جینک سره خبرے کوی۔ تماشګیرو ته ډیر خوند ورکړي۔ لفظي ایهام کله کله یو ټکے یا یوه جمله کښے هم کیدے شي۔

په ډرامه کښے څنو ځایونو کښے حیرانتیا پیدا کول هم منع دی۔ څه وخت چې ډرامه نګار پلاټ جوړوی۔ نو هغه د تماشګیرو ته د څنو کردارونو واقعاتو په حقله تفصیلات نه پیش کوی۔ بیا یے ساتی او چې په سټیج ښکاره شي۔ نو داسے معلومیږی، چې لکه غیبي قوت وی۔ ځکه ورته خلق حیرانیږی۔ د دے وجه دا وی چې ډراما نګار څه عمل پټ ساتل غواړي۔ او څه ظاهرول غواړي۔ کله ناکله د تماشګیرو یقین پرِ د وخته نه وشی ۔ او سر کښے هډو د سترو ګوتونو انکشاف وکړی۔ او هغه داګنړي چې تماشګیرو

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

ته به لویه خوند ورکړي. اصل کښې ډراما کښې مسئلې، راز او نور د حیرانتیا عناصر لوی مقام لري. ځکه چې دا د تماشګیرو پام ډرامې ته را اړوي. شکسپیر په WINTER'S TALE کښې د حیرانتیا ښه مثال موجود دے.

یوه ډرامه کښې لوړتیا او عظمت بیا خصوصاً په المیه کښې آفاقیت (UNIVERSALITY) پیدا کولو د پاره څو څیزونه لازمي دي. اول د ډرامې د پاره هیرو خوښول. لکه ارسطو چې لیکي " ډیر نامتو او خوشحال دِ وي. په تیرو زمانو کښې به د هیرو شاهانه حیثیت وو. ځکه چې د شاهۍ دور وو. د اولس قسمتونه د بادشاه د کامیابۍ او خوشحالۍ سره تړلي وو. د شاهي حیثیت هیرو په ښکاریدو به په سټیج داسې فضا جوړه شوه. چې د عامو کردارونو نه به بل شان وه. تلل او راتلل به ئے د نورو نه ځانته او خاص وو. د هغه په زوال به د تماشګیرو په زړونو کښې رحم درد را پیدا شو. د هیرو زوال د قوم زوال ګڼلے شو. رو رو د شاهۍ دور ختمیدو. د الزبتهـ په زمانه کښې د غه شے نور هم کم شو. او په نننی دور کښې خو د شاهۍ حیثیت هیرو ته هډو پوره پوره پام نشي ورکولے. ورائډ به په ډرامه کښې د افاقیت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

(UNIVERSALITY) پېیں اکولو د پاره فوق الفطرت عناصر په ډرامو کښې ورکړی شولے شو۔ چه انساني قوت به ئے مقابله نشوه کولے۔ خصوصاً په المیه ؤ کښې به دا دپاکو روحونو په شکل کښې راتلل۔ د وینو جام کښې غیبي شاه پېری او درس عبرت کښې غیبي فرشتې د دے قسم کردارونه دی۔ د الزبتهه په زمانه کښې هم فوق الفطرت عناصر ډرامو کښې ورکړی ولے شو۔ تماشکیرو به داسے مخلوق ته په غور کتل۔ د قسمت سره مقابله هم په دے لړ کښې راځی۔

## ریډیائی ډرامه :-

دَ ریډیائی ډرامے دلیک په وخت د لیکوال مجبوریٔ نورے هم سیوا شی۔ ځکه چه یو طرف ته خو وخت لږ وی۔ او بل طرف ته دا سے فن پاره ریډیائی چېپوته سپارل وی۔ چه د اوریدونکو ئے په خالی اوریدلو سود وشی۔ او د کتو حاجت ئے پیښ نشی۔

په ریډیائی ډرامه کښې ړومبے ځېز کردارونه دی۔ د پلاټ جوړولو په وخت د دے خبرے خیال ساتل پکار وی۔ چه کردارونه کم نه کم وی۔ ولے چه د ریډیائی ډرامے زیات نه زیات وخت ګهنټه کم نه کم لس یا پنځلس منټه وی۔ د کردارونو ګڼے د اوریدونکو سره پیژند ګلو

کښې لوئې لاس کوی. هغه داسې چه د لوړ د کردارونو خبرې او اوازونه خو آوریدونکی پیژندې شی. د لې د زیاتو کردارونو په خبرو او اوازونه پوهیدل او بیائې یاد ساتل گران شی.

په ریډیائی ډرامه کښې د تأثر د وحدت او یو والی پیدا کولو او بیا ددې قائم ساتلو د پاره ضروری ده. چه بدلیدونکی پرکوټه او ننداره دِ خپلو کښې لوئې تړون او نسبت لری. لکه د سټیج د ډرامې دِ ریډیائی ډرامه کښې هم دَ شروع، میځ ( CLIMAX ) او انجام ( END ) خاص خیال ساتلې شوې وی.

د ریډیائی ډرامې په کامیابولو کښې د پیش کوونکی لوئې لاس وی. بکار ده چه ډرامه په داسې زړه راښکونکی انداز کښې اوریدونکو ته د ریډیائی چپو په ذریعه واوروله شی. چه هغوئ داسې محسوس کړی. لکه چه واقعی د هغوئ د سترګو په وړاندې ننداره بدلیږی. او کردارونه ځی راځی. او بیا داسې چه د هرې خبرې او هرې ننداره سره د اوریدو د شوق سیوا شی. چه اوس به څه کیږی. څه به وئیلې شی؟ ـــ دا هغه خائې دې چه ریډیائی ډرامه د سټیج د ډرامې په نسبت نوره هم په گرانو لاره ورله کړی. د سټیج په ډرامه کښې خولیدونکی هرڅه دیخ

ګوری اوري. څهٔ ناڅهٔ طبع تسلی ئې پرې کیږي. وائی "شنیده کے بود مانند دیده". په ریډیائي ډرامو کښې دوئ صرف په اوریدو صبر کول، چه دا هرڅه آورۍ وُمنئ. چه داسې شوي دي یا کیږي. هغوئ ته څه معلوم وي. چه د سټوډیو په څلور ګوټیزه کوټه کښې څوکسان د کاغذونو نه دا هرڅه اَوَروي. دلته خبره د ډرامې د معیار او پیشکش ده. که ډرامه ښه وي. اوریدونکی ته خوند ورکړي، خوښه په ښه. ګنې نو هغه په دې مجبور نه دے چه پینبور یا د کولئ نه دِ ډرامې آوري. نورڅه نه. هغه په خپله خوښه بل ځائ هم لګولے شي. ځائ لاس ترلی نه وی. او نه ورته لکه د سټیج د ډرامې یا د سنیما ټکټ واپس کول پریوځي. اوریدونکے چه ریډیو لګوی. نو د وخت تیرَوُلو او یا هم غلطولو د پاره. هغه به هغه څه اَوُري. چه د هغهٔ د معیار وی. ګنې نو د خپلې خوښې او د خپل معیار څه اوریدلو په غرض به هغه هیچرے د ریډیو سټن په ځائے وُنه دروی. د ریډیو سټن به تر هغې ناقلاره دی. ترکومې چه اوُریدونکی د خپلې خوښې د څیز په اَوُریدو قرار نه وی بیاموندے.

"په آوازونو باندِ د مختلفو کردارونو انفرادیت

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)

تاثمول بیا ډرامې له د صوتي اثراتو په ذريعه مخصوص فضا ورکول، موزونې او زړه راښکونکي مکالمې د تند نه تند ايکشن (عمل) او په يو ډګر په وړاندې تلونکے پلاټ ډرامه نوليس او پروډيوسر د آورېدونکي په توجه راښيولو کښې بريالے کوي ـــ د ريډيو ډرامې په ليکوال دا پابندي هم ده دي. چې د هغۀ په ډرامه کښې دِ زيات رومانيت او تجربوب نه وي. ځکه چې ريډيو نن پرون د کورنۍ ژوند يو اهم جزو ګرزيدلے دے. د ترقي پسندے نه ترقي پسندے او د قدامت پسندے نه قدامت پسندے کورنۍ کښې ريډيو موجود وي ـــ د نشرياتو محکمے والکدار د ټولو ټولو اورېدونکو د عقائدو او اخلاقي معيار خيال ساتي. بايد چې ريډيو ډرامه داسے وي چې په يو اوسط درجه کورنۍ کښې رور خور او پلار مور په شريکه اورېدے شي''۔ [1]

په ريډيائي ډراما کښې درے څيزونو ته خاص پام ېکار دے. يو پلاټ دويم کردارونه او دريم نقطه نګاه. يعني د ډرامې د ليک مقصد. که چرے يو ليکوال په دغو دريو څيزو کښې پاتے رانشي. او پيشکار او صداکاران ئے مرسته وکړي. نو بے دريغه به د

[1] ډرامه د فن په لحاظ: اياز داؤدزے۔

هغهٔ د غه فن پاره کامیابیږي۔

**په ریډیائي ډرامه :-** د ټولو نه اول خو د لیکوال د پاره د موضوع لټون ګران وي۔ د لے ځه رخت چه په ګڼرو موضوعاتو کښې یوه موضوع لټوي یا ئے خوښوي۔ نو د خو ښوولو ښلپس لپکار ده، چې د موضوع د سادهٔ والي صداقت او حقیقت خیال دِ وُساتلے شي۔ او دا دِ وُکتے شي۔ چه دَ ژوند نه اخستې شوې دا موضوع به په ژوند یا ژوندې ځه او څنګه اثر کوي۔ کردارونه دِ دَ ژوندې کردارونو چه کوم زمونږ په وړاندې ګرځي، هُوبهُو او ریلیټبیني نمونه وي۔ خبرے اترے دِ دَ عامو خلقو په شان وي۔ او ځانته والے، انفرادیت دِ په کردارونو کښې ضا ضرور وي۔

د ډرامے موضوع دِ دَ واقعاتو، کردارونو او ننداره په ذریعه ورسره ورسره واضحه کولے شي۔ چه د ختمیدو په رخت یعنې انجام کښې او ریدونکي د موضوع په حقله هیڅ قسم کے محسوس نه کړي۔ د دے کښې هیڅ شک نشته چه ریډیائي ډرامه کښې زیاتے نه زیاتے لس اتهٔ او کم نه کم دوه یا درے ننداره ذي۔ د لے بیا هم پکار ده چه دا سے ننداره یا نور ګڼر خیزونه خپلو کښې دا سے تړلي وي۔ چه د ډرامے

د تأثر په یو والي او وحدت کښې پوتې قدېز فرق راشي د ژبې په حقله دَ ډرامې لیکوال او بیا خصوصًا دَ ریډیائي ډرامې لیکوال ته ډیرې ګرانې پیښیږي. دلته چه وخت لږ وي او خبرې ډیرې. اوس دا دَ هغې پوهې پورې ده. چه د دا سې اختصار ته کار واخلي چه نه سیخ دُ سوزي او نه کباب. بې ځایه تکي یا نقرې په پلاټ ډیر بد اثر غورزَ وي. بلکه دا چه" دغسې ریډیائي ډرامې د کامیابئ راز د هغې په تسلسل کښې پټ دے. که په دے قیصه کښې چرته بورے ارخیزې قیصې شاملې شي. نو تأثر یې کم شي. ځکه چه په ریډیائي ډرامو کښې د ناول امتزاج شامل شي. دغه د ناول امتزاج د سټیج او فلم ډرامو د پاره ښه نه دے. خو څو مره نقصان چه ریډیائي ډرامې ته ورکوي. هومره نورو ته نه ورکوي".۱

**فیچر** :- په انګریزي ژبه کښې دیلي بدل او خد و خال ته فیچر وائي. دا هم د ریډیائي ډرامې یو قسم دے. کیدے شي چه د ډرامې د دے قسم فیچر ځکه وائي. چه دا د مکملې ډرامې په ځائے د هغې خد و خال او نخښې څرګندَ وي. او عکاسي یې کوي. فیچر د ډرامې

---

۱ حمزه شنواري: فنن مرداني ډرامه نمبر

په شکل کښې يوه آسانه او لنډه وسيله ده. چه انسانی ذهن کښې پرې د يوې واقعې خاکه تيارولې شي. دا هغه لنډې اشارې وی. چې د پوهې خاوند يا مېرمن ته ترينه د يوې واقعې په حقله ډير څه معلوميدې شي." فيچر هغه څيز دې. چه د يو څيز په حقله پوره پوره اخښې ورکړي. او دا اخښې د آواز په ذريعه اورولې شي. د غوږونو په ذريعه اوريدلې شي. او د زړهٔ په سترګو ليدلې شي.[1]

---

[1] سمندر خان سمندر: قند ډرامه نمبر.

Pashto Academy (http://pashtoacademy.uop.edu.pk)